







# په افغانستان کې حکومتولۍ ته یوه کتنه

آریه نجات

وری ۱۳۹۳

۱۲ کاله
باکیفیته څېړنه

څېړنې د ښه افغانستان لپاره
AREU

همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد
د تحلیلي خپرونو لړۍ

# په افغانستان کې حکومتولۍ ته یوه کتنه

آریه نجات
وری ۱۳۹۳

د پښتۍ انځور (له پاسه ښکتې) خوا ته د افغانستان بیرغ، چې د ولسمشرۍ ماڼۍ پر سر رپېږي؛ د اساسي قانون په لویه جرګه کې ولسي استازي؛ یوه افغانه مېرمن د ۲۰۰۹ کال په ولسمشرۍ ټاکنو کې خپله رایه کاروي؛ ولسمشر کرزی د پارلمان استازو ته په وینا کې

ژباړن: خادم احمد حقیقی

د خپرونی کود: ۱۴۰۲P

© ۱۳۹۳ د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد سره ټینې حقوق محفوظ دي. کیدای شي دغه خپرونه تکثیر او بیا چاپ شی او یا دبیا لاسرسی په دستګاه کې زېرمه او یا په هره بڼه او هره وسیله لکه: برقي ضبطی او نورو وسایلو سره انتقال شی، په دې شرط چې د لیکوال او د افغانستان د څېړنی او ارزونی د واحد د مشخصاتو یادونه په کې وشی. د هغې پلورل او پیرودل او له هغې څخه هر ډول سوداګریزه استفاده منع ده. که چیرې دغه خپرونه بیا خپره او یا د بریښنایي بڼه په واک کې ورکړل شی، باید دافغانستان د څېړنې او ارزونې واحد انترنتی کرښه www.areu.org.af په هغه کې چاپ او یا په انترنتی صفحه ولیکل شي. د هر ډول ګټې اخیستنی لپاره چې پورته یې یادونه ده شوې باید مخکی له مخکې د خپرونکي دافغانستان د څېړنې او ارزونې واحد لیکلې اجازه له انټرنیټی سایټ www.areu.org.af او یا له ۷۹۹ ۲۰۸۵۴۸ (۰) ۰۰۹۳ شمېرې سره د تماس له لارې ترلاسه کړی

## د لیکوال په اړه

آریه نجات، د پالیسي جوړونې، پلان جوړونې، حکومتولۍ، جنډر او د رهبرۍ د ظرفیتونو د پراختیا په برخه کې کارپوهه ده، چې د افغانستان د سیمه ییزې حکومتولۍ د لومړنۍ پالیسۍ د پرمختیا له طرحې (۲۰۱۰ز.) او په کاري چاپېریال کې د جنسي ضد تېریو پالیسۍ سره (۲۰۱۳ز.)، چې په ټولو سیمه ییزو ادارو کې د تطبیق وړ ده، پراخه مرسته کړې ده. نوموړې د تطبیقي رهبرۍ په برخه کې زده کړې کړې او دوه ځله یې د هارورډ کیندي په دولتي پوهنتون کې د استاد په توګه دنده ترسره کړې. نوموړې، چې فولبرایت او ماري بویس بورسیې یې ترلاسه کړې، د عامه ادارې په برخه کې د هارورډ کینډي له دولتي ښوونځي څخه د ماسترۍ سند ترلاسه کړی او همدارنګه د ماسترۍ بل سند یې په نړیوالو اړیکو کې او دوه نور لیسانس دیپلومونه یې په سیاسي علومو او حقوقو کې د پنجاب له قاید اعظم پوهنتون څخه ترلاسه کړي دي. له هغې سره کېدای شي، د هغې د شخصي ویب پاڼې او ایمیل له لارې اړیکې ټینګ شي: www.aanijat.blogspot.com /aarya.nijat@post.harvard.edu

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې دي، او همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه، د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څېړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې دترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتیا د پیاوړي کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو ،غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې بنسټ (AREU) په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړیوالې مرستندویې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. دغه بنسټ د مشرتابه یو بورد لري چې د مرستندویوادارو ،لکه: ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخیزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري. AREU اوسمهال د خپلو مرستو ډېره برخه د فیلنینډ له سفارته، د سویډن د بهرنۍ پرمختیا د مرستندویه ادارې (SIDA) او د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سویس له ادارې (SDC) څخه تر لاسه کوي.

په ۲۰۱۴ کال کې د دغه بنسټ د ځانګړو پروژو ملاتړ د اروپایي کمېسیون (EC)، د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سوېس ادارې (SDC)، د نړیوال پرمختګ انستیټیوټ (ODI)، د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې (UNDP)، نړیوال بانک، د منځنۍ اسیا پوهنتون (UCA) ، د امریکا د سولې انستیټیوټ (USIP)، د نړیوالې همکارۍ لپاره الماني ټولنې (GmbH) ، (GIZ) او د فیلینډ د سفارت لخوا تر سره کېږي.

# د سر خبرې

حکومتي اصلاحات، له شک پرته هغه مهم عناصر دي، چې تر سیاسي لېږد (**۲۰۱۴-۲۰۱۵**ز.) وروسته او د تحول د لسیزې په بهیر (**۲۰۱۵ – ۲۰۲۴**) کې د افغانستان راتلونکې تګلاره ټاکي. دې ته په پام سره، په دې کې هېڅ شک نه شته، چې دغه څېړنه به د کورنیو او بهرنیو پالیسي جوړونکو لپاره یوه ارزښتمنه سرچینه وي.

ما له هغو ګڼو او بېلابېلو بحثونو څخه چې په افغانستان کې د حکومتولۍ موضوع په تړاو له محققې آریه نجات سره درلودل، ډېر څه مې ترلاسه کړل، او زه له دې نه مننه او د دې ستاینه کوم، چې په دغه څېړنه کې یې ډېرې هر اړخیزې طرحې او تحلیلونه وړاندې کړي دي. زه یو ځل بیا په دې برخه کې د دې له هڅو څخه مننه کوم، او همدا راز د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې له هغو ټولو همکارانو او کارکوونکو څخه قدرداني کوم، چې د دغې څېړنې په پروسس او چاپ کې یې برخه اخیستې ده. په همدې توګه، د جرمني د نړیوالو همکاریو له ټولنې (GIZ) څخه هم مننه کوم، چې په دغې څېړنه کې یې ونډه واخیسته او د پالیسۍ په اړه څېړنو او پرمختیاوو په تړاو د جرمني حکومت لا زیاتو همکاریو ته سترګې په لار یو.

د همداسې څېړنو او د خپلو شریکانو په ارزښتمنو مرستو سره، موږ ټول د افغانستان د څېړنې او ارزونې په اداره کې د یو ښه افغانستان لپاره، د څېړنو د ترسره کېدو، وړاندې کېدو او خپرېدو په برخه کې خپلو هڅو ته دوام ورکوو.



د افغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد مشر، نادر نادري

# د موضوعاتو لیکلړ

لنډیز ..... ۲
۱. سریزه ..... ۴
۱.۱ کړنلاره ..... ۵
۲. د روان تولیز وضعیت تحلیل ..... ۷
۲.۱ د افغانستان شرایط ..... ۷
۲.۲ د افغانستان حکومت ..... ۹
۳. حقوقي چوکاټ ته یوه لنډه کتنه ..... ۱۲
۳.۱ هر اړخیز قوانین ..... ۱۲
۳.۲ اداره ..... ۱۳
۳.۳ عدلي څانګه ..... ۱۶
۳.۴ سیاسي او مدني مشارکت ..... ۷۱
۴. د ادارو د جوړښت کلي طرحه ..... ۹۱
۴.۱ دولت جمهوري ریاست ..... ۱۹
۴.۲ اجراییه قوه ..... ۱۹
۴.۲.۱ د ملي اداره دستګاه (ملي بیروکراسي) ..... ۱۹
۴.۲.۲ محلي یا سیمه ییز حکومتونه ..... ۲۰
۴.۳ عدلي څانګه ..... ۲۰
۴.۳.۱ لویه څارنوالي ..... ۲۱
۴.۳.۲ قضاییه قوه: ستره محکمه، استیناف او ابتداییه محکمې ..... ۲۱
۴.۳.۳ دعدلیې وزارت ..... ۲۱
۴.۴ مقننه قوه ..... ۲۲
۴.۵ غیر دولتی موسسې ..... ۲۲
۴.۶ سیاسي ګوندونه او ټاکنیز میکانیزم ..... ۲۳
۴.۷ دودیزه حکومتولۍ ..... ۲۳
۵. د پالیسۍ چوکاټ او د اجرااتو وضعیت ته یوه کتنه ..... ۲۴
۵.۱ د بن پروسه ۲۰۰۱ ز. ..... ۲۴
۵.۲ د افغانستان تړون لیک (۲۰۰۶) ..... ۲۴
۵.۲.۱ د افغان ښځو لپاره د ملي اقدام پلان (NAPWA) (۲۰۰۷ – ۲۰۱۷) ..... ۲۴
۵.۳ د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ ANDS (۲۰۰۸) ..... ۲۵
۵.۳.۱ د سیمه ییزې حکومتولۍ کړنلاره (SNGP) (۲۰۱۰) ..... ۲۶
۵.۴ د ملي لومړیتوبونو پلان – کلستر حکومتولۍ (NPPs) (۲۰۱۰ – ۲۰۱۳) ..... ۲۶
۵.۴.۱ د لومړي ملي لومړیتوب ټاکل (NPP۱): مالي او اقتصادي اصلاحات – د عامه مالي چارو مدیریت (۲۰۱۰ جولای) ..... ۲۷
۵.۴.۲ NPP۳: ګټور او اغېزمن دولت (۲۱۰۲ ز. جنوری) ..... ۲۷
۵.۴.۳ څلورم ملي لومړیتوب NPP۴ ..... ۲۸
۵.۴.۴ پنځم ملي لومړیتوب NPP۵: قانون او عدالت د ټولو لپاره (۲۰۱۳ ز. جون) ..... ۲۸
۵.۴.۵ شپږم ملي لومړیتوب NPP۶: د بشر حقوقو او مدني مسوولیتونه (۲۰۱۱ ز. کال اکتوبر) ..... ۲۸
۶. پرمختیاوې او لاسته راوړنې – ۲۰۱۳ ..... ۲۹
۶.۱ په حقوقي برخه ..... ۲۹
۶.۲ د پالیسۍ په برخه کې ..... ۳۰
۶.۳ د اجرااتو په ډګر کې ..... ۳۰
۷. اړیکې، سره تړلي موضوعات او د ډونرانو اړوند حمایتي ماموریت ..... ۳۲
۷.۱ د حکومت او محکمو ترمنځ اړیکې ..... ۳۲
۷.۲ مرتبطې یا سره تړلي مسلې ..... ۳۳

۷.۲.۱ د جنډر برابروالید افغانستان د ښځو لپاره د ملي اقدام پلانونه (NAPWA)؛ له جنډر سره د ملي لومړیتوبونو د ۳ پلان (NPP۳) او د توکیو د متقابل ځواب وینې د چوکاټ تړاو (TMAF). ۳۳
۷.۲.۲ د فساد پر وړاندې خوځښت ۳۵
۷.۲.۳ د بودیجې لګول یا مصرف ۳۶
۷.۳ د اړوندو تمویلوونکو حمایتي ماموریت ۳۷
۸. پایله ۴۰
۸.۱ ننګونې ۴۰
۸.۲ وړاندیزونه ۴۵
مأخذ ۴۹

## انځورونه

د اساسي قانون په لویه جرګه کې د ولسي استازو ګډون ۱۲
ارګ، د ولسمشرۍ ماڼۍ ۱۹
ولسمشر حامد کرزي د ملي شورا غړو ته د وینا په حال ۲۲
یوه افغانه ښځه د ولسمشرۍ د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې خپله رایه کاروي عکس ۳۹

## نوملړ

| | |
|---|---|
| لويه جرګه | د ولسي استازو لويه غونډه |
| مشرانو جرګه | د ملي شورا هغه جرګه ده، چې غړي يې انتخابي او انتصابي دي. |
| مستوفيت | په ولايتونو کې د ماليې وزارت نمايندګي يا استازولي |
| تقنين | په عدليې وزارت پورې اړونده اداره ده، چې د قوانينو مسودې جوړوي. |
| تشکيل | اداري جوړښت. |
| ولسي جرګه | د قانون جوړونې جرګه ده، چې ټول غړي يې د ولس په مستقيمو رايو ټاکل کېږي. |

## لند نومونه

| | |
|---|---|
| AGO | لویه څارنوالي |
| AIBA | د افغانستان د مدافع وکیلانو خپلواکه ټولنه. |
| AIDA | د مدافع وکیلانو خپلواکه ټولنه. |
| AIHRC | د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمېسیون. |
| ANDS | د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي |
| ANP | افغان ملي پولیس |
| AWP | د کار کلنی پلان |
| CBR | د پایلو لپاره د ظرفیتونو رامنځته کول |
| CDC | ټولنیزه پراختیایي شورا |
| CEDAW | د ښځو پر وړاندې د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون |
| CSO | د مرکزي احصاییې اداره |
| DCC | د ولسوالۍ همغږۍ شورا |
| DDP | د ولسوالۍ پراختیایي پلان |
| DG | ولسوال |
| DPG | د والي مرستیال |
| ECC | د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون |
| EVAW | د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون |
| GDLCA | د سیمه ییزو شوراګانو د چارو عمومي اداره |
| GDMA | د ښاروالیو عمومي ریاست |
| GDP | ناخالص کورني تولیدات |
| HOO | د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ستراتیژۍ پر تطبیق د څار عالي اداره |
| IARCSC | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون |
| IDLG | د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره |
| IEC | د ټاکنو خپلواک کمېسیون |
| KII | له کلیدي شخص سره مرکه |
| LOTFA | د افغانستان لپاره د نظم او قانون وجهي صندوق |
| MAB | د ښاروالۍ مشورتي پلاوی یا شورا |

| | |
|---|---|
| MoE | د پوهنې وزارت |
| MoEC | د اقتصاد وزارت |
| MoF | د مالیې وزارت |
| MoHE | د لوړو زده کړو وزارت |
| MoJ | د عدلیې وزارت |
| MoI | د کورنیو چارو وزارت |
| MoIC | د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت |
| MoUD | د ښاري پراختیا وزارت |
| MoWA | د ښځو چارو وزارت |
| MRRD | د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت |
| NAO | د ملي تفتیش اداره |
| NAPWA | د افغانستان د ښځو لپاره د ملي اقدام پلان |
| NDS | د ملي امنیت ریاست |
| NGO | نادولتي سازمانونه |
| NGPAR | د راتلونکي نسل د عامه ادارې اصلاحات |
| NPP | د ملي لومړیتوبونو پلانونه |
| NSP | د ملي پیوستون پروګرام |
| OAA | د چارو ادارې دفتر |
| OHCHR | د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو د عالي کمېشنر دفتر |
| PAR | د عامه ادارې اصلاح |
| PFEML | د مالي چارو او عامه لګښتونو د اداره کولو قانون |
| PG | والي |
| PRT | د بیارغونې ولایتي ټیم |
| SNGP | د محلي حکومتولۍ پالیسي |
| SNTV | د نه انتقال وړ واحدې رایې سیستم |
| TMAF | د توکیو د متقابل ځواب ویلو چوکاټ |
| ToR | د دندو لایحه |

## لنډیز

په افغانستان کې دولتي اصلاحات یوه نوې پدیده نه ده، بلکې د افغانستان په عامه اداره کې د یو پیاوړي سیستم رامنځته کول، هغه اوږده لړۍ ده، چې د افغانستان دولت او نړیوالې ټولنې ترمنځ په دوامدارو، پیاوړو او همغږو همکاریو پورې تړلې دي. په افغانستان کې د دولتي اصلاحاتو پلي کول، د افغانستان د شرایطو په اړه سمپوهاوي ته اړتیا لري. د افغانستان جغرافیایي شرایط ډېر سخت دي، دلته قومي اختلافونه، مذهبي ناندرۍ، نارینه واکمنه ټولنه، ځوان نسل، د رهبرۍ بېلابېلې کړنلارې او د جګړو او لانجو دوام هغه څه دي، چې د دغو شرایطو یو روڼ انځور وړاندې کوي. پیاوړې نا رسمي فیوډالي او له پاسه ښکتې خوا ته د حکومتولۍ مکانیزم، هغه څه ډېر ننګوي، چې افغان دولت یې د اداري ریفورم تر عنوان لاندې وړاندې کوي؛ همدا راز دغه چاره د قانون پلي تابه او حاکمیت له ستونزو سره مخامخ کوي.

تر ۲۰۰۱ ز. کال وروسته د حقوقي اصلاحاتو په برخه کې د ځېنو لویدیځو سازمانونو هڅې، د اصلاحاتو او د دغو اصلاحاتو د بالقوې اجرا ترمنځ درزونه رامنځته کړي. د قانون جوړونې او اجرایي ظرفیتونو کمزورتیا، د اوسنیو قوانینو او مقرراتو پر سیستم، چې که اجرا شوې وای، پر حکومتولۍ یې موثرې اغیزې لرلې، او د باور په کچه کې یې لازم کموالی راوستی دی. که څه هم اساسي قانون د سیمه ییزو ادارو چارواکو ته د دې اجازه ورکوي، چې پلانونه، بودیجه بندي، مصارف او د تصمیم نیونې ظرفیت ولري، خو د مرکزي اداري له خوا د متمرکز سیستم د شتوالي په پایله کې له دغې چارې څخه په شدت سره مخنیوي کېږي، چې په پایله کې، په سیمه ییزو ادارو کې د اصلاحاتو د اجرا په لاره کې خنډ ګرځي.

نادولتي سازمانونه، چې د نړیوالې ټولنې له خوا یې ملاتړ کېږي، په خپلواکه توګه هڅه کوي، چې هغو سیمو ته، چې هلته د حکومت لاسرسۍ او کنټرول محدود دی، دولتي خدمتونه وړاندې کړي. له دې سره سره، چې دودیزې شوراګانې د دغه هېواد په پراخو کلیوالو سیمو کې د نظم او دسپلین لومړنۍ او ډېر د استعمال وړ مرجع ګڼل کېږي، خو د نړیوالو د ډېرې لږې پاملرنې او باور وړ ګرځېدلي دي؛ د نه لېږد وړ واحدې رایې (SNTV) سیستم له لارې د اعمال شویو محدودیتونو سره سره، سیاسي ګوندونو د شمېر او ظرفیتونو د پراختیا له اړخه وده کړې ده.

پر ۲۰۰۱ ز. کال د بن پروسه، د سیاست په چوکاټ کې د لومړنۍ کړۍ انځور ترسیم کړ، چې تر نن ورځې پورې دوام لري او د افغانستان د مثبتې او منفي پرمختیا د دواړو پر وړاندې مسووله ده. د وخت په تېرېدو سره، د سیاستونو او کړنلارو د اغېزمن او چټکې پلیتابه په بهیر کې ځنډ ترسترګو کېږي. په وروستیو کې د ملي لومړیتوبونو د پرمختیا پلان (NPP)، د توکیو د متقابلو ځواب ویلو چوکاټ (TMAF) شاخصونو ته د رسېدو لپاره په پام کې نیول شوي، چې د تحول په لسیزه کې د نړیوالو مرستو دوام تضمینوي.

افغانستان له ۲۰۰۱ کال را په دې خوا اوږد پړاوونه وهلي دي. خو افغانستان په دغو تېرو پړاوونو کې د کورنۍ ودې د ډېرو فرصتونو په درلودلو سره سره، یوازې د ۲۰۱۳ کال په بهیر کې په حقوقي، سیاست جوړونې او اجرایي ډګرونو کې یو شمېر لاسته راوړنې درلودې. لا هم ننګونې موجودې دي، چې د تحول لړۍ له ستونزو سره مخامخولای شي.

د عدلي څانګو او اداري ترمنځ د اړیکو نشتوالي، اوسمهال د ننګونو یوه ټولګه ده، په داسې حال کې، چې د کورني عملي اجماع او په اداره کې د اصلاح په تړاو د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د همداسې یوه اجماع نشتوالی له بلې خوا،په دې برخه کې متناقض لیدلوري وړاندې کوي. له اقتصادي او ټولنیز پلوه د ټولنې اغېزمن قشرونه لکه ښځې او ماشومان د دغو ننګونو فشار پر خپل ځان احساسوي. د قانون د پلیتابه کمزورې پروسه په ځانګړې توګه د جنسیتي بې عدالتۍ په برخه کې، هغه مصیبتونه دوه برابره کوي، چې د افغانستان د وګړو نیمايي برخه یې تر خپلو فشارونو لاندې راوستي، چې د دغه کاري ځواک د ظرفیتونو د ودې پرمخ خنډ ګرځي. ډېر سیاسي شعارونه سمبولیک دي، لکه د ښځو په تړاو، دغه مسله د ناکامو سازمانونو او ادارو د رامنځته کېدو لامل ګرځېدلی، د بېلګې په توګه د ښځو چارو وزارت او په دغه وزارت کې د جنسیت واحد، چې په تېرو دوولسو کلونو کې یې ونه شو کړای، چې په ټولنیزو جوړښتونو او په دغه ټولنه کې د نارینه وو د مطلق حاکمیت په سیستم او د ښځو د ثانوي وضعیت په برخه کې بدلونونه راولي. په دې توګه پراخ اداري فساد د قانون د پلیتابه پر مخ خنډ ګرځېدلی، چې له امله یې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالو په پېښو کې زیاتوالی راغلی دی.

ښځې د اداري فساد یوازینۍ قربانیانې نه دي، بلکې اداري فساد، د افغانستان د حکومتولۍ او د خدمتونو د وړاندې کېدو چارې یې ټکنې کړې او سازماني مشروعیت یې تر پوښتنې لاندې راوستي او په پای کې، هم د هېواد په دننه او هم بهر کې د افغانستان د هویت جزء ګرځېدلی دی. هغه څه، چې د یادونې وړ ده، عام خلک، دولتي چارواکي، خصوصي سکتور، مدني ټولنې، رسنۍ او همدا راز نړیوالو ډونرانو ټول د اداري فساد په اړه شکایت کوي. خو هېڅوک په ځانګړې توګه دولتي اړوندې اداري او د ولس ټاکل شوي استازي یو یې هم دې ته چمتو نه دي، چې د دغه وضعیت د کابو کولو په برخه کې د مسوولیت منلو احساس وکړي. د ملامتیو دوام، د یو ښه حکومتولۍ د رامنځته کېدو او پر اداري فساد او رشوت د خلکو د څارنیزې ونډې په تړاو، عام افغانان ناهیلي کړي دي.

پر فساد سربېره، د بودیجې د اجرااتو ټیټ او کمزوري ظرفیتونه، د ګټورو او اغېزمنو خدمتونو د وړاندې کېدو پر مخ خنډ ګرځېدلی دی. خو بیا هم د بودیجې د پلي کولو په برخه کې د پرمختیاوو د رامنځته کېدو سره سره، مرکزي بیروکراسی د سیمه ییزو ادارو د بودجې کمزورتیاوې په پام کې نه نیسي او هغوی په پروسه کې نه شاملوي. ستونزې د مالي ظرفیتونو کموالی څرګندوي، او دولت د دې پرځای، چې ښه حکومتولۍ او خلکو ته د خدمتونو د وړاندې کېدو په برخه کې پاملرنه وکړي، تر ډېره د سرچینو ویش یې د مدیریت خپله اصلي دنده ګرځولې ده.

د قانون جوړونې په برخه کې ستونزې تر دې هم زیاتې دی، دولتي اداري د دې پرځای، چې د یو واحد سیستم په توګه عمل وکړي، د متفرقو، مخالفو او بې اړیکو ادارو په شان څرګندېږي. په تخنیکي تصمیم نیونو کې د پیاوړي سیاسي مداخلې شتوالی، د ملکي خدمتونو داخلي اختلاف او پاشلتیا او ښاري متمرکز مضر اصلاحات هغه څه دي، چې د ښې حکومتولۍ د ننګونو د دوام لامل ګرځي.

په همدې حال کې دلته یو لړ فرصتونه لا هم شته، چې د څېړلو وړ دي. لومړنی پټ فرصت په دې برخه کې، چې کولی شي، د تحلیل شوي ستونزمن وضعیت ځایناستی شي، د ننګونو د تطبیقي ماهیت پېژندنه او درک دی، چې په ډاډ سره ویلی شو، که د کار له اسانتیا سره مرسته نه شي کولی، خو د سرچینو له ضیاع څخه په ډاډمنه توګه مخنیوي کوي. دویم فرصت، چې اوږدمهال ماهیت لري، له فساد سره مبارزه ده، دغه فرصت په لنډمهاله دوره کې د قانون پلی کیدا رانغاړي او په اوږدمهاله موده کې، دې ته محول کېږي، چې ټولنیز سازمانونه او سیاسي ګوندونه دې ته وهڅول شي، چې په دې برخه کې خپل انساني تعاوني مسوولیت په ښه توګه ادا کړي. درېیم فرصت په دې کې خلاصه کېږي، چې د تغییر په اړه لېوالتیا او پر وړاندې یې د مقاومت کچه تخمین شي، په ځانګړې توګه هغه عناصر درک او وپېژندل شي، چې له تغییر سره ملګرتیا نه کوي.

پر اقتصادي ودې د تمرکز زیاتوالی همدارنګه له کلیوالو خلکو او د حکومتولۍ له دودیزو جوړښتونو سره د تعامل او تحرک زیاتوالی، کولی شي، د ښې حکومتولۍ په برخه کې مرسته وکړي. د افغانستان د پیچلتیاوو او ستونزو دقیقه پېژندنه، د بودجې د ورکړې او د بودجې د څارنې په اړه جدي ژمنتیا، د یوې اوږدمهالې مودې لپاره د اصلاحاتو اجرا، د مدني ټولنې په برخه کې ظرفیت جوړونه، چې هم له خلکو سره ښه اړیکې وپالي او هم له دولت سره ملګرتیا ولري، ټولې هغې چارې دي، چې د حکومتولۍ په برخه کې له اصلاحاتو سره مرسته کوي. خو د افغانستان حکومتولي له کاغذه د عمل په ډګر کې په رښتینې بڼه پلی کول، تر دې زیات څه ته اړتیا لري. دا چې افغانستان په هغه لوري حرکت وکړي، چې نور په خپله خپل لومړیتوبونه وټاکي او په خپله هغه اسانتیاوې او امکانات برابر کړي، چې دغه اجراات سرته ورسوي، نو دغه چاره یوې پیاوړې سیاسي رهبرۍ او هغو ټولیزو چمتووالو ته اړتیا لري، چې د اصلاحاتو په پایله کې خپل یو څه شیان له لاسه ورکوي.

# ۱. سریزه

دغه څېړنه **د جرمني د پراختیایي همکاریو د ټولنې لپاره د لومړني راپور په توګه د اداري او عدلي طرحو په برخو کې په افغانستان کې د حکومتولۍ په تړاو یوه انتقادي بیاکتنه ده.** یاده څېړنه د افغانستان حکومت پر بنسټیزو عنصرونو لکه حقوقي او سیاسي چوکاټونو او په دې برخه کې پر وروستیو رامنځته شویو بدلونونو کتنه کوي، په دې اړه، پرتې ننګونې په ګوته او د پرمختګ لپاره مناسب وړاندیزونه وړاندې کوي.د دغې څېړنې، له **۲** تر **۵** څپرکي پورې، ربښتیني معلومات وړاندې شوي؛ او په ۱، **۲** او **۷** څپرکو کې د متن د تجزیې او شننې سربېره، اړوند او موجود فرصتونه او ننګونې تحلیلېږي. په دغه څېړنه کې لومړۍ هدف، د هغو کسانو لپاره د معلوماتو وړاندې کول دی، چې د افغانستان د پرمختیایي چارو په برخه کې کار کوي، خو په دې برخه کې یې معلومات محدود دي. همدارنګه دغه څېړنه په افغانستان کې د حکومتولۍ په برخه کې د هغو نو واردو کسانو لپاره په زړه پورې او د پام وړ معلومات وړاندې کوي، چې تازه په دې برخه کې یې ګام اخیستی.

یاده څېړنه په ټولیزه توګه، کله چې د افغانستان له ټولیز وضعیت څخه یو جامع لیدلوری وړاندې کوي، د پرمختیا پر څلورو کلیدي ځانګړتیاوو ټینګار کوي، چې هغه نړیوالتوب، په افغانستان کې د اصلاحاتو مخینه، د افغانستان په عامه ادارو کې اصلاحاتو ته کتنه (PAR) او هغه پیاوړي نارسمي او ناقانونه اړیکې دي، چې د افغانستان د عامه ادارې د اصلاحاتو بهیر یې اوږد، ستونزمن او ټکنی کړی دی. دغه څېړنه، په افغانستان کې د حکومتولۍ ځانګړنو ته په پام سره، د دغه هېواد د سختو شرایطو لکه: جغرافیایي، توکمیز، سیمه ییز، مذهبي، په ټولنه کې د نارینه وو واکمني، د رهبرۍ بېلابېلې کړنلارې، د لانجو دوام، په همدې حال، له پاسه ښکته خوا ته د پیاوړي نارسمي فیوډالي حکومتولی مکانیزم، چې د افغانستان د پرمختیا په برخه کې د افغانستان حکومت هڅې له ننګونې سره مخامخ کړي، یادونه کوي.

په دویم څپرکی، پر هغو کلیدي قانوني چوکاټونو ، چې د عدلي نظام او اداري ترمنځ پر اړیکو واکمن دي، په لنډه توګه بیاکتنه کېږي، چې په څلورو ځانګو کې قوانین تر بحث لاندې نیسي: عامه قوانین: (اساسي قانون او د دولت د بنسټیزو تشکیلاتو قانون)؛ اداري قوانین (د ملکي خدمتونو قانون، د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون، د کار قانون، د تدارکاتو قانون، د مالي او لګښتونو چارو د اداره کولو قانون، د سیمه ییزو ادارو قانون، د ښاروالیو قانون او د ولایتي شوراګانو قانون)؛ عدلي قوانین[1]: (د محکمو د تشکیل او واکونو قانون، د افغانستان د بشري حقوقو د خپلواک کمېسیون د تشکیل، واکونو او دندې قانون او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون) او د سیاسي او مدني مشارکت په تړاو: (د ټاکنو قانون، د سیاسي ګوندونو قانون، د ټولنیزو سازمانونو قانون، د نادولتي سازمانونو قانون او د رسنیو قانون).

دریم، څپرکی په ملي او سیمه ییزه کچه حکومتولي لکه: نادولتي سازمانونه او دودیزه حکومتولۍ په بر کې نیسي. څلورم څپرکی د سیاسي هراړخیزو بحثونو په لړ کې، د بن پروسې، د افغانستان موافقتنامه، د افغانستان د ملي پرمختیا استراتیژۍ او د ملي لومړیتوبونو پلانونه او همدارنګه د ښځو لپاره د افغانستان د ملي اقدام برنامه او د سیمه ییزو حکومتولۍ تګلارې په بر کې نیسي. همداراز په دې برخه کې د هرې یادې موضوع د اجرایي وضعیت په اړه هم یو لنډ راپور وړاندې شوی دی. په پنځم څپرکي کې د هغو لاسته راوړنو لنډ نوملړ وړاندې کېږي، چې د ۲۰۱۳ ز. په بهیر کې د قانون د پلیتابه او سیاسي اجراتو په اړه د افغانستان دولت د پرمختګ راپورونو او د نړیوالو ارزونو پر بنسټ چمتو شوی او شپږم څپرکی سربېره پر دې، چې د عدلي نظام او اداري ترمنځ قانوني او تشکیلاتي اړیکې څېړي، د افغانستان په اداره کې د مرتبطو مسلو لکه د جنسیتي برابرۍ، له فساد سره د مبارزې او دبودیجې د لګولو د هڅو پر څرنګوالي انتقادي کتنه کوي. دغه څپرکی همداراز په عدلي او دولتي برخو کې د یو شمېر لویو مرستندویو کړیو د ونډې ټولیز لید تر ارزونې لاندې نیسي.[2]

---

۱ مدني قانون او د جزا قانون د قوانینو په دغه چوکاټ کې د بحث د اوږدېدو او د جزییاتو د زیاتېدو له امله و نه نیول شول، ځکه د دغې څېړنې له محدودې بهر و.

۲ لومړنۍ ایډیا دا وه، چې د پروژو په کچه د ډونرانو د فعالیت او ونډې له اړخه، معلومات وړاندې شي، په داسې حال کې چې دې ته په پام سره، چې هر ډونر د حکومتولۍ، د قانون حاکمیت او بشري حقوقو په برخو کې په افغانستان کې یوه چاره سرته رسوي، او د پروژو په کچه لیستونه هم اوږد برابر شوي دي، نو د دغې څېړنې له حوصلې څخه بهر و.

د څېړنې اوم څپرکی د افغانستان اداري او عدلي څانګې ته د ۱۲ عمده ننګونو تحلیل او تجزیه او ورپسې د لیکلو سرچینو او کلیدي مرکو پر بنسټ، چې د ۲۰۱۳ ز. کال د دسمبر له ۲۸ او د ۲۰۱۴ ز. کال د جنورۍ تر ۱۴ پورې چمتو شوي، نهه وړاندیزونه وړاندې کېږي. دغه ننګونې، د قانون جوړونې پروسې او پارلماني څار ، او د حقوقي شننې او څېړنې د ظرفیتونو کمزورتیاوو ته شاملېږي. همدارنګه د عامه ادارې په برخه کې، د دولتي ټولیزې کړنلارې، سیاسي معاملې، د مدني خدمتونو د وېش نشتوالی هم په دغو ننګونو کې راځي. له بلې خوا ، د کورنیو لومړیتوبونو په پرتله بهرنیو لومړیتوبونو ته لومړیتوب ورکول، تر حد زیات پلانول او لږ پلي کېدل، د ملي اقتصاد په تړاو د ټولیز لیدلوري نشتوالی، په ښاري سیمو کې د دولتي اصلاحاتو تمرکز او د کلیو او بانډو هېرول، ناامنۍ، ناکاره ښاري حکومتولي، چې د ښارونو د پرمختیا او ښاري خدمتونو د وړاندې کېدو په برخه کې د خنډ او ځنډ لامل ګرځېدلي، دا ټولې هغه ننګونې دي، چې په دې برخه کې پرې بحث کېږي.

وړاندیزونه د مفروضاتو د څېړلو پر اړتیا ټینګار کوي، او همدا راز د دې یادونه کوي، چې ننګونې باید د بیا لپاره تحلیل او تجزیه شي، افغاني لومړیتوبونه او فرهنګي شرایط باید درک شي. په وړاندیزونو کې د دې خبرې اړتیا هم په ګوته شوې، چې باید یوه هراړخیزه دولتي کړنلاره ترلاس لاندې ونیول شي، چې د ظرفیت جوړونې په برخه کې له سازماني رول سره مرسته وکړي؛ له اداري فساد سره د ټینګې او پیاوړې مبارزې په برخه کې، د یوه مخالف اړخ په توګه، باید د قانون د پلیتابه پر هڅو او د سازماني مدیریت د پیاوړي کېدو په تړاو فعاله پانګونه وشي، ښاري او کلیوالي واټن باید له منځه یوړل شي، د حکومت او خلکو لپاره د اصلاحاتو او د مدني ټولنې د ظرفیت جوړونې په پایله کې رامنځته کېدونکي زیانونه وپېژندل او په پام کې ونیول شي.

د دغې څېړنې عمده موخه، د دریو تر پنځو راتلونکو کلونو پورې د وروستیو چارو ، پلانونو او ستراتیژیو د څېړلو په اړه د معلوماتو وړاندې کول دي. د توکیو د دوه اړخیزو ځواب ویلو د شاخصونو په تړاو د افغانستان د حکومت د راپورونو په ګډون، د تېرو ۱۲ کلونو د لاسته راوړنو په اړه د موجودو موادو له پراختیا سره سره، دغه څېړنه په قصدي توګه پر شته نیمګړتیاوو زیات تمرکز لري. پر دې بنسټ، کېدای شي د ترلاسه شویو پرمختګونو په اړه یو څه پیکه وي. دا هم مهمه ده، چې یادونه وکړو ، افغان دولت خپل حرکت له صفره پیل کړی و ، چې په هېڅ صورت ممکن نه و ، دغه سفر د افغانانو او نړیوالې ټولنې له همغږۍ او ډله ییز مشارکتي کار پرته ترسره شوی وای. باید جوته کړو ، چې مشترکه همکاري دي، چې د تحول لسیزې د پراختیایي هڅو په زړه کې قرار لري.

## ۱.۱ میتودولوژ ی (کړنلاره)

هغه څېړنیزه کړنلاره او مېتود، چې په دغه څېړنه کې ترې کار اخیستل شوی، د کتابتوني څېړنې جامع مېتود دی. په دغه مېتود کې، د حکومتولۍ په اړه له موجودو اسنادو او لیکنو څخه ګټه اخیستل شوې؛ همدارنګه د لومړنۍ کیفي څېړنې له مېتود څخه د حکومتولۍ په برخه کې له کلیدي کسانو سره د مرکې په ترڅ کې ګټه اخیستل شوې ده. دغه کلیدي کسان، د ملي یا سیمه ییزو ارګانونو له کلیدي ادارو سره د تړاو په پایله غوره شوي یا په دې برخه کې د خپل تخصص له مخې ټاکل شوي دي.

لاندینی جدول د هغو کلیدي کسانو نومونه په ډاګه کوي، چې د دغې څېړنې په بهیر کې ورسره مرکې شوي، خو د عمومي مالي مدیریت، ښاري حکومتولۍ او عدلي مدني ټولنې په برخو کې د هغو څلورو لوړو پوړو چارواکو نومونه نشته، چې هغوی په خپله د دې غوښتنه کړې وه، چې نومونه یې ناڅرګند پاتې شي.

| ګڼه | نوم | دنده | تړاو |
|---|---|---|---|
| ۱ | ډاکتر شام لال بتیجا | د ولسمشر سلاکار | جمهوري ریاست |
| ۲ | عبدالغفور لېوال | د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز رییس | تحقیق/مدني ټولنه |
| ۳ | حبیبه سرابي | د ښځو چارو پخوانۍ وزیره، د بامیانو پخوانۍ والۍ او اوس د ولسمشرۍ په ټاکنو کې کاندیده مرستیاله | د ښځو حقوق/ ټاکنې |
| ۴ | احمد شفیق قاري زاده | د مالیې وزارت د پالیسۍ مرستیال | بیروکراسي/د مالیې وزارت |
| ۵ | عبدالحفیظ منصور | د ولسي جرګې غړی | پارلماني |
| ۶ | عتیق الله روفي | د سترې محکمې د عالي شورا د دارالانشاء رییس | قضاییه /ستره محکمه |
| ۷ | ساعق شجن | مدافع وکیل او د شایق د خصوصي حقوقي شرکت مشر | مدني ټولنه/ شخصي حقوقي فعالیت |
| ۸ | ډاکتر حشمت هاشمي | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسیون د مدیریت څانګې د عامه اداري سلاکار | د ملکي خدمتونو کمېسیون |
| ۹ | عبدالباقي پوپل | د ښاروالیو د چارو د عمومي ریاست رییس | ښاري حکومتولۍ |
| ۱۰ | نجیب الله جامي | د عدلیې وزارت د بشري منابعو رییس | حکومتي دستګاه/د عدلیې وزارت |
| ۱۱ | برنا کریمي | د محلي ارګانونو د خپلواکې ادارې د پالیسۍ پخوانی مرستیال، په کاناډا کې افغان سفیر | خصوصي سکتور |
| ۱۲ | فرید حمیدي | د افغانستان د بشري حقوقو د خپلواک کمېسیون کمیشنر، حقوقي شنونکی | بشري حقوق/مدني ټولنه |
| ۱۳ | ډاکتر صبغت الله | د پالیسي او تخنیکي معین مشاور، د سیمه ییزو ادارو خپلواکه اداره | /سیمه ییزه حکومتولي |

په دغه څېړنه کې تحلیلي مېتود د تطبیقي رهبرۍ چوکاټ [۳]، پر بنسټ دی. دغه چوکاټ، د شخصي کړنلارې پرخلاف، د یو سیستماتیکې کړنلارې په کارونې سره، هغه تحلیلونه له ننګونې سره مخامخ کوي، چې په کې شخصي انګیزې او شخصي لیدلوري په پام کې نیول شوي وي. د ستونزو د پیچلتیاوو له کچې سره تړلې دتخنیکي او تطبیقي ننګونو په توګه دغه ډول ډلبندي، هغه شته ظرفیت دی، چې د دغو ننګونو په پېژندلو کې مرسته او ورته رسېدنه کوي. په تخنیکي برخه کې، ستونزې او حل لارې یې دواړه په ښه توګه معرفي شوي دي. په تطبیقي حالت کې، ستونزه او حل لاره یې واضحه او یا په اسانۍ سره ورته لاسرسۍ نشته.

۳ د زیاتو معلوماتو لپاره د حفیتزز، رونالډ، *له اسان ځواب پرته رهبرۍ*، کمبریج: د هاروارډ پوهنتون چاپ ۱۹۹۴ ز. وګورئ.

# ۲. د روان ټولیز وضعیت تحلیل

د اصلاحاتو له لیدلوري، څلور اصلي ځانګړتیاوې شته، چې د افغانستان ټولیز وضعیت یا شرایط په ګوته کوي.

د افغانستان راتلونکی پر نړیوالتوب، چې یوه رښتینې اړتیا ده، او د تلپاتو سیمه ییزو او نړیوالو اړیکو پر رامنځته کېدو سره تړلی دی. د افغانستان پرمختیا دې ته اړتیا لري: لومړی دا چې افغانان د خپلو ټولو چارو رهبري پر غاړه واخلي. دویم دا چې نړیوال شریکان او ملګري خپل ملاتړ ته دوام ورکړي. پر دې بنسټ، په افغانستان کې د نړۍ د ښکلتیا دوام، په افغانستان کې د تلپاتې ثبات لپاره حیاتي ده.

د اصلاحاتو پدیده په افغانستان کې یوه پېړۍ مخینه لري؛ ننني دموکراسي پر ۱۹۱۹[۴] کال د امان الله خان له دورې تر ننه پورې د زرګونو نارینه وو او ښځینه وګړو د کار او هڅو پایله ده. د ډاکټر نجیب الله[۵] تر واکمنۍ وروسته (۱۹۹۲-۱۹۹۲) او تر هغې وروسته د طالبانو د واکمنۍ پر مهال (۱۹۹۶-۲۰۰۱) جګړې، ښایي د افغانستان په تاریخ کې تر ټولو تورې دورې وي. خو د دموکراتیکو اصلاحاتو له لارې د خلکو پیاوړتیا تر ۲۰۰۱ ز. ډېر مخکې پیل شوې ده.

د افغانستان د عامه ادارې اصلاحات د هغه څه له مخې ځانګړې شوي، چې تر اندازې زیات پر تولید ټینګار لري، خو پر هغو پروسو یې ټینګار کچه ټیټه ده، چې د تولید د رامنځته کېدو لامل ګرځي.[۶] په عملیاتي کچه، دا ممکن، د عامه مدیریت په سیستم کې د دوامدارو او د تدریجي اصلاحاتو پرځای، د خدمتونو د وړاندې کېدو له ښه والي څخه د اندازه ګیرۍ وړ لنډمهال شاخصونو پر سر تمرکز رامخې ته کړي.

ناامني، د حکومتولۍ د رسمي سیستم په پرتله د نارسمي واک پیاوړې اړیکې، د عملي ژمنتیاوو نشتوالی او د عامه ادارې په سیستم پورې اړوند د یو شمېر مهمو موضوعاتو په تړاو د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې ترمنځ د یوې پراخې اجماع نشتوالی او د اساسي قانون د ۵۰ مې مادې په اړه، چې په افغانستان کې پر یوې پیاوړې او پر اصلاحاتو ولاړ عامه ادارې باندې ټینګار کوي، د دوی ترمنځ د اړیکو ماهیت، ډېر سخت خو ناشونی نه دی. په دې توګه د یوې اوږد مهالې پروسې له مخې کېدای شي، دغه ستونزې هوارې شي.

## ۲.۱ د افغانستان شرایط

د شرایطو په اړه د دقیق درک او شننې نشتوالي هغې سترې تېروتنې دي، چې په تېرو ۱۲ کلونو کې یې افغانستان ننګولی دی. افغانستان له دریو بنسټیزو ستونزو سره مخامخ دی: لومړی تخنیکي ستونزې، چې تر ډېره بریده په دې برخه کې د افغانانو او د هغوی د نړیوالو شریکانو له موجوده پوهې، سیستم او مهارتونو په کارولو سره حل شي؛ انطباقي ستونزې، چې د تطبیقي تغییراتو، چې د فرهنګ، ارزښي سیستمونو، مذهب، دودونو او ادابو، عاداتو او چلندونو په برخه کې تغییرات په برکې نیسي، تر ډېره اوږدمهالو او دوامدارو پروسو ته اړتیا لري. د دواړو ستونزو ټولګه (تخنیکي او تطبیقي) حل، تر ۱۲ کلونو زیات یو باثباته دوران ته اړتیا لري. تېره لسیزه د افغان دولت او نړیوالې ټولنې په ځینو کاري اړخونو کې، د ستونزو د لومړنی ډلې په تړاو په منځنۍ کچه درک او پوهه رامنځته کړه، خو د دویمې ډلې ستونزې په برخه کې یا درک اصلا نه و او یا محدود و. پایله د دې ښودنه کوي، چې د دواړه ستونزو، لومړنی ماهیت غیرمترقبه پایلې له ځانه سره لري.[۷]

د شرایطو د کارنده ونډې، لیدلورو، ګټو، انګیزو پېژندنه د بریالیو اصلاحاتو د ترسره کېدو لپاره اړینه ده. په لاندې برخه کې د افغانستان د شرایطو یو شمېر بېلګې وړاندې شوي:

افغانستان ستونزمن اقلیم او جغرافیایي موقعیت لري، چې هلته لاسرسی محدودې او د سیمه ییزو موازي حکومتونو څرګندېدو ته اسانتیاوې برابروي. په افغانستان کې د ښاري ژوندانه د لېوالتیاوو له شته والي سره[۸]، بیا هم افغاني ټولنه یوه کلیوالي او

۴ "د هغه څه له مخې، چې زه پرې باور لرم، افغانستان دېرش کلن دی. د افغانستان دموکراسۍ ښایي لسیزې په برکې ونیسي، چې زموږ ټولنیز جوړښتونه، کوم چې ډېر سخت زیانمن شوي بېرته ورغوي او موږ له ۲۰۰۱ نه وروسته پر بیارغونه یې پیل کړې دی". د ولسمشر له سلاکار ډاکټر شام لال سره مرکه، د دسمبر ۲۸، ۲۰۱۳.

۵ ډاکټر نجیب الله له ۱۹۸۲ ز. تر ۱۹۹۲ ز. پورې، کله چې کابل د مجاهدینو او نورو ملیشه یي ډلو له خوا ونیول شو، د افغانستان ولسمشر و.

۶ د ملکي خدمتونو د مدیریت څانګې له مشاور ډاکټر حشمت هاشمي سره مرکه، د ۲۰۱۴ ز، د جنورۍ ۱۲مه.

۷ دغه تحلیل د تطبیقي رهبرۍ لپاره اساس ګڼل کېږي، د زیاتو معلوماتو لپاره دهیفیتز رونالد، *له اسانه ځواب پرته رهبري*، د هارورډ پوهنتون چاپ ۱۹۹۴ز. وګورئ.

۸ "هغه څه چې موږ نن ورسره مخامخ یو، رښتینې ښاري ژوند نه دی، بلکې یو ښاري تورم دی" د سیمه ییزو مطالعاتو له رییس عبدالغفور لېوال سره مرکه، د ۲۰۱۳ کال د دسمبر ۳۰ مه. د یادونې وړ ده، چې په دې برخه کې بېلابېل او متضاد لیدلوري شتون لري؛ د امریکا د متحده ایالاتو د دفاع وزارت پخوانی مرستیال دیویډ سډنی، "له کلیوالي سیمو ښارونو ته د نفوسو تغییر او د مخ پر وده ځوان نسل" د نه په پام کې نیولو له امله، د امریکا د ملي استخباراتو پر راپور نیوکه وکړه. شریف امیري، د امریکا د ملي استخباراتو د راپور رد، طلوع نیوز تلویزیون، د جنورۍ ۴ مه ۲۰۱۴.

نارینه واکمنه[۹] ټولنه ده، چې اقتصاد یې تر ډېره کرنیز دی[۱۰]. په دغه هېواد کې بېلابېل قومونه اوسېږي. په سیمه ییزه کچه د قومي ډلو او اشخاصو شته والی، د افغانستان د ټولنیز او سیاسي لیدلوري بنسټیزه بڼه[۱۱] ده، چې له وختونو راهیسې له تاتریخوالو ډکو نښتو او لانجو له لارې، قدرت او سرچینې په خپل واک کې ساتلي دي. د ۱۹۹۲-۱۹۹۲ ز. کورنۍ جګړې تر ډېره د قومي واک د خوځښت په شاوخوا کې څرخیده. د ۲۰۱۴ ز. کال د ولسمشرۍ ټاکنو لانجه، هم د دغې ټولنیزې ښکلتیا د خصوصیت ښکارندویي کوي. د افغانستان وګړي سل په سلو کې مسلمعنان دي، خو د اهل هنودو یو ډیر محدود اقلیت هم په دغه هېواد کې ژوند کوي؛ په داسې حال کې، چې استازي د هغه لوی اکثریت له خوا ټاکل کېږي، چې تراوسه پورې دې ته چمتو نه دي، چې ددغه اقلیت لپاره په پارلمان کې څوکۍ ومني او یا هرکلی ورته وواییي[۱۲]. په افغانستان کې هر راز ښکېلتیا باید د اساسي درک او پوهاوي په توګه، د دین، مذهب او یا له مذهبه د محلي تفسیرونو د ونډې[۱۳] پر بنسټ وي؛ چې معمولا همداسې چلندونه لیدل شوي هم دي[۱۴]، لکه د ښځو رټل.

د ملګرو ملتونو د شمېرو له مخې، د افغانستان **۵۰** سلنه وګړي د ۱۸ کلونو او ۲۸ سلنه یې تر **۲۵** ټیټو عمرونو لرونکي دي[۱۵]. یو نابسیا اقتصادي سیستم، چې په بهرنیو مرستو تړلي دی، نه شي کولی د دغه قشر لپاره، چې د سیاسي کارونې له اړخه هم اغېزمن دی، د دوامدارو اقتصادي فرصتونو تضمین وکړي. سربېره پر دې، ماشومان په معمول ډول خپل ارزشي سیستم له مور او پلار، کورنۍ، خپلوانو، ښوونځي، له خپل چاپیریال او لویې ټولنې څخه ترلاسه کوي. پراخ مهاجرتونه او نور زیانمنوونکي لاملونه لکه تبعیضي چلندونه او ټولنیز یا اقتصادي ناخوالې، د دې لامل شوې، چې د افغانستان نوی نسل د جګړې او مهاجرتونو نسل وي، چې په بېلابېلو کچو له خپل ارزشي سیستم سره یې واټن پیدا کړی دی. په دې توګه، د ارزښتونو او قوانینو په تړاو د اجماع نشتوالی او له ارزښتونو او قوانینو څخه د اطاعت ټیټ ظرفیتونه، د نااټکل شویو کړنو او چلندونو لامل ګرځېدلی دی. ټکنالوژۍ ته بې ساري لاسرسی، له بهرنۍ نړۍ سره پراخې اړیکې او د بهرنیو تجربو په ډګر کې واقع شوي نسل، که له یوې خوا د افغاني ټولنې لپاره یوه ډېره ګټوره او ان بامسوولیته انساني سرمایه ګڼل کېدای شي، خو له بلې خوا دغه سرمایه له خطرونو هم خالي نه ده.[۱۶] تر ۲۰۱۴ ز. کال وروسته د بهرنیو ځواکونو وتل او د پرمختیایي مرستو او پانګونو په کچه کې د کموالي رامنځته کېدل، دا وېره[۱۷] رامنځته کوي، چې یو زیات شمېر ځوانان، چې بې کاره شي، په قهر او غوسې سره به سړکونو او کوڅو ته راووځي او د یو بالقوه شورش او تاوتریخوالي رهبرۍ به پر غاړه واخلي.

افغاني ټولنه یو نارینه واکمنه ټولنه ده او په هغه کې د جنډر ونډه په افراطي بڼه تعریف شوې ده. په دې ټولنه کې نارینه او نارینتوب، له واک، کنټرول، قدرت، نفوذ او رهبرۍ سره تړلي دي، خو ښځې په دې ټولنه کې ثانوي موقف لري، چې په خپل ټول عمر کې د نارینه وو پر وړاندې مسوولې ګڼل کېږي. د ښوونځیو په درسي کتابونو کې د ښځو په اړه داسې مطالب شته، چې په کې توصیه شوې، چې ښځې د باور وړ نه دي او باید ورسره رازونه شریک نه شي.[۱۸]له دین څخه سیمه ییز تفسیرونه، د ښځو بدني تنبیه ته مشروعیت ورکوي او د کورنۍ د نارینه وو غړو پر اطاعت یې ملزموي. که څه هم په ښاري وګړو کې د دغه لیدلوري په برخه کې یو لړ تغییرات ترسترګو کېږي، خو دغه بدلونونه سطحي او د همکارانو د فشار له مخې دي، چې په لیدلورو او ذهنیتونو کې د یو ژور بدلون له رامنځته کېدو څخه ډیر واټن لري.[۱۹]

۹ د مالیې وزارت د پالیسۍ له مرستیال احمد شفیق قاري زاده سره مرکه، د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ ۴. همدا راز د بامیانو له پخوانې والي او د ۲۰۱۴ کال د اپریل د **۵** نیټې ولسمشرۍ ټاکنو ته له کاندیدې مرستیالې حبیبه سرابي سره مرکه، ۲۰۱۳ کال د جنورۍ ۲مه.

۱۰ د افغانستان د کرنیز ډګر لنډ مهاله وده، چې ۷۰ سلنې کلیوالي وګړي په کې په کار بوخت دی، د افغانستان د ناخالص کورني تولید (GDP) یوازې ۳۰ سلنه جوړوي. 'د لېږد لسیزې لپاره د خودکفایۍ پر لوري – ستراتیژیک لید لوری'، د افغانستان دولت.

۱۱ فیلکس کونټازچ، 'د مډرنیټي لپاره د افغانستان سخته لاره: د دولت او ملت جوړونې په بهیر کې نادولتي لوبغاړي، سیاسي – ټولنیزې موسسې'، ۲۰۰۸ ز. کال د جولای ۲۱.

۱۲ د ۲۰۱۳ ز. کال د دسمبر پر ۱۴مه، د افغانستان د ملي شورا په ولسي جرګه کې د هندو او سیک اقلیتونو لپاره د یوې څوکۍ د بېلولو په تړاو د ولسمشر حکم د ولسي جرګې له خوا رد شو. فبریزیو فوسچني، 'د یو فرصت له لاسه ورکول؟ هندوانو او سیکانو په پارلمان کې یوه څوکۍ ترلاسه نه کړه'، د افغانستان د تحلیلګرانو شبکه، http://www.afghanistan-analysts.org/a-lost-occasion-hindus-and-sikhs-do-not-get-a-reserved-seat-in-parliament د ۲۰۱۳ کال د دسمبر ۱۲ مه.

۱۳ "په افغانستان کې د باثباته انتقالي عدالت اصلاحات، د سویلي افریقا د مسیحیت فرهنګ په څېر، چې د انعطاف مخالف دی، په کوټلي توګه د اسلامي دودونو تر اغېزې لاندې دی، یوه سترګه د بلې سترګې لپاره"، له بټیجا سره مرکه.

۱۴ نظیف شهراني، 'د سولې لپاره د افغانستان بدیلونه، حکومتولۍ او پرمختیا'، د حکومتولۍ نوښتونو لپاره نړیوال مرکز، ۲۰۰۹ ز. کال د اګست ۲ مه.

۱۵ د ځوانانو د ملي یووالي پلان د ۲۰۰۸ ز. له کلنۍ راپور څخه اخیستل شوي معلومات، http://www.undp.org.af/ whoweare / undpinafghanistan / / dcse / prj_youth.htm (لاسرسی د ۲۰۱۴ ز. کال د جنورۍ ۲ مه).

۱۶ له ډاکټر بټیجا سره مرکه.

۱۷ په دې اړه بېلابېل لیدلوري وجود لري، د ځېنو په باور، ۲۰۱۴ ز. په لګښتونو کې د سپما او د لګښت او عوایدو ترمنځ د توازن کچې د رامنځته کېدو لپاره یو فرصت دی. له ډاکټر بټیجا سره مرکه.

۱۸ له لېوال سره مرکه؛ او د افغانستان د ښوونیز ډګر د زده کوونکي په توګه د یو لیکوال شخصي مشاهدات.

۱۹ له لېوال سره مرکه.

په افغانستان کې رهبرۍ د اقتدار په معنا ده، چې له بېلابېلو لکه د واک له رسمي درېځ او موقف، او نا رسمي موقفونو لکه ثروت، شتمنۍ، ټولنیز موقعیت، دیني لاربښوونو، د لارویانو شمېر او د یو شخص د ژوندانه له ظاهري شان او شوکت څخه سرچینه اخلي. په نارینه وو کې د رهبرۍ ظرفیتونو شتوالي، د دوی د واک د زیاتېدو، د حاکمیت د پیاوړي کېدو او د اقناع مهارت د ښه کېدو سرچینه ده او په پایله کې د دوی د مهارتونو جوړښت د زیاتو اوریدونکو د راجلبولو لامل ګرځي، په دې توګه د پیروانو په شمېر کې یې زیاتوالی راځي. د ښځو د رهبرۍ ظرفیت، ټولو ته یو ناپېژندل شوې او مبهمه انګېرنه ده. که څه هم یو شمېر ښځې لوړ پوړي چارواکې دي، خو د هغوی واک هم پر هغو نارینه وو سلاکارانو پورې تړلي، چې په واقعیت کې رښتیني تصمیم نیوونکي دي.

افغانستان تر جګړې وروسته هېواد نه دی.[۲۰] دا هغه له تېروتنې ډک اټکل دی، چې د افغانستان په زیاترو سیمو کې د جګړې د دوام د اغیزو په تړاو، د جدي بې پروايیو لامل ګرځي؛ دغه جګړه، اقتصاد، د قانون واکمنۍ، عدلي برخه او د عامه خدمتونو د وړاندې کېدو چارې اغېزمنې او ټکنې کړې دي. پر دې بنسټ، تر جګړې وروسته هېوادونو سره د افغانستان د قضیې پرتلیز تحلیل کولی شي، ارقام او اسناد وړاندې کړي، خو دغه چاره عملي ګټه نه لري.

## ۲.۲ د افغانستان حکومت

د افغانستان حکومت د کاغذ پر مخ[۲۱] د پرمختللی، یو موټی او مرکزي دولت په بڼه څرګندیږي، خو په واقعیت کې، په تېرو ۱۲ کلونو کې په دولت کې د افغان تکنوکراټو د "نوي نسل" له کره شتون او پر مرکز محورۍ[۲۲] له ټینګار سره سره، دولت د نارینه وو د مطلق واک دودیزې حکومتولۍ پیاوړې هستې لرلې دي، نو ۱۲ کاله به ډېر ژر وي، چې د سمونونو کړنلارې پلې، ترڅو په دغه سیستم کې د بدلون لامل شي. د ځېنو په باور، د افغانستان دولت د دودیزې حکومتولۍ له هستې سره یو دوه رګه سیاسي نظام، چې هسته یې عرفي یا دودیزه حکومتولي ده، چې کمزورتیا او سقوط یې لزوما ممکن نه بریښي[۲۳]. د ظرفیت جوړونې پراخې هڅې او نوښتونه، چې د پالیسیو پر پرمختیا او تخنیکي روزنې تمرکز لري، کومه غوښنه لاسته راوړنه نه لرله[۲۴]. د پراخ فساد د شتون سره، د ټولیزو خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د اغېزمنتیا او موثریت نشتوالي، په سیمه ییزه کچه د موازي حکومتونو د مکانیزم په راڅوندي کولو کې مرسته وکړه. طالبان د یوه شورشي ډلې په توګه پر دې وتوانېدل، چې د حکومت دغه تشې په معقولو بریاوو سره ډکې کړي. د افغانستان په سیاسي نظام کې، د دوه رګه رسمي او غیررسمي حکومتولۍ درک او پېژندنه، باید د حکومتي ریفورمونو په زړه کې قرار ولري[۲۵].

د افغانستان حکومت هسته په اصل کې فیوډالي ده، چې له کلیوالي او د هېواد له کرنیز صنعت او دموګرافۍ څخه سرچینه اخلي. د افغانستان دولت عواید له ډېره وخته پر بزګرانو د مالیې او بهرنیو اجارو پورې تړلي دي؛ د امان الله خان د دورې په استثناء په مالیاتي برخه کې ریفورم نه دی رامنځته شوی؛ د امان الله خان د واکمنۍ پرمهال، دولت د مستقیمو مالیاتو[۲۶] له لارې د دولت د عوایدو پر زیاتوالي اقدام وکړ، چې دغه چاره د هغه د واک د پرځېدو لامل شوه. دا هغه موضوع ده، چې تر ۲۰۰۱ وروسته دولت ورته د ګواښ په توګه کتل. له مرکزي دولت سره بهرنۍ مرستې دغه مالیاتي سیستم ګډوډ کړی، لکه څرنګه چې ځېنې څرګندوي[۲۷]، د حکومت باج اخیستونکی کړنه یې راڅوندي نه کړه. هغه سترې بودجې، چې د نړیوالو پوځي مرستو ترڅنګ افغانستان ته راغلې، د ولایتي بیارغونې ټیمونو (پي. آر. ټي) له لارې په سیمه ییزو برخو کې د سیمه ییزو واکدارانو د مرستې د راجلبولو په خاطر ولګول شوې[۲۸]. د مرکزي دولت کمزورتیا او د سیمه ییزو پیاوړو رهبرانو د شتوالي په پام کې نیولو سره، دغه مرستې د دویمې ډلې (سیمه ییزو واکدارانو) لپاره اغېزمنې ثابتېږي او د لومړي (ملي دولت) لپاره زیانمنه تمامېږي او په پایله کې یې ملي دولت لا په ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي ډګرونو کې کمزوری کېږي. البته باید ووایو، چې د بهرنیو دغه بې حسابه او د بودیجې له چوکاټه بهر مرستو دوام، بسیا اقتصاد ته، د

۲۰ د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ راپور ۲۰۱۱؛ او له سرابي سره مرکه.

۲۱ له ډاکټر بتیجا سره مرکه.

۲۲ له قاري زاده سره مرکه.

۲۳ ولکر بیج، ان براوون او کوین کلمنتس، 'دوه رګه سیاسي نظام لړزاند نه وي، سولې ته کتنه'، د ټولنیز عدالت مجله، ۲۰۰۹ز.

۲۴ له کندوزه د مدني ټولنې یو فعال او همدارنګه د پروان ولایت یو تن چارواکی، چې نه شوای کولی، د یوه مخکني درس محتوا په یاد راوړي: "زه دومره ډېر په روزنیزو برنامو کې ګډون کړی، چې اوس نه شم کولی، نور هغوی ټول په یاد وساتم."

۲۵ بیګ براون او کلمنټ، ۲۰۰۹.

۲۶ ویلیم ورکورن او برتیني کمپوس، 'په وانټر دولت کې دولت جوړونه: په افغانستان کې څرنګه د دموکراسۍ د ترویجولو په برخه کې سیاستونو ته پراختیا ورکولی شو'، د ټولنیزو مطالعاتو انستیتوت، ۲۰۱۳ ز.

۲۷ استرې سوهارک، 'په افغانستان کې دولتي جوړښت، یو ضدونقیض نوماندی'، د مرکزي اسیا سروي،۲۷۱،۳،۳۲:۲۸۲-, http://dx.doi.org/101080/02634937.2013.834715

۲۸ کولن کوک من او کارولین وډامس، 'حکومتولۍ په افغانستان کې: شاته وګورئ، چې څه مو تر شا پرېښئ'، د امریکا د پرمختګونو مرکز، د ۲۰۱۰ ز. کال مې.

افغانستان د لېږد په برخه کې هېڅ مرسته نه شي کولی؛ په ځانګړې توګه کله چې له تاريخي پلوه پر بهرنيو مرستو د ټرټيا ماهيت په پام کې ونيول شي. سربېره پر دې د نړيوال بانک د ۲۰۱۰ ز. [۲۹] کال د راپور له مخې، افغانستان د غوړېدلي اقتصاد، چې پر سوداګرۍ او پانګونې تکيه ولري او د خپلو پانګوالو د ساتنې ظرفيت په برخه کې، تر ټولو په ټيټه کچه کې قرار لري.

په افغانستان کې د تصميم نيونې پروسه، ځواکمنه او له پاسه ښکته خوا ته سيستم له مخې ده؛ نارينه، په ځانګړې توګه سپين ږيرې او د ډېر عمر درلودونکي نارينه او يا د رسمي او نا رسمي واک په اډانه کې موجود نارينه، د تصميم نيونې د دغې لړۍ په سر کې قرار لري او په پايله کې دوی کليدي او اصلي تصميم نيوونکي دي؛ له بلې خوا ښځې، ځوانان، اقليتونه ، له مالي پلوه د ټولنې محروم کسان او عام خلک د يادې لړۍ په پای کې واقع دي. د ښې حکومتولۍ اصول، له ښکته پورته ته ځواب ويونکي، روڼتيا او معلوماتو ته د لاسرسي او ازاد چوکاټ دی، چې د غير رسمي حکومتولۍ له مکانيزم سره ښکاره تناقض لري. د حکومتولۍ سيستم[۳۰] د دوه ګونې ماهيت په اړه د بشپړ درک نشتوالی، د نامشخصو ننګونو لامل ګرځي.

د افغانستان د حکومتولۍ شرايط بېلابېل اړخونه لري، چې هريوه يې د سازماني، سياسي او حقوقي چوکاټ له پلوه د مختلف ليد درلودونکي دي. دلته د واک ډيناميک، د سازمانونو ترمنځ او په خپله د سازمان په منځ کې د اړيکو ماهيت ټاکي. اصلاحات او پرمختيا د هغو اجرااتو ښکارندويي کوي، چې په سيستم کې د تعادل او توازن د نشتوالي مسلې په جوتولو سره، دغو خوځښتونو ته تغيير ورکوي؛ په پايله کې پر ټولو ځانګو اغېز کوي او د سرچينو په ځانګړې توګه د هغو بهرنيو بودجو په تړاو رقابت رامنځته کوي، چې ماهيت او مسير يې د تغيير جهت ورکوونکي دی. د پرمختيا لپاره لنډمهاله کړنلاره، په سختې سيالۍ سره د پياوړې او نسبتا کاري تغيير د خوځنده لړۍ مجموعه ده. که دغه لړۍ په خپل ذات کې يو انقلاب نه وي، افغانستان په تېرو ۱۲ کلونو کې، د هغو سرچينو په تړاو ، چې د نړيوالې ټولنې له لوري له خارجي بوديجې او مستقيم فنډ له لارې تمويل شوي او د اداري فساد له اړخه افغانستان يې د ريکارډ کچې ته ورساوه، د متضادو او مختلفو ليدلورو درلودونکو کړيو ترمنځ په جدي سيالۍ سره د بدلون د زياتو پروسو شاهد و.

ملي تصميم نيوونکي دستګاه د هغو پېژندل شويو تاړاک ګرو ستېو په کنټرول کې ده، چې په تېرو ۱۲ کلونو کې له عامه ګټو څخه د خپلې ناوړې شخصي ګټه اخيستنې په برخه کې بې ساري هنر لري. [۳۱]د ۲۰۱۴ کال د ولسمشرۍ ټاکنې د افغانستان په تاريخ کې، له يو منتخب ولسمشر څخه بل منتخب ولسمشر ته د سياسي واک د لېږد لومړنۍ بېلګه ده، دغه چاره لړترلړه د شرايطو د تعدد او د هغې دورې د مودې له پلوه، چې دوی پکې خدمت کولی شي کېدای شي د مدعيانو[۳۲] له جملې د ځينو ، واک ته د محدودې لاسرسۍ ويره القا کړي، پر دې بنسټ، دغه مسله په راتلونکي کې په خپله د فسادي کړنو د شدت ښکارندويي کوي. د افغانستان چارواکي د هغه ارزښت له مخې، چې معدني زېرمو او د هغه د اجارې طلبۍ سيستم ته ورکوي، ترڅو په راتلونکو کې معدني شتمني د بهرنيو مرستو ځايناستې شي، دغه چاره ممکن يو شمېر رامنځته شوي اداري سمونونه بې اغيزې کړي.

که څه هم د دغو چپاولګرانو شتوالي يوازې د افغانستان لپاره ننګونه نه ده، بلکې د بهرنيو کړيو او لوبغاړو لپاره هم يوه عمده ستونزه ده، هغوی مجبور دي، چې په افغانستان کې تر تخنيکي او مالي پانګونې مخکې له دوی سره معامله او د دوی توافق ترلاسه کړي. پر ۲۰۱۰ ز.[۳۳] کال د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو د عالي کمېشنر د دفتر له خوا د افغانستان د ملي پرمختيا له ستراتيژۍ څخه، چې پر ۲۰۰۸ ز.[۳۴] کال کې يې انعکاس موندلی، يوه ارزونه او پايله د دې ښودنه کوي، چې شونی نه ده په همداسې شرايطو کې د سالم دولت د جوړېدو تمه ولرو. د اداري او عدلي نظام ترمنځ د اړيکو ځانګه او همدارنګه په دې برخه کې سره مرتبط موضوعات، په افغانستان کې د دغې چپاولګرې ډلې د سلطې په اړه په جزيياتو سره مطالب وړاندې کوي. د انتزاعي تفکر په لوړه کچه کې، په نړيوال تصميم نيوونکې دستګاه کې د يو لړ جدي همغږۍ د نشتوالي په اړه خبرې کېږي، چې دغه مسله د هغه ناغېزمن عملياتي وضعيت لومړنۍ بېلګه ده، چې کېدای شي د يو څه مودې په تېرېدو سره د ستونزو د ژور کېدو له امله مخرب شي، خو دغه موضوع بيا هم جدي نه نيول کېږي. په افغانستان کې د ډونرانو د همغږۍ په برخه کې د ترسره شويو هڅو پرله پسې ماتې، تر هغې ډېرې

۲۹ نړيوال بانک، 'د سوداګرۍ شغل: په سختو شرايطو کې اصلاحات'، ۲۰۱۰، http://www.doingbusiness.org/~/media/GIAWB/Doing%20 Business/Documents/Annual-Reports/English/DB10-FullReport.pdf

۳۰ بايرډ ويليام، ګري ميلنټ او کينت انی، 'د افغانستان د انتقال د پېژندنې يوه نوې کړنلاره، له نړيوالو تجربو سره په پرتلنه'، USIP, ۲۰۱۳.

۳۱ له لېوال سره مرکه. OHCHR، په افغانستان کې د بېوزلۍ له پلوه، د بشر حقوقو اړخونه ۲۰۱۰: د فاسدو سياستوالو لپاره، چې "پر ټوليزو ګټو شخصي ګټې ته لومړيتوب ورکوي."

۳۲ ورکورين او کامپويس، ۲۰۱۳ز.

۳۳ "ناغېزمن سازمانونه، چې ضعيفې اقتصادي شبکې په بر کې نيسي، همدا راز کمزوری سيمه ييز حکومتونه او د عامه خدمتونو د وړاندې کولو کمزورې بنه، اداري فساد، له ټولنيزو پروګرامونو څخه د ملاتړ کمزورتيا او ټولنيزې نابرابرۍ، په افغانستان کې "د بېوزلۍ د دوام کليدي لاملونه دي.

۳۴ OHCHR، 'په افغانستان کې د بېوزلۍ له پلوه'، د بشر حقوقو اړخونه ۲۰۱۰: د فاسدو سياستوالو لپاره، چې "پر ټوليزو ګټو شخصي ګټې ته لومړيتوب ورکوي."

ژورې دي، چې د "د ډونرانو د همغږۍ ناستې" تر سرلیک لاندې غونډو کې پرې بحث کېږي. دغه غونډې، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي نماینده ګۍ (UNAMA) او د سیمه ییزو ارګانونو خپلواک ریاست یې په ګډه سره جوړوي. د دغې موضوع په اصلي هسته کې، کېدای شي د اصلاحاتو او پرمختیا په اړه د دوو لیدلورو ترمنځ تضاد موجود وي. په دې برخه کې د امریکایانو او اروپایانو لیدلوري دي، چې د مالي سرچینو او د پلانونو پلیتابه په برخه کې خپلې بېلابېلې کړنلارې لري. لومړۍ ډله (امریکایان) د مالي مرستو په ورکړې سخاوتمندانه او د پلانونو په پلیتابه کې چټک او ثابته کړنلاره لري، خو دویمه ډله (اروپایان) د مالي مرستو په ورکړه کې له احتیاطه ډګه دقیقه او د پروګرامونو په پلیتابه کې د اوږدمهالې اجرا کړنلاره لري. د دواړو ترمنځ، د تګلارو او پلان جوړونې له پلوه هم توپیر لیدل کېږي. د متحده ایالاتو پرمختیایي هڅې تر ډېره د هغو کړنو ښکاروندې دي، چې د اندازې وړ فزیکي پایلې له ځانه سره لري، خو د اروپایانو پرمختیایي هڅې تر ډېره هغه څه ته تمایل لري، چې د نرم شمولو ریفورمونو په نامه نومول کېږي او یوازې اساسي ازادیو لکه د بیان ازادۍ او بشري حقوقو پورې محدودېږي. په هر حال، دواړه لیدلوري باید دیو بل بشپړونکي وي، خو په تېرو ۱۲ کلونو کې دا امریکایي کړنلاره ده، چې ډېر استیلا غوښتونکې ده. هغه واقعیتونه، چې د دغې څېړنې په ګډون، نورې وروستې څېړنې[۳۵] پرې ټینګار کوي، د کړنلارو داسې تغییر دی، چې وکولی شي، په افغانستان کې د روانو ترسره کېدونکو پرمختیایي فعالیتونو په برخه کې د دواړو لیدلورو ترمنځ د جدي سیالیو لامل شي.

دغه لړۍ کېدای شي، په ډېره پراخه کچه تر ۲۰۱۴ ز. کال وروسته کلونو په شرایطو کې دوام ومومي. له یوې خوا د ناټو د پانګونو او پرمختیایي مرستو ژر پیښېدونکې کموالي، له بلې خوا د ۲۰۱۴ ز. کال په اپریل کې د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په تعقیب، پر ۲۰۱۵ ز. کال پارلماني ټاکنې، همدا راز د سولې او ملي روغې جوړې د بهیر ناڅرګنده لړۍ، په همدې حال د اوبو شدید کموالی، چې کېدای شي له پاکستان او ایران سره په سرحدي سیمو کې د اوبو پر سر د لانجې[۳۶] لامل شي، د اقلیم د بدلون ژورې اغېزې، همدا راز د نفوسو چټکه وده او د افغاني ټولنې په عامه، خصوصي او مدني څانګو کې د نوي نسل رادمخه کېدل، ټول هغه څه دي، چې د دغو لړیو دوام یقیني کوي.

۳۵ استري سوهرکي، 'په افغانستان کې دولت جوړونه: ضد او نقیض اقدام'، چاپ: منی ۲۰۱۳ ز. دغه د تغییر له اړتیا څخه د پوهنتوني ملاتړ یوه بېلګه ده.

۳۶ مجیب مشعل، ' ایران او پاکستان له افغانستانه څه غواړي: اوبه' د کال ۲۰۱۲د دسمبر ۲، http://world.time.com/2012/12/02/what-iran-and-pakistan-want-from-the-afghans-water

## ۳. حقوقي چوکاټ ته یوه لنډه کتنه

له پورته ښکتې خوا ته د تصمیم نیونې بېلګې او په لویدیځ قدرت پورې د افغانستان تړل کیدلو ته په پام سره، تر ۲۰۰۱ ز. کال وروسته په دغه هېواد کې په حقوقي برخو کې ابتکاري اصلاحات، د افغاني ټولنې د ارزښتونو منعکسوونکي نه و او له هغه ځایه، چې د افغانستان د حقوقي مبانیو لکه اسلامي شریعت او افغاني دودنو سره د نظام د همغږۍ ورټیا یې اغېزمنه کړې، نو ګټورې اغېزې یې نه دي لرلي.ترلاسه شوې پایله، د قانون جوړونې په برخه کې د اصلاحاتو او د هغه د بالقوه تطبیق[37] ترمنځ د اړیکو د نشتوالي ښودنه کوي. په افغانستان کې موجود قانوني چوکاټ د ۲۰۰۴ ز. کال اساسي قانون پر بنسټ، چې د مدني قانون او شریعت یوه ټولګه ده، بنسټیز شوی دی؛ له دې امله دغه چاره د تفسیري[38] سرچینې په تړاو ذاتي تناقضات رامنځته کوي. مخکني قوانین تر هغه مهاله چې لغوه شوي نه وي، یا له اساسي قانون او د افغانستان له نړیوالو تعهداتو سره په ټکر کې نه وي، خپل تطبیقي اغېزې لري[39].

### ۳.۱ هر اړخیز قوانین

د اساسي قانون: د افغانستان اساسي قانون ۱۲ څپرکي او ۱۲۲ مادې لري. د افغانستان اساسي قانون یو اسلامي، خپلواک، یو موټی او نه بیلېدونکي جمهوري دولت ګڼي.دریېمه ماده یې وایي، چې ټول قانوني چوکاټونه باید د اسلامي معتقداتو او حکمونو مطابق وي، په داسې حال کې، چې ۷ مه ماده یې دولت، د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې، د ملګرو ملتونو منشور، نړیوالو معاهدو او د بشري حقوقو تصدیق شویو کنوانسیونونو پر رعایت ملزم بولي. ۱۰ مه ماده یې د ازاد بازار پر بنسټ، خصوصي پانګونې هڅوي. د افغانستان د اساسي قانون د دویم څپرکي (له ۲۲ – ۵۹ پورې مادې) د افغانستان د وګړو د ټولو بنسټیزو حقونو لکه د بیان ازادۍ، د ژوندانه او فردي ازادیو، د ټاکلو او ټاکل کېدو، عادلانه محاکمې ته د لاسرسۍ، د سوله ییزو لاریونونو د ترسره کولو، همدارنګه له تیري څخه د شخصي مالونو او شتمنیو د خوندیتوب، له پلټلو څخه د شخصي او محرمانه مکاتباتو د خوندیتوب حق، د وړیا زده کړې او وړیا درملنې، مسوول دولت ته د لاسرسۍ او له ځورونو، تبعیضي چلندونو او اجباري کار څخه د خوندیتوب حقونه تضمینوي. اساسي قانون (د۱۱۱مې مادې) د حکم له مخې، د اساسي قانون په لویه جرګه کې د ولسي استازو ګډونقانون لویه جرګه یوازینی هغه باصلاحیته مرجع ده، چې په اساسي قانون کې د تعدیل راوستلو واک لري. باید یادونه وکړو، چې د اساسي قانون د لویې جرګې د جوړیدو په برخه کې موجودوتخنیکي، لوژستیکي، امنیتي او مالي ستونزو ته په پام سره، د اساسي قانون تعدیل ، تر ټولو سخت شرایط لري.[40]


د اساسي قانون په لویه جرګه کې د ولسي استازو ګډون

**د دولت د بنسټیزو تشکیلاتو قانون:** د دولت د بنسټیزو تشکیلاتو اصلي قانون ۴۳ کلن دی. د دغه قانون بیا کتل شوې مسوده د ۲۰۰۸.[41] کال تر لومړیو پورې په ولسي جرګه کې ځنډیدلې وه. د دغه قانون له مخې، دولت له دریو، حکومت (اجراییه)، مقننه (ملي شورا ) او قضاییه قوې څخه تشکیل شوی او ولسمشر د دولت د دریو څانګو په سر کې قرار لري.د ولسمشر د مرستیالانو شمېر دوو تنو ته محدود شوی، خو د مشاور وزیرانو شمېر د ولسمشر واکونو او غوښتنو ته پرېښودل شوی.

---

۳۷ استري سوهرکی، کاجا بورج ګرېینک، 'د افغانستان په عدلي برخه کې د اصلاحاتو بحثونه'، جرم، قانون او سیاسي تغییرات، ۲۰۰۹ ز. کال مارچ، ۴۱ ټوک، دویمه ګڼه، ۲۳۰-۲۱۱ مخونه.

۳۸ د افغانستان د اساسي قانون دریېمه ماده، ټول قانوني چوکاټونه پر دې ملزم بولي، چې د اسلام د احکامو مطابق وي؛ په داسې حال کې، چې ۲ او ۷ مه ماده یې د مذاهبو ازادي مني.

۳۹ افغانستان د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون (ICCPR)، د اقتصادي، سیاسي او فرهنګي حقوقو نړیوال تړون (ICESCR)، د قومي تبعیض د ټولو شکلونو د منع نړیوال کنوانسیون ( (ICESCR) ، د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د منع کنوانسیون (CEDAW) او د ماشومانو د حقوقو کنوانسیون (CRC)، تصویب کړی دی.

۴۰ د ولسي جرګې له غړي عبدالحفیظ منصور سره مرکه، ۲۰۱۴ کال د جنورۍ ۲ مه.

۴۱ ولسي جرګه د دغه قانون مسوده د ۲۰۰۷ ز. کال د سپتمبر پر ۱۷ مه تصویب کړه. او مشرانو جرګې یې د ۲۰۰۸ ز. کال د فبرورۍ پر ۲۲ بېرته ولسي جرګې ته ولېږه.

د افغانستان دولت، یو متمرکز دولت دی او کابینه یې **۲۵** وزارتونو لري.[۴۲] مقننه قوه یې له دوو جرګو څخه جوړه ده، چې د قانون جوړولو په تړاو مسووله ده. مقننه قوه همدا راز د دې مسوولیت لري، چې نړیوال تړونونه ومني او د اداري واحدونو د رامنځته کولو، تعدیلولو او لغوه کولو واک هم لري. قضاییه قوه، یوه خپلواک رکن دی، چې له سترې محکمې، استیناف او ابتداییه محکمو، د قضاییه قوې د عمومي اداري امریت او مرکزي ریاستونو څخه تشکیل شوې ده. چې محلي یا سیمه ییز حکومتونه، ولایتونه او ولسوالۍ په بر کې نیسي، چې د ولایتونو والیان د اجرایي قوې د استازې په توګه د ولایت په کچه د دولت ټول فرعي نماینده ګۍ او د وزارتونو ځانګې رهبري کوي. افغانستان **۳۴** ولایتونه او **۳۴** ولایتي شوراګانې لري. ښاروالۍ ښاري چارې مدیریت کوي او ښاروال او د ښاروالیو شورا غړي د ازادو، بې طرفو او مستقیمو رایو له لارې ټاکل کېږي. د عدلي او حکومتي اداري ترمنځ د اړیکو د څېړلو په څېرکي کې، پر دغه قانون او د دغه قانون د کمزوتیاوو په تړاو په تفصیل سره بحث کېږي.

## ۳.۲ اداره

**د ملکي خدمتونو قانون:** دغه قانون همدارنګه د IARCSC قانون په نامه هم یادیږي. یاد قانون د اصلاحاتو د پلیتابه له لارې د عامه اداري د پیاوړتیا او په عامه اداره کې د اصلاح د رامنځته کېدو په هدف، د ملکي خدمتونو دندې لکه: د دولتي خدمتونو مدیریت، تنظیم او وړاندې کولو، د پالیسیو او مشوره ییې خدمتونو پراختیا، د قوانینو، حکمونو او نورو اړوندو مقررو پراختیا او پلیتابه په بر کې نیسي. دغه قانون یو ملکي کارکوونکي داسې پېژني: هغه شخص دی، چې خلکو ته د خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د دولت له خوا استخدامېږي. د یاد قانون له مخې، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون (IARCSC)د عامه اداري د سیستم د پالیسیو جوړښت د اصلاح، تنظیم، تدوین او پلیتابه په برخه کې مسوولیت لري،[۴۳] په خپلو کارونو او فعالیتونوکې خپلواک او په مستقیمه توګه ولسمشر او یا د ولسمشر مرستیالانو ته د ځواب ورکولو مسوولیت لري.

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کمېسیون څلور ځانګې لري: **د ملکي خدمتونو اداره** (د پرمختیایي پالیسیو او پر اجرااتو د څارنې په اړه مسوولیت لري)؛ **د ملکي خدمتونو د ټاکنو بورډ** (د ولسمشر د منظورۍ لپاره د دولت د لوړ پوړو کارکوونکو د غوراوي، ورپېژندلو، ګومارلو، انتصاب، د ظرفیتونو پرمختیا، تبدیلۍ، تقاعد، د تقاعد د حقوقو ورکړې او نورو شخصي چارو او په وزارتونو کې پر مقرریو د څارنې په اړه مسوولیت لري)؛ **د ملکي خدمتونو د شکایتونو بورډ** (دغه بورډ، په ادارو او وزارتونو کې د تصمیم نیونې بورډ پر اجرااتو د څار او د مقرریو په اړه د شکایتونو د اورېدو مسوولیت لري)؛ **د اداري اصلاحاتو دارالانشاء** (دارالانشاء، د کمېسیون د اجرایوي، مالي او اداري چارو په برخه کې له اړوندې لایحې سره سم، د کمېسیون د رییس تر اثر لاندې فعالیت کوي، د اداري اصلاحاتو د پلانونو، پروژو او فعالیتونو د پلیتوب له بهیر څخه څارنه او راپور یې د کمېسیون رییس ته وړاندې کوي).

**د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون:** دغه قانون د اساسي قانون د **۵۰** مې مادې پر بنسټ، د ټولیزو خدمتونو د وړاندې کولو په بهیر کې د ښه والي او په عامه اداره کې د سمونونو د اجرا په موخه رامنځته شوی دی؛ دغه قانون د ټولو ملکي کارکوونکو (رسمي–قراردادي) چارې لکه د استخدام پروسې او داسې نورې چارې په ټولو وزارتونو، لویې څارنوالۍ، عمومي خپلواکو ریاستونو، خپلواکو کمېسیونونو، دولتي تصدیو، د ملي شورا د دواړو جرګو د چارو په ادارو، د قضاییه قوې په اداري امریت کې تنظیموي. د وزارتونو او عمومي خپلواکو ریاستونو پوځي منسوبین، قضات او استادان د دغه قانون له حکم څخه مستثنا دي. یاد قانون د ملکي کارکوونکو بستونه (۱-۸) ښیي، چې هر بست یې (۱-**۵**) قدمونه لري. د ملکي خدمتونو په ۱ بست د ټاکل کېدو شرط دا دی، چې لږترلږه د لیسانس سند او څلور کلنه کاري تجربه ولري. د ملکي خدمتونو مامور مکلف دی، چې ورسپارل شوې دنده، د دندو د لایحې او د کار د پلان مطابق او د اړوندو قوانینو او مقررو له حکمونو سره سم په خپل وخت کې ترسره کړي. د کارکوونکي د اجرااتو ارزونه، د دندو د لایحې، د کار د پلان او د کلنیو اجرااتو د راپور پر بنسټ ترسره کېږي.دغه قانون همدا راز د ملکي خدمتونو د مامور ټول امتیازات لکه معاش، د اضافه کارۍ ورکړه، کلنۍ او د ناروغي رخصتۍ، د کار پرمهال له ښوونیزو او روزنیزو فرصتونو څخه برخمنېدل او د استعفا حق تضمینوي. یاد قانون له اداري څخه د مامور له شړلو او د هغه له بې موجبه آزار څخه مخنیوي کوي، او په کاري چاپیریال کې له جنسي، اخلاقي او عاطفي ځورونو څخه د هغه د خوندیتوب تضمین کوي.

۴۲ د بهرنیو چارو، ملي دفاع، کورنیو چارو، مالیې، عدلیې، پوهنې، سوداګرۍ او صنایعو، د فواید عامې، د اطلاعاتو، فرهنګ، ځوانانو او توریزم، د عامې روغتیا، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، اقتصاد، کانونو، د کلیو د پراختیا او بیارغونې، د لوړو زده کړو، د اوبو او انرژۍ، ټرانسپورت، د کډوالو او راستنېدو چارو، د ښځو چارو، د حج او اسلامي ارشاد، د سرحدونو او قبایلو چارو، د ښاري پراختیا، د کار، شهیدانو،معلولینو او ټولنیزو چارو او له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارتونه.

۴۳ د فکر له مخې، IARCSC د ټولیزې اداري د سیستم د پرمختیا لپاره باید یوازینی شریک وي.

**د کار قانون:** دغه قانون د اساسي قانون د ۴۸ مې مادې پر بنسټ رامنځته شوی. یاد قانون اجباري کار منع کړی او په ټولو وزارتونو، دولتي اونادولتي ادارو، خپلواکو کمېسیونونو، ټولیزو اوخصوصي سوداګریزو شرکتونو اوهغو نړیوالو سازمانونو کې، چې په افغانستان کې فعالیت لري او پکې د کارکوونکو استخدام د کار او خدمتونو په تولید پورې اړوند دی، دکارکوونکو(نارینه او ښځینه وو) ژمنتیاوې، حقونه، امتیازات او ټولنیز امنیت تنظیم او مشخصوي. همدارنګه هغه افغاني او بهرني وګړي، چې له هېواده بهر په افغاني سیاسي نمایندګیو او نورو دولتي موسسو او یا د هېواد دننه په بهرنیو او نړیوالو موسسو او سازمانونو کې دنده ترسره کوي او هغه بهرني او افغاني وګړي، چې د مخکنیو جلا تړونونو یا له هغې پرته، په افغانستان کې یې د کار جواز ترلاسه کړی او یا یې وروسته ترلاسه کوي او په دولتي یا نا دولتي ګډو یا خصوصي ادارو کې استخدامېږي، د دغه قانون د حکمونو تابع دي. دغه قانون د کارکوونکو او کارګرو د امتیازاتو، د تبعیض نشتوالی او رخصتیو حقونه خوندي کوي او د افغانستان دولت پر دې ملزموي، چې د کار او ادارې په تړاو، هغه ټول نړیوال کنوانسیونونه او تړونونه، چې افغانستان یې غړیتوب لري او یا یې ترلاسه کوي او نور نړیوال معیارونه رعایت کړي. دغه قانون د کاري تړون د فسخ کېدو ماهیت، ډولونه او شرایط مشخصوي؛ او د بیا استخدام او تقاعد د خوندیتوب حقونه تضمینوي. یاد قانون په معمول ډول کاري ساعتونه په اونۍ کې تر ۴۰ ساعتونه ټاکي، خو د میندوارو ښځو او هغو تنکیو ځوانانو لپاره، چې عمرونه له **۱۵** تر ۱۸ پورې وي، په اونۍ کې تر **۳۵** ساعتونو؛ او د هغو کارکوونکو لپاره، چې د ترځمکې لاندې کارونو، درانه او یا روغتیا ته زیانمنوونکو چارو باندې بوخت وي، په اونۍ کې تر ۳۰ ساعتونو راکموي. ښځینه کارکوونکې له مزد سره د (۹۰) ورځو د زېږون رخصتۍ مستحقه ده. سربېره پر دې، دغه قانون د کار خاوندان ملزموي، میندواره ښځې د میندوارۍ په ټوله موده کې درانه کارونو ته و نه ګوماري، همدا راز ماشوم لرونکو میندو ته په هرو (۳) ساعتونو کې، اضافي وخت، چې له (۳۰) دقیقو څخه لږ نه وي، د کار ځای په کودکستان کې ماشوم ته د شیدو ورکولو او پرستارۍ په موخه ورکړی دی. د کار قانون، د میندوارو ښځو له استخدام څخه ډډه کول، هم منع کوي. دغه قانون د کار خاوندان پر دې ملزموي، چې د کارکوونکو لپاره د کار د زده کړې فرصتونه وړاندې کړي او د اړتیا په صورت کې، هغوی د لوړو زده کړو موسسو او د مسلکي زده کړو[44] کورسونو ته معرفي کړي. د کار قانون د سختو جسمي او فزیکي، همدا راز روغتیا ته زیانمنوونکو کارونو او د شپې په شیفت کې د ښځو او تنکیو ماشومانو[45] استخداموِل منع کوي.

**د تدارکاتو قانون:** دغه قانون د اساسي قانون د **۷۵** مې مادې پر بنسټ، له دولتي بودجې څخه د ادارو، موسسو او دولتي او ګډو شرکتونو د اړتیا وړ اجناسو، خدمتونو او ودانیزو چارو په برابرولو او تدارک پورې د اړوندو چارو د تنظیم په موخه وضع شوي دي. دغه قانون د تدارکاتو په پړاوونو کې د روڼتیا تامینولو، د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اغېزمن کنټرولو، له ملي سرچینو د باکیفته اجناسو، خدمتونو او ودانیزو چارو د برابرولو او تدارک د اقتصادیتوب او په داوطلبیو کې د شرایط لرونکو ټولو داوطلبانو د ګډون لپاره د زمینې د برابرولو په برخه کې اغېزمنې مرستې کوي. دغه قانون، ادارې دې ته اړباسي، چې په لاس کې د موجودو مالي سرچینو د حجم او اندازې د اقتصادیتوب، مناسب وخت او د نورو محدودیتونو په پام کې نیولو سره، یو تدارکاتي پلان ترتیب کړي. د دغه قانون له مخې، ادارې مکلفې دي، چې د تدارکاتي پلان د وړاندې کولو په وخت کې، د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري قانون د حکمونو له په پام کې نیولو سره اجراات وکړي. په دغه قانون کې د تدارک د تجزیې لپاره، د لږ رقابتي تدارک مېتود ته اجازه ورکړل شوې، چې د تدارک ویش، د ژورې پلټنې واک په کافي اندازه زیاتوي.

**د مالي چارو او عامه لګښتونو د اداره کولو قانون:** دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د **۷۵** مې مادې پر بنسټ، د هېواد په دننه او بهر کې، د دولتي ادارو د مالي چارو، د مالي چارو د ادارې، د بودجې برابرولو او عامه لګښتونو د تنظیم په موخه وضع شوی دی. دغه قانون دولت پر دې ملزموي، چې د ټولو دولتي ادارو عواید او لګښتونه په ناخالصه توګه وړاندې کړي. د دغه قانون له مخې، مالیې وزارت د دغه قانون د حکمونو او ګټو د پلیتابه مسوول دی، او د دولتي ادارو مسوولین د هغوی تر کنټرول لاندې عامه پیسو د ادارې په موخه د دغه قانون د حکمونو او مفادو د پلیتابه په اړه ولسمشر او ملي شورا ته مسوول ګڼل. د دغه قانون پر بنسټ، بودجه د پرمختیا، امنیت او د ملي اقتصاد جوړښت د څو کلنو تګلارو (برنامو) له مخې، برابره او ترتیبېږي. حکومت باید د ملي اقتصاد د جوړښت او د پرمختیایي طرحو پر بنسټ، د راتلونکي مالي کال لپاره د دولت د لاسرسۍ وړ عواید او ټولیز لګښتونه تخمین او وټاکي. د کلنۍ بودجې په اسنادو کې مالي احصاییې لکه د عوایدو، لګښتونو او مالي تامیناتو احصاییې باید د دولت د مالي احصاییې له ډلبندۍ سره سمون وخوري. دولتي ادارې مکلفې دي، د کلنۍ بودجې د کړنلارې سره سم، چې د دغه قانون له حکمونو سره سم ترتیب او د ولسي جرګې له خوا تصویبېږي، اجراات وکړي. له نورو قوانینو سره د مغایرت په صورت کې د بودجې د کړنلارې حکمونوته لومړیتوب ورکول کېږي.

---

۴۴ د کار قانون ۸۲ مه ماده: "د فني او مسلکي زده کړو د مرکزونو او د دولتي او غیردولتي د زده کړو د مرکزونو شرایط او کړنلاره او د غیر دولتي زده کړو په مرکزونو باندې د کار ا و ټولنیزو، شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د څار ډول، د اړوند تقنیني سند له مخې تنظیمېږي؛د کار لارښودي معیارونه او قواعد د اړوندو ادارو په مرسته" د کار او ټولنیزو، شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له خوا طرح او تنظمېږي د کار قانون (۸۷) مه ماده.

۴۵ ۱۲۷ ماده: "تنکی ځوان (کارکوونکي ځوانان) هغه کارکوونکي دي، چې د (۱۴) کلنۍ سن یې بشپړ کړی وي او د (۱۸) کلنۍ سن یې نه وي بشپړ کړی.

**د سيمه ييزو ادارو قانون:** دغه قانون د اساسي قانون د ۱۳۲ او ۱۳۷ مادو پر بنسټ، د ټوليزو خدمتونو په کچه کې د ښه والي او په سيمه ييزو (محلي) ادارو کې د مسووليت منلو او روڼتيا د تضمين په موخه وضع شوی، چې مسوده يې همدا اوس په ولسي جرګه کې تر ارزونې لاندې ده. د ياد قانون له مخې، د ولايتونو واليان د ولايت په کچه او ولسوالان د ولسوالۍ په کچه د دولت استازي دي، او ولايتونه او ولسوالۍ د وګړو د شمېر، جغرافيايي ساحې، د ولسواليو د شمېر، له نورو ولايتونو سره د واټن، ښاري پراختيا او د عوايدو او توليد د ظرفيتونو له مخې، پر ۱، ۲ او ۳ درجو باندې وېشل کېږي. ولايتي اداره، والي، د والي مرستيال، د وزارتونو د ولايتي څانګو رييسانو ته شاملېږي. ولايتي پرمختيايي کمېټه، چې له والي، د والي مرستيال، د وزارتونو د فرعي څانګو له رييسانو، ښاروال، د مدني ټولنې استازي او د سوداګرۍ خونې له ولايتي مشر څخه جوړه ده، دنده لري، چې د ولايت په کچه ټولنيز، اقتصادي، فرهنګي او تکنالوژيک پرمختيايي پلانونه طرح کړي. قانون همدا راز د والي او ولسوالانو واکونه او دندې مشخصوي.[۴۲] والي مسووليت لري، چې د لويې څارنوالۍ او قضاييه قوې د ولايتي استازو په ګډون، له دې پرته، چې د هغوی په کارونو کې مداخله وکړي او خپلواکي يې تر اغېزې لاندې راولي، د وزارتونو له سيمه ييزو او فرعي څانګو سره د همغږۍ ناستې جوړې کړي.د ولايت امنيه قوماندان د والي په وړاندې د ځواب ورکولو مسووليت لري. د ډاډمنې همغږۍ د رامنځته کېدو په موخه، د ولايت په کچه د عدلي ارګانونو ټولې څانګې (محکمې، د لويې څارنوالۍ ولايتي دفتر، په ولايتونو او ولسواليو کې د عدليې وزارت اړوند رياستونه او څانګې) بايد والي او ولسوال د چارو په جريان کې واچوي.

**د ښاروالیو قانون:** د افغانستان د ښاروالیو قانون د اساسي قانون د ۱۴۱ مادې پر بنسټ، د ښاري خدمتونو او حکومتولۍ د پرمختيا په هدف، د کابل ښاروالۍ په ګډون د افغانستان د ټولو ښاروالیو چارې تنظيموي. د دغه قانون يوه مسوده همدا اوس په کابينه کې تر بحث لاندې ده. دغه قانون د ښاروالیو د خپلواکۍ په تضمينولو سره، په ولايتي کچه د ښاروالیو ادارې پر دې ملزموي، چې د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواکې ادارې له لارې او کابل ښاروالۍ د چارو عمومي ادارې له لارې د ولسمشرۍ دفتر ته خپل راپور وړاندې کړي. ياد قانون د ښاروالیو د رامنځته کېدو د شرايطو د بيانولو ترڅنګ، د ناحيې تر نامه، ښار پر کوچنيو واحدونو ويشي. د دغه قانون له مخې، د ښاروالیو عمومي رييسان، (ښاروالان) بايد د ازادو، پټو، عادلانه او شفافو رايو له لارې وټاکل شي.[۴۷] د ښاروال معاونيت، د ملکي کارمند پست دی. د ښاروالیو شورا، د ښاروالۍ تر ټولو لوړه تصميم نيوونکې مرجع ده، چې د خلکو منتخب استازي پکې حضور لري او د نورو دندو ترڅنګ، هغو شکايتونو ته رسېدنه کوي، چې د منتخب ښاروال پر وړاندې وړاندې کېږي. ښاروالۍ د عوايدو د توليد، ترلاسه کولو، ساتنې واک لري او د ښاري حکومتولۍ د ښه والي او د ماسټر پلان او نورو ستراتيژيکو او مفصلو ښاري پلانونو او ښاري فرهنګ د ودې په موخه، د عادي او پرمختيايي بودجې په څېر يې د لګولو له صلاحيت څخه هم برخمن دی.

**د ولايتي شوراګانو قانون:** دغه قانون د اساسي قانون د ۱۳۸ او ۱۳۹ مادو پر بنسټ، د ولايت په کچه له دولتي ادارو سره د خلکو او مدني ټولنې د سازمانونو د مشارکت او ونډه اخيستنې د تامين لپاره او په دې خاطر، چې په اړوندو چارو کې دولتي ادارو ته مشوره ورکړي، د يو جوړښت د رامنځته کېدو او د هغوی د فعاليتونو د تنظيم په موخه وضع شوی دی.[۴۸] د دغه قانون له مخې، ولايتي شوراګانې، رييس، مرستيال، منشي او غړي لري، چې د پرمختيايي پروژو او پلانونو د اهدافو په ټاکلو کې برخه اخلي؛ د ولايت له مالي سرچينو څخه د اغېزمنې ګټې اخيستنې په موخه مشورې وړاندې کوي؛ د اصلاحي جرګو له لارې د قومي او سيمه ييزو لانجو او اختلافونو په حل او له اسلامي شريعت او قانون سره د مغايرو دودونو، رسومو او ادابو په له منځه وړلو کې مشارکت کوي؛ د قانون او حقوقي حراست د مراجعو له کړنې ارزونه او تحليل او ولايتي ادارې ته يې راپور وړاندې کول؛ همدا راز، د ولايتي ادارې او د هغې د اړوندو څانګو د اجرااتو او کاري پلان په اړه د معلوماتو ترلاسه کول؛ د ولايتي ادارې د پرمختيايي پلان او کلنيو لګښتونو د څرنګوالي څېړل او د اړوند ولايت اوسيدونکو ته د ډله ييزو رسنيو له لارې د راپور وړاندې کول؛ له نشه يي توکه سره د مبارزې او د تاريخي اثارو د ساتنې په فعاليتونو کې مشارکت او لږترلږه په هرو دريو مياشتو کې يو ځل د اړوند ولايت له اوسيدونکو، او له والي او د اړوندو ادارو له مسوولينو سره لږترلږه په مياشت کې يو ځل، د ټوليزو مشورتي غونډو د جوړولو له لارې مشوره کول، د ولايتي شوراګانو له دندو څخه شمېرل کېږي.[۴۹] د دغه قانون اتمه ماده د شورا د غونډو په اړه څرګندوي، چې ياده شورا په علني توګه دايرېږي، مګر دا چې د غړو يو پر دريمه برخه يې د شورا د سري دايريدو غوښتنه وکړي. ولايتي شوراګانې د بېړنې حالت په اعلان سره ځنډېږي او د دغه حالت د لرې کېدو په صورت کې بېرته خپل کار پيلوي او همدا راز کله چې د اساسي قانون پرخلاف عمل وکړي، هم دغه شورا ځنډېدلی شي.

۴۲ د واليانو د ونډې په اړه د ژورو حقوقي تحليلونو لپاره، د واليانو او ولايتي شوراګانو د دندو، ونډو او اړيکو حقوقي اړانه، وګورئ، د سيمه ييزو ادارو خپلواکه اداره، ۲۰۱۳ ز. کال، سپتمبر.

۴۷ د ښاروالیو او د ښاروالیو د شوراګانو ټاکنې تراوسه پورې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون له خوا نه دي ترسره شوي، د دغو ټاکنو د نه ترسره کېدو لاملونه، د ښاري پولو ناڅرګندوالی، د ښاري وګړو له شمېر څخه د دقيق اټکل نشتوالی او د تابعيت تذکرو نه ويش او د قانوني مسودې ځنډ ښودل کېږي.

۴۸ د ولايتي شوراګانو د قانون يوه کاپي، کېدای شي، د سيمه ييزو ادارو د خپلواکې ادارې د سيمه ييزو شوراګانو د چارو له عمومي رياست څخه ترلاسه شي.

۴۹ د اداري، فردي او تخنيکي ظرفيتونو په برخو کې د ولايتي شوراګانو د غړو اغېزمنتيا ډېره کمزورې ده.

## ۳.۳ عدلي ځانګه

**د محکمو د تشکیل او واکونو قانون:** دغه قانون د اساسي قانون د (۱۱۲ او ۱۲۳) مادو پر بنسټ، د افغانستان د قضاییه قوې تشکیل او د سترې محکمې او د استیناف او ابتداییه محکمو د دند او واکونو او د هغو د اړوندو قاضیانو د چارو د تنظیم په موخه وضع شوی دی. د قانون له مخې، قضاییه قوه د دولت خپلواک رکن دی، چې له سترې محکمې، استیناف او ابتداییه محکمو څخه مرکبه ده، چې ټول د لانجو د حل او فصل په هدف دنده ترسره کوي. ګرځندې (سیارې) محکمې د اړتیا پر مهال، د سترې محکمې په وړاندیز او د ولسمشر په منظورۍ جوړېدای شي. ستره محکمه د هېواد د ډېر لوړ قضایي ارګان په توګه له نهو غړو څخه جوړه ده، چې د اساسي قانون د ۱۱۷ او ۱۱۸ مې مادې له مخې، د ولسي جرګې په تایید، د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي. د دغه قانون له مخې، قاضیان نه شي کولی، چې د سیاسي ګوندونو غړیتوب ترلاسه کړي. ولسمشر د سترې محکمې له غړو یو یې، د سترې محکمې د رییس په توګه ټاکي. د یاد قانون د ۸ مې مادې له مخې، د دعواوو اړخونه کولی شي، د ښکتنۍ محکمې د صادرو شوو پرېکړو په اړه د قانون له حکمونو سره سم، د پورتنۍ محکمې په وړاندې اعتراض وکړي.[۵۰]

**د بشري حقوقو د خپلواک کمېسیون د دندو، واکونو او تشکیل قانون:** دغه قانون د اساسي قانون د ۵۸ مې مادې او د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلې د ۱۹۹۳ ز. کال د دسمبر د ۲۰ مې نېټې د ۱۳۴ ګڼې پریکړه لیک پر بنسټ، د بشري حقوقو پر رعایت د څارنې، د بشري حقوقو د ښه والي، له بشري حقوقو څخه د ملاتړ او د افغانستان د بشري حقوقو د خپلواک کمېسیون د تشکیل، دندو، واکونو او فعالیتونو د څرنګوالي د چارو د تنظیم په موخه، وضع شوی دی. د دغه قانون پر بنسټ، د بشري حقوقو کمېسیون، په هېواد کې د بشر د حقوقو پر رعایت څارنه کوي؛ د بشري حقوقو د تعمیمولو په برخه کې کار او ترې ملاتړ کوي؛ بشري حقوقو او ازادیو ته د وګړو د لاسرسي له وضعیت او څرنګوالي څخه څارنه کوي او بنسټیزو حقوقو ته د رسېدنې اسانتیاوې برابروي او د بشري حقوقو د نقض موارد څېړي. قانون د دې یادونه کوي، چې عدلي، او قضایي ارګانونه، وزارتونه، دولتي او نادولتي ادارې او موسسې او د هېواد نور اتباع مکلف دي، چې په دغه قانون کې د درج شویو هدفونو د ترلاسه کېدو په برخه کې له یاد کمېسیون سره همکاري وکړي.

**د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون:** دغه قانون د اساسي قانون د ۲۴ او ۵۴ مادو پر بنسټ، جوړ شوی دی. د دغه قانون تصویب، د افغانستان د ښځو لپاره د ملي اقدام پلان (NAPWA) (۲۰۰۹ز. کال) په برخه کې ستره لاسته راوړنه ده.[۵۱] دغه قانون د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې، د ماشومانو ودول، اجباري ځان سوځونې، اجباري کار او پر پټ د تیري په ګډون د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۱۹ نور موارد، جرم ګڼي. دغه قانون وړیا روغتیایي خدمتونو، حقوقي خدمتونو، د امن خونې ته لاسرسی، د زیان د ورکړې او نور هغه ټول حقونه د ښځې لپاره خوندي کوي، چې په قانون کې ترې ملاتړ شوی دی. دغه قانون اوسمهال د پلي کېدو وړ دی، که څه هم ولسي جرګه دې ته حاضره نه شوه، چې تصویب یې کړي، خو د ولسمشر د حکم له مخې د اجرا وړ ورګرځېد. په دغه قانون کې یادونه شوې، د ښځو چارو وزارت دنده لري، چې له قربانیانو سره د مرستې په خاطر جدي اقدامات تر لاس لاندې ونیسي. له څارنوالي او محکمو څخه هم غوښتنه کېږي، چې د اساسي لومړیتوب په توګه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالو قضیو ته رسېدنه وکړي. دغه قانون همدا راز د ښځو چارو وزارت ته سپارښتنه کوي، چې په دې برخه کې، مخکې له مخکې اقدامات ترلاس لاندې ونیسي، په دې برخه کې، د روزنیزو ورکشاپونو، غونډو، سیمینارونو او ښوونیزو پروسو په جوړولو سره خپل مسوولیت ترسره کړي. همدا راز د حج او اوقافو وزارت دنده لري، چې د جوماتونو له لارې په دې برخه کې د عامه ذهنیتونو د معلوماتو د زیاتېدو په برخه کې اقدام وکړي. د پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونو مکلفیت لري، چې په خپلو درسي نصابونو کې، په دغو موضوع پورې اړوند معلومات شامل کړي، په همدې حال کې، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دنده لري، چې په دې برخه کې د عامه پوهاوي او خبرتیاوو د کچې له لوړاوي سره د مرستې په موخه، د چاپي او برېښنایي رسنیو له لارې اقدام او په دې تړاو د ګټورو توکو خپراوي ته اسانتیاوې برابرې کړي. په ورته وخت کې، د عدلیې، کورنیو چارو او عامې روغتیا وزارتونه دنده لري، چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالو په کچه کې د کموالي او د تاوتریخوالو له پېښو څخه د راپور وړاندې کولو په ظرفیتونو کې د زیاتوالي په هدف ګټور ګامونه پورته کړي. د یاد قانون ۱۵ مه ماده، د ښځو چارو وزارت په مشرۍ او د لویې څارنوالۍ او د کورنیو چارو وزارت د مرستیالانو، عدلیې، عامې روغتیا، اطلاعاتو او فرهنګ، پوهنې، کار او ټولنیزو، حج او اوقافو وزارتونو، د بشري حقوقو د خپلواک کمېسیون د اړوند کمیشنر، د کابل د ځانګړې فامیلي محکمې، او د مدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې په غړیتوب، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په برخه کې د یوه ځانګړي کمېسیون د جوړېدو وړاندوینه کړې ده.[۵۲]

---

۵۰ دغه ماده د کافي دلیلونو د وړاندې کېدو له اړتیا څخه یادونه نه کوي او استیناف طلبۍ او تمیز ته لاره اسانه کړې. په پایله کې، د استیناف محکمو او سترې محکمې، په دومره کچې د دعواوو دوسیې ترلاسه کوي، چې هغوی ته د رسېدنې توان نه لري. دا د قضایي خدمتونو د وړاندې کېدو په برخه د کمزورتیا یوه نښه ده. ځکه دغه چاره سربېره پر دې، چې د محاکمو کارونه زیاتوي، د فسادي کړنو لپاره په ځانګړې توګه هغو کسانو ته، چې زور او پیسې لري، هواروي.

۵۱ دغه قانون یو شمېر ذاتي کمزورتیاوې هم لري؛ د دغو کمزورتیاوو د درک په اړه د نورو جزییاتو د ترلاسه کولو په موخه، په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون د پلیتابه اوږده لار، وګورئ، یوناما او OHCHR، نومبر، ۲۰۱۱ ز. کال.

۵۲ د دودیز حاکمیت په بڼه، له ټولنیزو او فرهنګی فشارونو سره سره، چې رسمي ادارو ته د تاوتریخوالو د پېښو د راپور ورکولو په لاره کې خنډ ګرځي،

## ۳.۴ سیاسي او مدني مشارکت

**د ټاکنو قانون:** دغه قانون د اساسي قانون د **۳۳** مادې له حکم سره سم، په ټاکنو پورې اړونده چارې، چې د ازادو، عادلانه، عمومي، مستقیمو، رښو او پټو رایو له لارې ترسره کېږي، تنظیموي. ټاکنې د ولسمشر، د ولسي جرګې، د ولایتي، ولسوالیو، کلیوالي او د ښاروالیو شوراګانو د غړو او ښاروال د ټاکل کېدو په موخه ترسره کېږي[53]. اساسي قانون د ټاکلو او ټاکل کېدو حق تضمینوي. نوماندان او رایه ورکوونکي باید د خپلې ازادې ارادې له مخې په ټاکنو کې برخه واخلي. د دغه قانون پربنسټ، د ژبې، مذهب، قوم، جنس، قبیلې، سمت، استوګنې او ټولنیز یا وظیفوي موقف او معلولیت له مخې، پر رایه ورکوونکو هر راز مستقیم او نامستقیم محدودیت اعمالول منع دی. د یاد قانون له مخې، دولتي او نادولتي ادارې، سیاسي ګوندونه او د ګوندونو ایتلاف او ټولنیز سازمانونه مکلف دي، د ټاکنو په بهیر کې له کمېسیون، د شکایتونو کمېسیون او نورو اړوندو کمېسیونونو سره همکاري وکړي، هغه پرېکړې، چې د دغه قانون د حکمونو پر بنسټ، د کمېسیون له خوا نیول کېږي، په پام کې ونیسي او تعمیل یې کړي.

**د سیاسي ګوندونو قانون:** دغه قانون، د اساسي قانون د **۳۵** مې مادې پر بنسټ، په افغانستان کې د سیاسي ګوندونو د رامنځته کېدو، د فعالیت، حقوقو، وجایبو او انحلال د ځرنګوالي د توضیح په موخه وضع شوی دی. په دغه قانون کې ویل شوی، د افغانستان سیاسي سیستم د دموکراسۍ او د ګوندونو د تعدد پر بنسټ ولاړ دی. دغه قانون ټولو وګړو ته اجازه ورکوي، چې د رایې ورکولو عمر یې بشپړ شوی وي، د دوی له مذهبي، تعلیمي، مسلکي، ژبنې، قومي، قبیله یي، جنسي، سمتي، استوګنې، وظیفوي، نسبي، شتمني تعلقاتو له په پام کې نیولو پرته، سیاسی ګوند جوړ کړي. سیاسي ګوندونه مکلف دي، چې د ثبت پرمهال ۱۰،۰۰۰ غړي ولري، او د افغانستان له ۳۴ ولایتونو څخه لږترلږه له ۲۰ ولایتونو څخه یې د اشخاصو د ژمنتیاوو او تصدیق لیکلی لاسلیک شوې پاڼه ولري. عدلیې وزارت حق لري، چې سیاسي ګوندونه راجستر کړي او هر افغان وګړی، چې د ۱۸ کلنی عمر یې بشپړ کړی وي، د سیاسي ګوند غړیتوب ترلاسه کولی شي. د دغه قانون له مخې، د سیاسي ګوندونو د تمویل سرچینې عامې دي، چې د غړو مالي مرستې، د حقوقي اشخاصو ورکړه، چې په کال کې تر دوو میلیونو افغانیو پورې وي، د ګوند د اړوندو منقولو او غیرمنقولو مالونو له درکه عواید او دولتي مرستې په بر کې نیسي. د دولتي مالي او سوداګریزو ادارو مسوولان او لاربنود پلاوی نه شي کولی، له خپل موقف څخه د سیاسي ګوندونو په ګټه یا زیان کار واخلي. که چېرې سیاسي ګوندونه له زور او یا ګواښ څخه کار واخلي او یا د اساسي قانون خلافې کړنې ترسره کړي، ستره محکمه کولی شي، د عدلیې وزارت په غوښتنه یې منحل کړي.

**د ټولنیزو سازمانونو قانون:** دغه قانون د اساسي قانون د **۳۵** مې مادې پر بنسټ، د ټولنیزو سازمانونو د رامنځته کېدو پورې اړوندې چارې، حقونه، ژمنتیاوې او د فعالیت او انحلال ځرنګوالي تنظیموي. یاد قانون د **۲۰۱۳** ز. کال په سپتمبر کې توشیح شو.[54] قانون سازمانونه، هغه ټولنې، اتحادیې، شوراګانې، مجمع او سازمانونه ګڼي، چې د حقیقي اشخاصو د یوې ډلې له خوا په داوطلبانه توګه رامنځته شي، او د قانون له مخې په غیرانتفاعي او غیرسیاسي توګه فعالیت کوي؛ ټولنیز سازمانونه سیاسي فعالیت نه شي کولی، او همدارنګه له بهره هم نه راجستربږي. په عدلیې وزارت کې تر ثبتېدو وروسته، ټولنیز سازمانونه اجازه لري، چې ټولیز او متقابل ګټور فعالیتونه ولري او تر ۱۰ لږ موسس غړي باید و نه لري. تر ۱۸ کالو د ټیټ عمر لرونکي افغان، بې هویته او بهرني وګړي نه شي کولي چې ټولنیز سازمانونه جوړ کړي. سازمان د ۱۰،۰۰۰ افغانیو په ورکړې سره راجستر او پر همدومره مبلغ راجستر یې نوی کېږي؛ قانون د هر سازماني فعالیت لپاره د اجباري راجستریشن وړاندوینه کوي او د راجستر د پای ته رسېدو موده، درې کاله وي.

دغه قانون د افغانستان په قضاییه قوه کې د اجرا وړ دی. په افغانستان کې د حقوقي سمونونو د کمزروتیا له امله، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون نه شي کولی، چې د افغانستان د جزا قانون په پایله کې ترسره شوي اجراات خنثا کړي؛ د یوناما دفتر د **۲۰۱۲** کال یو راپور د دې ښودنه کوي، چې د وژنې او نورو جدي جرمونو یو لړ پېښې، د دې پرځای چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ضد قانون له مخې څېړل شوې وای، د جزا قانون له حکمونو سره سم ورته رسېدنه شوې وه. دغه چاره د دې لامل شوه، چې مجرمین تبریه، تورونه یې کم او په سپکو جزاګانو محکوم او ښځینه قربانیان پر "اخلاقي جرایم" تورنې شي.

**۵۳** د ښاروال، ولسوالیو، کلیوالي او ښاروالی شوراګانو ټاکنې تراوسه پورې نه دي ترسره شوي.

**۵۴** په http://www.icnl.org/research/library/files/Afghanistan/assoclaw.pdf د ترلاسه کېدو وړ دی.

**د نادولتي موسسو قانون:** دغه قانون پر **۲۰۰۵** ز. کال د ولسمشر له خوا توشیح شوی، خو له تعدیلونو سره په ولسي جرګه کې ځنډېدلی دی[۵۵]. یاد قانون د کورنیو او بهرنیو نادولتي موسسو دواړو لپاره، د اجرا وړ دی. د دغه قانون له مخې، نادولتي موسسې کولی شي، ټولیز او د متقابلې ګټې فعالیتونه ولري[۵۶] او په اقتصاد وزارت کې ثبت شي، چې دغه چاره په ساختماني قراردادونو کې د هغوی د برخه اخیستو موضوع تضمینوي. نادولتي موسسې مکلفې دي، چې د راجسترکېدو او تاییدیدو په هدف، خپل شپږ میاشتنۍ راپور او د پروژو اسناد وزارت ته وسپاري. د موسسې پروژې د پلیتابه مخکې او وروسته د وزارت له خوا ارزول کېږي[۵۷]. نادولتي موسسې سیاسي فعالیتونه نه شي کولای، په ځانګړې توګه ټاکنیز کمپاین نه شي ترسره کولی، چې تر ډېره د سیاسي فعالیت اصطلاح ورته کارول کېږي.

**د رسنیو قانون:** د ازادو رسنیو قانون د اساسي قانون د **۳۴** مادې او د بشري حقوقو د نړیوال تړون د **۱۹** مادې پر بنسټ د بیان او فکر د ازادۍ په هدف وضع شوی او د هغو ازادو رسنیو فعالیتونه تنظیموي، چې په اطلاعاتو او فرهنګ وزارت کې، د معلوماتو د خپراوي د وسیلې په توګه ثبت او راجستر شوي دي. دغه قانون، د بیان او اند د ازادۍ او معلوماتو ته د خبریالانو د لاسرسۍ د حق خوندیتوب تضمینوي؛ همدا راز ژورنالیستانو ته اجازه ورکوي، چې سازمانونه جوړ کړي. په همدې توګه، د هېواد وګړي، سیاسي ګوندونه، راجستر شوي ملي سازمانونه او بهرنیان په هېواد کې د رسنیزو سازمانونو د جوړولو حق لري. د رسنیو قانون، د هغو مطالبو خپراوي منع کوي، چې د اسلام دین د اصولو مخالف وي، یا پکې نورو دینونو، مذهبونو او فرقو ته سپکاوي شوي وي. همدارنګه د هغو محتویاتو خپرولو ته هم اجازه نه ورکوي، چې یکې د یو شخص بې احترامي شوي وي یا د یو شخص د بدنامۍ لپاره خپاره شوي وي. دغه قانون، د اطلاعاتو او فرهنګ له وزارت څخه د مخکنۍ اجازې د ترلاسه کولو په شرط، بهرنیو وګړو ته، په افغانستان کې د سینمایي فیلم د تولید اجازه ورکوي

**۵۵** د موسسو، د داوطلبۍ او په مالیاتو قانون کې تعدیلونه، اوس په ولسي جرګې کې ځنډېدلي، چې وروستني یې که تصویب شي، نو د هغو ډونرانو لپاره، چې له مالیې معافو ازادو سازمانونو سره مرسته کوي، یو لړ مشوقونه وړاندې کوي.

**۵۶** د مالیاتو قانون ۱۰مه ماده، د هغو ازادو "سازمانونو مالیات محدودي"، چې د ښوونیزو، فرهنګي، ادبي، علمي او یا خیریه چارو په برخو کې کار کوي.

**۵۷** د ۲۰۱۲ کال په جنورۍ کې د اقتصاد وزارت اعلان وکړ، چې ۲۰۰ افغان او او **۱۹۵** نا دولتي موسسې یې له یاد وزارت سره د خپل دوه کلنۍ راپور د نه سپارلو له امله، تړلي دي. یاد وزارت وایي: "که نا دولتي موسسې په هرو دریو میاشتو کې خپل راپور موږ ته وړاندې نه کړي او که دغه لړۍ تر دوو کلونو پورې دوام وکړي او موږ په دغه موده د هغوی راپور ترلاسه نه کړو، نو دغه موسسې په غیرفعالې شي". له همدې امله، د **۲۰۱۳** ز. کال په اپریل کې تر ۱۳۰ زیاتې نا دولتي موسسې او د ۱۰ په شاوخوا نړیوالې موسسې ړنګې شوې.

# ۴. د ادارو د جوړښت کلي طرحه

## ۴.۱ دولت - جمهوري رياست

**د افغانستان دولت:** متحد دولت دی. سياسي واک په کابل کې د حکومت يو شمېر ادارو ته ورکړل شوی، خو مالي واک د اساسي قانون د ۱۳۷ مې مادې له حکم سره سم، محلي يا سيمه ييزو حکومتونو ته هم سپارل شوی دی. د بن له هوکړه ليک[۵۸] (۲۰۰۱ز.) سره سم پيل شوی دولت متمرکز او د ولسمشر له خوا رهبري کېږي، په دې توګه، د قواوو له تفکيک سره، چې په اساسي قانون کې يې تصريح شوې، د دولت بڼه رياستي ده. اجراييه قوه، (د ولسمشر په مشرۍ ۲۵ وزارتونه او ۱۱ رياستونه، پنځه کمېسيونونه او يو شمېر خپلواکې ادارې په بر کې نيسي). مقننه قوه، (د ملي شورا له دواړو جرګو څخه جوړه ده) او قضاييه قوه، (د دولت يوه خپلواکه څانګه ده، چې ستره محکمه، استيناف او ابتداييه محکمې) په برکې نيسي.



ارګ، د ولسمشرۍ ماڼۍ

**جمهوري رياست:** د افغانستان ولسمشر د پاچا او لومړي وزير يو ترکيب دی، چې تر ټولو ستر واک لرونکي مقام ګڼل کېږي. (د اساسي قانون ۳ څپرکي ۶۰-۷۰ مادې د ولسمشر په اړه دي). د منتخب مشر په توګه ولسمشر د دولت د دريو څانګو رهبري پر غاړه لري او همدارنګه د وسلوال پوځ اعلی سرقوماندان دی. ولسمشر واک لري، چې لوړ پوړي چارواکي وټاکي، قوانين او تقنيني فرمانونه لاسليک او توشيح کړي، د بېړنۍ حالت اعلان او د اساسي قانون له اجرا څخه څارنه وکړي؛ همدا راز هغه د مجازاتو د تخفيف او بښنې واک لري او د دولت بنسټيزې تګلارې او سياستونه ټاکي. ولسمشر دوه مرستيالان لري، او د کابينې غړي د ملي شورا له ولسي جرګې د باور رايې تر ترلاسه کېدو وروسته ټاکل کېږي. يو شخص د دوو دورو لپاره د ولسمشر په توګه ټاکل کېدای شي، نو له همدې امله اوسنی ولسمشر د ۲۰۱۴ ز.کال په اپريل کې څنګ ته کېږي.

## ۴.۲ اجراييه قوه

د اساسي قانون ۸ څپرکي (۱۳۶ – ۱۴۲ مادې)، مرکزي او سيمه ييزې ادارې معرفي کوي.

### ۴.۲.۱ د ملي اداره دستګاه (ملي بيروکراسي)

د اساسي قانون د ۴ څپرکي (۷۱ تر ۸۰ ) مادې د ملي ادارې دستګاه، چې د وزيرانو له خوا رهبري کېږي، بيانوي. د وزارتونو کچه (مرکزي وزارتونه، د ولايتونو په کچه رياستونه او د ولسواليو په سطحه امريتونه دي) او محلي ادارې (د محلي حکومت خپلواکې ادارې، د والي دفتر، د ولسوال دفتر او ښاروالۍ) ټولې د ملي ادارې د دستګاه جزء دی، دولتي اداره د ملکي کارکوونکو (رسمي – قراردادي) له خوا پرمخ بېول کېږي.

### ۴.۲.۲ محلي يا سيمه ييز حکومتونه

د افغانستان د اساسي قانون ۱۳۷ مه ماده د محلي اداري واحدونو د نماينده پلاوي د واک په اړه بحث کوي، چې په ولايتونو او ولسواليو کې د وزارتونو، عمومي رياستونو او کمېسيونونو فرعي څانګو ته شاملېږي. د سيمه ييزو اداري واحدونو د پلانونې، بودجوي چارې او د تصميم نيونې واک محدود دی، په دې توګه بڼه يې کمزورې دی.[۵۹] په افغانستان کې د څلورو په کچه سيمه ييزې ادارې او حکومتونه موجود دي: ولايت، ولسوالۍ، ښاروالۍ او کلي؛ او د سيمه ييز حکومت د څلورو په کچه ارګانونه: د والي دفتر، د ولسوال دفتر، ښاروالۍ او ولايتي شوراګانې، چې د محلي ارګانونو د خپلواک رياست له لارې له مرکزي ادارې سره

۵۸ يو نړيوال کنفرانس دی، چې د ملګرو ملتونو په نوښت جوړ شوی و، چې پکې د افغان طالبانو ضد يو زيات شمېر مخالفو کړيو برخه درلوده.

۵۹ "سيستم بېړنۍ تغيير ته اړتيا لري، او جدي نامتمرکز اصلاح ته. په ځانګړې توګه د ولايتونو د واليانو او مالي منجمنت په برخه کې دغه چاره ډېره اړينه برېښي. واليان تر هغه وروسته نيمه انتخابي وي"؛ (چې ولسمشر د پنځو نوماندانو له منځ څخه، چې د ولايتي شوراګانو له خوا، چې په ولايتي کچه د خلکو استازې شورا ده، معرفي شوي وي، يو تن د والي په توګه ونوموي". له منصور سره مرکه.

اړیکې پیدا کوي.[۲۰] اساسي قانون حکومت پر دې ملزموي، چې د ولایتونو، ولسوالیو، ښاروالیو او کلیو په کچه منتخبې شوراګانې جوړې کړي، چې تراوسه پورې یوازې د ولایتي شوراګانو غړې د ټاکنو له لارې ټاکل شوي، او نورې لاتراوسه ناڅرګندې پاتې دي. د سیمه ییزو ادارو خپلواکه اداره د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت سره په ګډه په دې هڅه کې ده، چې د ولسوالیو منتخبو شوراګانو ته د ولسوالیو د همغږۍ شورا د بشپړ لېږد پر شونتیاوو کار وکړي. د وزیرانو شورا د ولسوالیو د همغږۍ شورا د شرایطو او پالیسیو لارښود تصویب کړی دی.[۲۱] د دغه طرزالعمل له مخې، یادې شوراګانې، د ولسوالیو د اوسنیو پرمختیایي شوراګانو له لارې رامنځته کېږي او د ولسوالیو د همغږۍ شورا په نامه باندې نومول کېږي، او په ولسوالیو کې موجودې پرمختیایي او نورې ټولنیزې شوراګانې یکې مدغم کېږي، په کومو ولسوالیو کې، چې پرمختیایي او نورې شوراګانې نه وي موجودې، نو د همغږۍ شورا نوی رامنځته کېږي.[۲۲] د ښاروالیو (۳۳ ولایتي ۱۲۰ د ولسوالیو په کچه) په استثنا، فرعي اداري واحدونه نه شي کولی، چې په مستقیمه توګه عواید ترلاسه او مصرف یې کړي. سیمه ییزې ادارې یا د ولایتونو په کچه د وزارتونو فرعي څانګې له وزارتونو څخه استازیتوب کوي، دغه ادارې د هغو ټولیزو خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې مسوولیت لري، چې په مرکز پورې اړه یې پرېکړې کېږي، دغه بنه، د مرکزي ادارو په پرتله، د سیمه ییزو ادارو، د پرمختیا یوه کمزورې بڼه وړاندې کوي.[۲۳] د کابل د ښاروالۍ دفتر، ټول عواید راټولوي، ترڅو ښېرته یې په پرمختیایي چارو ولګوي. پر ۲۰۱۰ ز. کال بیا هم د سیمه ییزې حکومتولۍ لپاره پراختیایي پلان په پام کې ونیول شو، که څه هم کمې برپاوې یې درلودې. په دې برخه کې، یوه مهمه ننګونه، د پالیسیو پرمختیایي قانون دی، چې درې کاله مخکې تسوید، خو تر نن ورځې پورې په کابینه او پارلمان کې پاتې دی.[۲۴] همدارنګه پر ولایتي څانګو د پي. آر. ټي ګانو له خوا د سرچینو نابرابر ویش هم سیمه ییزې حکومتولۍ سیستم له ننګونې سره مخامخ کړی دی.[۲۵]

## ۴.۳ عدلي څانګه[۲۶]

عدلي سکتور افغان ملي پولیس، لویه څارنوالي، محاکم او عدلیې وزارت په بر کې نیسي. لویه څارنوالي د پېښو تحقیق او څېړنه کوي؛ (یوازې جنایي ده)؛ محکمې اختلافونه حلوي په داسې حال کې، چې د عدلیې وزارت ریاست (حقوق) د محکمو د حکم په اجرا کې مرسته کوي.

### ۴.۳.۱ افغان ملي پولیس – د کورنیو چارو وزارت

د اساسي قانون د ۱۳۴ مې مادې له مخې، د جرایمو کشف او پېژندنه د پولیسو له مسوولیتونو څخه دی، چې د کورنیو چارو وزارت له خوا رهبري کېږي او د اساسي قانون د ۵۲، ۷۵ او ۱۳۴ حکمونو پر بنسټ تنظیم شوی دی. افغان پولیس د قانون اجرایي ځواک دی.

### ۴.۳.۲ لویه څارنوالي

د اساسي قانون د ۱۳۴ مې مادې له مخې لویه څارنوالي د کابینې برخه ده، خو په خپلو چارو کې خپلواکه ده او د جرایمو د پلټلو او څېړلو دنده لري. لویه څارنوالي په کابل کې یو مرکزي دفتر او په ولایتونو کې ولایتي دفترونه لري.

---

۲۰ IDLG د سیمه ییزو ادارو خپلواکه اداره، د محلي حکومتونو د پیاوړتیا او ښه حکومتولۍ د رامنځته کېدو په برخه کې مسوولیت لري؛ ترڅو داسې تضمین ترلاسه شي، چې د والي، ولسوالانو، ښاروالیو او ولایتي شوراګانو دفترونه په هغه کچه پیاوړي شي، چې خپلې چارې په خپله ترسره کړي.

۲۱ دسیمه ییزوادارو دخپلواکې ادارې کلنی راپور ۱۳۹۲، _http://www.idlg.gov.af/eng/images/stories/AnnualReports/idlg_annual report_2013_ eng_version.pdf

۲۲ لطفا د سازماني او عملي کړنو لپاره د ولسوالیو د همغږي شورا د تاییدېدو جزییات وګورئ.

۲۳ ښاروالان د قانون له مخې انتخابي دي، که څه هم ولسمشر د هغوی د انتصابولو چارې ته دوام ورکوي.

۲۴ د سیمه ییزو ادارو د خپلواکې ادارې درې میاشتنۍ راپور، د ۲۰۱۳ ز. کال سپتمبر.

۲۵ کینیت کاتزمن، 'افغانستان، سیاست، ټاکنې او د حکومت کړنې'، سي. آر. اس. ۲۰۱۳ز. کال، د نومبر ۲۲مه، https://www. fas.org/sgp/crs/row/ RS21922.pdf

۲۶ په دې اړه، چې کوم ارګانونه، د عدلي څانګې ادارې دي، متضاد تفسیرونه موجود دي. د NPP۵ قانون او د ټولو لپاره عدالت، افغان ملي پولیس په دې سکتور کې نه شاملوي، خو اساسي قانون پولیس د جرمونو په کشف کې مسوول ګڼي او په دې توګه یې په عدلي پروسه کې ورته مهمه ونډه ورکوي.

## ۴. ۳. ۳ قضاییه قوه: ستره محکمه، استیناف او ابتداییه محکمې

د اساسي قانون درییم څپرکی (له ۱۱۲ تر ۱۳۵) پورې مادې، قضاییه قوه تشریح کوي، چې ستره محکمه، استیناف محکمه، ابتداییه محکمه[۶۷]، عمومي اداري امریت او مرکزي ریاستونه په بر کې نیسي. قضاییه قوه د دولت خپلواک رکن دی[۶۸] (د اساسي قانون ۱۱۲ مه ماده)، هغه واکونه، چې د محکمو د تشکیلاتو او دندو په قانون کې تنظیم شوي، پر ۲۰۰۵ ز. کال تایید شو. محکمې له ټولو ملکي قضیو سره د (ملکي قانون) او (جرمي او جنایي پېښو) سره د جزا قانون پر بنسټ چلند کوي. د قضاییه قوې عمومي اداري آمریت د محکمو اداري چارې سمبالوي.[۶۹] د اساسي قانون ۱۱۷ مه ماده ستره محکمې ته تر ټولو لوړ قضایي واک ورکړی، چې د قضاییه رکن په دننه، د قضایي قوې ډېر لوړ جوړښت او تشکیل دی.[۷۰] ستره محکمه په ۳۲۵ محکمو کې د ۱۳۷۰ تنو قاضیانو په درلودلو سره، ټولو ملکي، سوداګریزو، ټولیزو جرمونو، عامه او پوځي جرایمو او د عامه امنیت په وړاندې جرمونو او د علاقې وړ نورو برخو ته رسېدنه کوي. له هغه ځایه، چې ستره محکمه له اساسي قانون سره د نورو قوانینو د تطبیق او مقابلې او په خپله د اساسي قانون د مادو ترمنځ د تناقضي مواردو[۷۱] د څېړلو یوازینی واک لرونکې مرجع ده، نو په دې توګه د لاندینیو محکمو له خوا ټول پورتني موارد سترې محکمې ته راجع کېږي، چې دغه چاره په ستره محکمه کې کاري حجم زیات کړی دی. دې ته په پام سره، یوازې په لوړه کچه اړیکې او په کافي اندازه مالي سرچینې کولی شي، د دغو مواردو په څېړلو کې مرسته وکړي. په قضایي برخه کې همدا راز د هر ولایت په مرکز کې د استیناف یوه محکمه موجوده ده، چې پنځه څانګې لري: (د ټولیزو جرایمو، عامه امنیت، د مدني او شخصي، عامه حقوقو او سوداګریزې څانګې) دي. ابتداییه محکمه، د ولایتونو په مرکزونو او په ولسوالیو کې ټولې ابتداییه محکمو ته شاملېږي.

## ۴. ۳. ۴ د عدلیې وزارت

د عدلیې وزارت د اجرایي رکن پورې اړه لري، چې د قانون جوړونې د چارو د تنظیم او پرمختیا او همدارنګه د قانون رول د تثبیت په برخه کې دنده لري. په عدلیې وزارت کې د حقوقو ریاست، هغه څانګه ده، چې د (مدني) قضیو پیل ګټل کېږي، خو د دواړو (مدني او جنایي) پېښو پای ګټل کېږي. د حقوقو ریاست د محکمو د پرېکړو پلیتابه تضمینوي.

---

۶۷ د ماشومانو، کورنۍ، لومړنې سوداګریزې او د نشه توکو محکمې، د "محکمې نورې" فرعي څانګې دي.

۶۸ هغه څه ته په پام سره، چې په قضاییه قوه کې اداري فساد خپل اوج ته رسېدلی، نو د قضاییه قوې استقلالیت د دې پرځای، چې یو فضلیت وي، تر ډېره له فساد سره مرسته کوونکي دی. له سرابي، منصور او د عدلیې وزارت د بشري منابعو له رییس نجیب الله جامي سره مرکه. ۲۰۱۴ ز. کال، د جنورۍ ۸ مه.

۶۹ د قضا عمومي اداري آمریت، د سترې محکمې د رییس، د عالي شورا د دارالانشاء دفترونه، د تحریراتو، څېړنو، مطالعاتو، قضایي ارزونو، اسنادو او اسلامي احکامو د ثبت، خپرونې، مطبوعاتي چارې، مالي او مدیریتي، څارنې، تعمیراتي او د سوانح څانګې په بر کې نیسي.

۷۰ د عالي شورا دندې عبارت دي له: د قوانینو تفسیر، د محکمو د پرېکړو بیاکتنه، د قضایي دستګاه د تنظیم په موخه د نوي حقوقي چوکاټ وړاندېز، د محکومینو د اعادې د مواردو څېړل، د محکمو ترمنځ د قضیو د لېږد اجازې، د قضایي رویې له قوام څخه د ډاډ ترلاسه کول، د اړوندو مقرراتو تصویبول، د بودیجې چمتو کول، د محکمو پر کړنو څارنه او د قاضیانو لپاره د ظرفیت جوړونې پلانونو په لاره اچول.

۷۱ له حقوقي کارپوه او شنونکي او د بشرحقوقو کمېشنر فرید حمیدي سره مرکه، ۲۰۱۴ز. کال د جنورۍ ۱۱ مه.

## ۴.۴ مقننه قوه

د اساسي قانون **۵** څپرکی (**۸۱-۱۰۹** مادو) د مقننې قوې دواړو جرګو او د هغو د غړو د ټاکل کېدو او غوراي څرنګوالي او د قانون جوړونې پروسه بیانوي. د افغانستان ملي شورا د ستر تقنیني ارګان په توګه د خلکو د واک مظهر دی، چې له مشرانو جرګې او ولسي جرګې څخه متشکله ده. افغان ملي شورا په هېواد کې د قانون جوړونې تر ټولو لوړ ارګان او د خلکو د واک څرګندوی دی، چې د مشرانو جرګې (۱۰۲ څوکۍ) انتصابي او انتخابي او د ولسي جرګې (**۲۴۹** څوکۍ) انتخابي[۷۲] غړو څخه جوړه شوې ده. د ملي شورا دواړې جرګې په هر کال کې د نهه میاشتنې مودې لپاره په منظمه توګه، همهاله خو بېلې بېلې غونډې لري. د مشرانو جرګې او ولسي جرګې د کورني دندو اصول، چې د اساسي قانون د ۱۲۰ مې مادې پر بنسټ توضیح او **۸۷**، **۸۸**، **۸۹**، **۱۰۲**، **۱۰۸** او **۱۰۹** مادو په اساس رامنځته شوې، د مشرانو جرګې او ولسي جرګې اجرایي کړنلارې ټاکي، په داسې حال کې، چې د ملکي خدمتونو او د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قوانین د دواړو جرګو اداري چارې سمبالوي. د دواړو جرګو رییسان د یوې تقنیني دورې لپاره د غړو د مستقیمې او پټې رایې په اکثریت سره ټاکل کېږي. د ملي شورا غړي، کولی شي ځانونه په پارلماني ډلو کې تنظیم کړي، په ولسي جرګه هره پارلماني ډله په منځني ډول **۲۳** او په مشرانو جرګه کې **۱۵** غړي لري، یو غړی یوازې په یوه پارلماني ډله کې غړیتوب ترلاسه کولی شي. دغه اصول، همدا راز د مشرانو جرګې لپاره ۱۱ دایمي کمېسیونونه او فرعي لنډمهالې کمېټې او د ولسي جرګې لپاره ۱۸ دایمي او مشترکې کمېټې او کمېسیونونه تصویب کړي دي. کمېسیونونه او کمېټې حق لري، چې وزیران، د خپلواکو کمېسیونونو رییسان، عمومي رییسان او نور دولتي چارواکي له هغه وروسته راوغواړي او استجواب یې کړي، چې د پام وړ موضوع مخکې له مخکې د دوی له دفترونو سره شریکې کړې وي. د دواړې جرګې اجنډا ممکن د دولتي فعالیتونو لکه: (دحساب صورتونه، وړاندیزونه، پروپوزلونه، چې له اساسي قانون سره سم د پارلماني چارو وزارت له خوا وړاندیز او معرفي کېږي) او یا هم په خپله د جرګې فعالیتونه وي.



ولسمشر حامد کرزي د ملي شورا غړو ته د وینا په حال

## ۴.۵ غیر دولتی موسسې

غیر دولتي موسسې له پراختیایي پلانونو او اجرااتو سره مرسته کوي، او د مستقلو قراردادیانو په توګه، خپل د استخدام چارې پرمخ بیایي اویو شمېر یې د ولسي موسسې چوکاټ لري، چې د خپلو پلانونو او فعالیتونو پر بنسټ د نړیوالو سازمانونو له خوا یې ملاتړ کېږي. دغه موسسې د دولت د بدیل په توګه په ټولو هغو ځایونو کې، چې اړتیا وي او ممکن وي، د ټولیزو خدمتونو د وړاندې کېدو په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کوي او ان په خپله په مستقیمه توګه خدمتونه وړاندې کوي. که څه هم غیردولتی موسسې له ۲۰۰۱ نه وروسته په افغانستان کې په بې ساري توګه وده کړې، خو ټولنیزې پرمختیایي شوراګانې له ۱۹۸۰ ز. کال[۷۳] راهیسې شتون درلودې، چې اوسنې مډرنه بڼه یې، هماغه کلیوالي پرمختیایي شوراګانې دي، چې د ملي پیوستون پروګرام له مخې رامنځته شوي دي. په همدې حال، نړیوالې ټولنې دې ته ترجیح ورکړې، چې د دودیزو سیمه ییزو سازمانونو او ټولنو پرځای له غیردولتي موسسې

۷۲ غړي د واحد نه لېږد وړ رایې له لارې انتخابېږي. دغه سیستم د سیاسي ګوند یو کمزوری سیستم دی، چې د انتخاباتي سیستم پر بنسټ دی. د د غه سیستم له مخې، په ولایتي کچه اجراات د رایې ورکوونکو او ټاکل شویو پارلماني غړو ترمنځ یوه کمزورې اړیکه ده، په دې توګه پارلماني غړي، د دې پرځای، چې د ټول ولایت لپاره کار وکړي، تر ډېره د یوې سیمې خلکو په چوپړ کې بوخت وي.

۷۳ نیوبرګ، پائولا، "پر زړونو حکومت: افغانستان ته د بشرپالو مرستو نظام "د کارنګي د نړیوالې سولې بنسټ، **۱۹۹۹**ز.

سره کار وکړي، ځکه دودیز سازمانونه د دوی په باور، د نه باور وړ او د ټولنې له رټل شوي قشر لکه له ښځو[۷۴] څخه په رښتینې توګه استازیتوب نه شي کولی، که څه هم په طبیعي[۷۵] ډول، دوی په ډېرو مواردو کې مشارکت لري. غیردولتي سازمانونه او موسسې په دوه ډوله دي: غیر دولتي موسسې (چې تر ۲،۰۰۰ زیات یې په اقتصاد وزارت کې راجستر دی) او ټولنیز سازمانونه (چې تر ۴،۰۰۰ یې په عدلیې وزارت کې راجستر شوي دي).[۷۶]

## ۴.۶ سیاسي ګوندونه او ټاکنیز میکانیزم

سیاسي ګوندونه د اساسي قانون د **۳۵** مادې له خوا ملاتړ کېږي، چې د هېواد وګړو ته د سیاسي ګوندونو د جوړولو او تشکیلولو حق ورکوي، خو د نه انتقال وړ واحدې رایې سیستم یې بې واکه کوي.[۷۷] په افغانستان کې د **۲۰۱۳** ز. کال تر مارچ پورې **۲۵** سیاسي ګوندونه راجستر شوي وو.[۷۸] د ټاکنو خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون په افغانستان کې ټاکنیزې ادارې دي. د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون نه شي کولی، چې کوم بهرني غړي ولري.

## ۴.۷ دودیزه حکومتولی

دودیزه حکومتولی د افغانستان په ډېرو کلیوالي سیمو کې یو پیاوړی او په پراخه کچه کارېدونکی او د نظم او حاکمیت لومړنې سرچینه ده او په ډېرو هغو سیمو کې، چې رسمي حکومتولی ښې اړیکې ورسره پاللې، د دولت د حاکمیت تر سیوري لاندې دي. ملک او ملا یې استازیتوب کوي او دودیز او مذهبي ارزښتونو د دغو سیمه ییزو سازمانونو له خوا تاییدېږي.[۷۹] دې ته په پام سره، چې د افغانستان اساسي قانون، افغانستان یو اسلامي دولت اعلانوي او پر دې ټینګار کوي، چې شریعت باید د ټولو قوانینو اساس وي، او هېڅ قانون باید د اسلامي اصولو مخالف نه وي (۳ مه ماده) نو په افغانستان کې د دیني رهبرانو ونډه او رول ډېر غښتلي او کره ده. د دې هېواد د ډېرو وګړو لپاره د دین او دولت جلاوالي یوه بې معنا خبره او غیراسلامي کړنه ده. ملا یا د جومات رهبر، د ټولنې په هسته کې قرار لري، او په کلیوالي سیمو کې مذهبي ژوندانه او سمهال په هره ټولنه کې موجوده ده او په سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او کورنیو مسایلو کې د موقعیت موندنې په برخه کې مهمه ونډه ادا کوي. په افغانستان کې ډېر جوماتونه نه دي راجستر شوي.[۸۰] او د دوی زیات شمېر د دولت ضد قوي پروپاګندو لپاره استعمالېږي.[۸۱] چې له دغې ډلې سره د نړیوالې ټولنې د ښکلتیا لامل ګرځي[۸۲]. په ټولنې پورې د ملا اقتصادي تړتیا ته په پام سره، همدغه اقتصادي منبع، له لمانځه مخکې او وروسته د هغوی (ملایانو) د موعظو او تقریرونو موضوع ټاکي. د تېرو ۱۲ کلونو په بهیر کې "ټول مهم اسلامي لوبغاړي لکه د قاهرې ډله (هغه مرکز، چې د اسلامي زده کړو زر کلن تاریخ لري) د سعودي وهابیزم، د ایران شیعه ییزم، ترکانو، دیوبندیانو (د اسیا په سویل کې د اسلامي سني زده کړو مرکز) ټول په افغانستان کې د خپلې خوښې اسلام د ترویج او دودولو په موخه سترې پانګونې کړې دي".[۸۳]

---

۷۴ بوسن، له ولسي موضوعاتو څخه: په ملي پیوستون پروګرام کې سیمه ییز مشارکت، اریو، ۲۰۰۴، ۲.

۷۵ بیګو، براون او کلمنت، ۲۰۰۹.

۷۶ د عدلیې او اقتصاد وزارتونو له ویبپاڼې څخه اخیستل شوي معلومات (د ۲۰۱۳ ز. کال په دسمبر کې ترلاسه شوی).

۷۷ په انتقال کې د افغانستان ګوندونه، د پالیسو لنډیز، نړیواله جدي ډله، ۲۰۱۳ ز. کال د جون ۲۲، http://www.crisisgroup.org/~/media/Files/asia/south-asia/afghanistan/b141-afghanistans-parties-in-transition.pdf

۷۸ له http://moj.gov.af/Content/files/Table%20of%20political%20parties%20registered.pdf معلومات (د ۲۰۱۳ ز. کال په دسمبر ۲۳ ترلاسه شوي).

۷۹ بریک، جنیفر، د افغانستان به کلیوالي سازمانونو کې د دودیز اقتصاد سیاست، د اوراشیا د ټولنیزو مطالعاتو مرکز، جورج ټاون پوهنتون، واشنګټن ډي سي، ۲۰۰۸ کال سپتمبر.

۸۰ د ځینو معلوماتو له مخې به افغانستان کې ۱۲۰،۰۰۰ زره جوماتونه موجود دي، خو ۳،۲۰۰ یې له دولت سره راجستر شوي دی، ۲.۲٪ جوړوي. مجیب مشعل، په افغانستان کې ناکام فرصتونه، تایم، http://world.time.com/2013/02/27/missed-opportunity-in-afghanistan-we-forgot-to-pay-the-preachers/#ixzz2qRKTYGe5

۸۱ صدف شینواری، 'د افغانستان به جوماتونو کې د دولت ضد پروپاګندو څخه اندېښنې'، خامه پرس، ۲۰۱۲ کال د اپریل ۲۸ مه، https://www.khaama.com/concerns-over-anti-government-propaganda-in-afghan-mosques-820

۸۲ داوود مرادیان، د افغانستان د ستراتیژیکو مطالعاتو د انستیتوت مشر، په افغانستان کې ناکام فرصتونه، http://world.time.com/2013/02/27/missed-opportunity-in-afghanistan-we-forgot-to-pay-the-preachers/#ixzz2qRKTYGe5

۸۳ هماغه ځای.

# ۵. د پالیسۍ چوکاټ او د اجرااتو وضعیت ته یوه کتنه

## ۵.۱ د بن پروسه (۲۰۰۱ ز.)

د بن کنفرانس د ۲۰۰۱ کال په دسمبر کې په افغانستان کې د یو باثباته او دموکراتیک دولت د رامنځته کېدو په هدف د بن پروسې د جوړېدو لامل شو. د بن پروسې، مهم شاخصونه، د بېړنۍ لویې جرګې جوړول، د افغانستان د لنډمهالي اداري رامنځته کول، د ۲۰۰۴ په جنورۍ کې د اساسي قانون تصویب او پر ۲۰۰۴ کال د ولسمشرۍ ټاکنو او ورپسې پر ۲۰۰۵ ز. کال د پارلماني او ولایتي شوراګانو د ټاکنو ترسره کېدل و، چې په رسمي توګه د بن پروسې بریالیتوب یې په ډاګه کړه.

## ۵.۲ د افغانستان تړون لیک (۲۰۰۶)

دغه توافقنامه د بن تړون ځایناستی دی، چې پر ۲۰۰۶ ز. کال په لندن کې د جوړ شوي کنفرانس پایله وه، دغه توافق لیک د پنځو راتلونکو کلونو لپاره له افغانستان سره د نړیوالو کېدونکو مرستو لپاره او د افغان دولت پر ادارو د اتکا او باور د زیاتېدو لپاره د یو چوکاټ د رامنځته کولو په هدف ترسره شو. د ۲۰۰۶ کال د جنورۍ پر ۳۱ مه د افغانستان توافق لیک، د بن پروسې ته په رسمي توګه د پای ټکی کېښود. د افغانستان تړون لیک، حکومتولۍ، د قانون واکمني او د بشر حقوق د فعالیتونو د دریو مهمو توکو په توګه وپېژندل. په دغه توافق لیک کې پر دې هوکړه شوې، چې د استخدام په چارو کې وړتیا او د مسلک لوړتیا باید په پام کې ونیول شي. همدا راز د دغه توافق له مخې، د اغېزمنو کاربردي ارګانونو د رامنځته کېدو همغږۍ، روڼتیا، مسوولیت منونکې حکومتولۍ، د دولت په ټولو کچو کې چې "د قانوني چوکاټونو په دننه د انتصاب مناسبې کړنلارې، روزل شوي کارکوونکي، زیربناوې او د تفتیش ظرفیتونه ولري"، د عدلي نظام اصلاح، د بشر حقوقو ساتنه او وده، د افغانستان دولت او د هغه د نړیوالو شریکانو له مهمو لومړیتوبونو څخه ګڼل کېږي[۸۴]. د افغانستان توافقنامه، د حکومتولۍ،[۸۵] امنیت او پرمختیا په برخو کې د ښکاره او په محدودو معیارونو سره یو شمېر اهداف په نښه کړل. د دغو معیارونو لپاره د پای نېټه د ۲۰۱۰ کال اخر ټاکل شوی و. خو تر دغې نېټې پورې، د دغو کارونو په اجرا کې لا فعالیت دوام درلود. پر ۲۰۰۶ ز. کال د افغانستان د موقتې پرمختیایي ستراتیژۍ (I-ANDS) تر اعلانېدو وروسته، پر ۲۰۰۸ ز. کال د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژۍ ANDS هغه کمزورتیاوې لکه "د عامه څانګې د ظرفیتونو نیمګړتیاوې، د سرچینو کموالی او د مالي تولیداتو بې ثباتي، د خصوصي سکتور د فعالیتونو محدود قانوني چاپېریال، د قانوني څارنې او د عامه شمېرنو او احصاییې د تجربې کموالي، پراخ فساد، تر حد زیات تمرکز، د دولت په ټولو برخو کې د تصمیم نیونې د همغږۍ نشتوالی، په دولت کې د ښځو محدود مشارکت، خلکو ته د مستقیم ځواب ویلو په برخه کې د محدودیت شتون او پر دولت باندې د زورواکو ناقانونه ولکه[۸۶] او د حکومتولۍ په څانګه کې داسې نورې سترې ستونزې" څرګندې کړې او د حکومتولۍ د مهمو مسایلو په توګه یې په پام کې ونیول. پورتنی ټکي د دې ښودنه کوي، چې په تېرو دوو کلونو کې د افغانستان د توافق لیک لاسته راوړنې، د هغو معیارونو په پرتله، چې په تړون کې پرې ټینګار شوی و، زیات نه دی.

### ۵.۲.۱ د افغان ښځو لپاره د ملي اقدام پلان (NAPWA) (۲۰۰۷ – ۲۰۱۷)

د افغان ښځو لپاره د ملي اقدام پلان، یو لس کلن پلان دی، چې د هغې جنسیتي برابرۍ د اجرا په برخه کې، چې په اساسي قانون، نړیوالو تړونونو او کنوانسیونونو لکه د ښځو پر وړاندې د هر راز تاوتریخوالي د مخنیوی په کنوانسیون کې تضمین شوي، د افغان دولت ژمنتیا ده. له دغه څخه پلان هدف، "په افغاني ټولنه کې د برابرۍ د رامنځته کېدو او ځواکمنتیا له لارې، د ښځو حقوقو په تړاو د پروژو په اړه د دولتي هڅو له دوام او ثبات نه ډاډ ترلاسه کول دی".[۸۷] دا د "با ثباته او سوله ییز افغانستان د جوړېدو لپاره یو لیدلوری دی، چې پکې ښځې او نارینه په ګډه د ژوندانه په ټولو برخو کې له امنیت، اساسي حقونو او فرصتونو څخه برخمنېدای شي". دغه پلان، شپږ سکتورونه: امنیت، حقوقي خوندیتابه او بشرحقوق، رهبرۍ او سیاسي مشارکت، اقتصاد، کار او بېوزلۍ، روغتیا او ښوونې په بر کې نیسي. د دولت له خوا د کاغذ پر مخ د دغه پلان د پلیتابه په تړاو له ژمنتیا سره سره، د یاد پلان اجرایي اړخ کمزوری ښکاري. په افغانستان د نارینه وو مطلق واک او جنسیتي نابرابرۍ ډېر شدید[۸۸] دی، دغه څه ان د افغانستان دولت په

۸۴ د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ، ۲.

۸۵ د حکومتولۍ معیار، د ټولیزې ادارې په برخه کې اصلاحات، له فساد سره مبارزه، سرشمېرنه، د مقننه قوې او ټاکنیز سیستم پیاوړتیا، جنسیتي برابرۍ، د قانون حاکمیت، د ځمکو ثبت، له نشه یي توکو سره مبارزه او بشر حقوق په بر کې نیسي.

۸۶ د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ، ۶۲.

۸۷ په دې ادرس کې د مشاهدې وړ دی: http://sgdatabase.unwomen.org/uploads/National%20Action%20Plan%20for%20the%20Women%20of%20 Afghanistan%202007%20to%202017.pdf

۸۸ د UNDP د شمېرنې له مخې افغانستان د جنسیتي نابرابرۍ په برخه کې ۱۴۵/۱۳۹ مقام لري. ۲۰۱۱.

رسمي ادارو کې هم په پراخه پیمانه ترسترګو کېږي. په تېرو ۱۲ کلونو کې په افغانستان کې د بشري حقوقو ضد کړیو له کره شتون سره سره، د عمومي دموکراتیزه پروسې د یوې عمده برخې په توګه، د نړیوالو فشارونو[۸۹] او جدي پاملرنو په پایله کې د ښځو موضوع ته د پاملرنې مسله وده کړې ده.[۹۰] دلته په ښوونیزو او روغتیایي برخو کې یو لړ پرمختګونه تر سترګو کېږي، خو په سیاسي او اقتصادي ډګرونو کې ښځو بیا هم په حاشیه کې قرار لري. د حکومتولۍ په برخه کې د ښځو ونډه تر ۱۰ سلنه ټيټه او کمزورې اټکل کېږي، لکه څرنګه چې په ټولو سیمه ییزو او محلي حکومتونو کې د ۲۰،۰۰۰ ملکي مامورینو[۹۱] له جملې څخه، پکې یوازې د همدا ۱۰ سلنې ښځینه حضور تایید شوی دی. په کاري چاپیریال کې د ښځو ازار او ځورونه د دې لامل شو، چې د سیمه ییزو ادارو خپلواکه اداره په دې برخه کې یو لړ اقدامات تر لاس لاندې ونیسي او پلې یې کړي. د دغه پلان د پلیتابه لپاره له اوه کلنې هڅې وروسته بیا هم دغه اندېښنې پر خپل ځای پاتې دي، چې یاد پلان د افغاني ټولنې له شرایطو سره چندان مطابقت نه لري؛ دا ځکه، چې یاد پلان د لویدیځو سازمانونو د لید او کړنلارو پر بنسټ جوړ شوی، چې په اسلامي دودیزو ټولنو کې د ښځو له ونډې سره همغږی نه لري.[۹۲] په هغه کنفرانس کې، چې په دې وروستیو کې د ښځو د پیاوړتیا په اړه د بشرحقوقو او پرمختیایي سازمان (AHRDO) له خوا جوړ شوی و، هم همدې موضوع ته پکې اشاره شوې وه او د مدني ټولنې ادارو ته لارښوونه شوې وه، چې په دې برخه کې د هغو مناسبو او له شرایطو سره برابرو کړنلارو په لټه کې شي، چې د مرکزي اسیا او سویلي اسیا په هېوادونو کې یې کارونه تجربه شوې او د لویدیځ له ډېرو پرمختللو ټولنو له کړنلارو سره توپیر لري.[۹۳]

## ۵.۳ د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ ANDS (۲۰۰۸)

د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ پر ۲۰۰۸ ز. کال د یوې پنځه کلنې دورې لپاره (تر ۲۰۱۳ کاله پورې) د بن او د افغانستان د موافقتنامې پر بنسټ، د یوې جامعې او هراړخیزې ستراتیژۍ په وړاندې کولو سره، چې د افغانستان د شرایطو منعکسوونکی وي، د ملي پرمختیایي لومړیتوبونو: لکه "د بېوزلۍ کموالی، د افغانستان د خلکو د ژوند ښه والي او د یو باثباته او امن هېواد د رامنځته کېدو " په موخه ترلاس لاندې ونیول شوه.[۹۴] د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژۍ د حکومتولۍ په برخه کې د موجودو ستونزو لکه: د دولتي او نادولتي موازي حکومتولیو د شتوالې، د ملي او سیمه ییزو ادارو د ناڅرګندې اداري او مالي اړیکې، په ملي او سیمه ییزه کچه د یوه کمزورې اداري سیتسم د شتوالي، اداري فساد، مالي ترټیا، د قانون جوړونې په برخه کې د کمزورتیاوو، له قانون او بشري حقوقو څخه د نه ملاتړ د ظرفیتونو، د سیاسي او مدني مشارکت او د څارنیزو ظرفیتونو د کمزورتیاوو او جنسیتي نابرابریو د له منځه وړلو په موخه د افغان دولت او د هغه د نړیوالو شریکانو د کړې ژمنتیاوو استازیتوب کوي. د قانون حاکمیت او بشر حقوق په افغانستان کې د "دموکراتیکو پروسو او موسسو د پیاوړتیا په موخه بنسټیز هدف ګڼل کېږي. په دې برخه کې بشر حقوق، د قانون حاکمیت او ټولیز خدمتونه او با مسوولیته حکومت ډېر رول لري".[۹۵] په دغه سند کې د دې یادونه شوې، چې له ښه حکومتولۍ (مسوولیت منونکی، شفاف او مشارکتي) او د قانون له حاکمیت پرته، د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ او په هغه پورې اړوندې پراختیایي تګلارې به له ماتې سره مخ شي، په دې توګه حکومت پر دې ملزموي، چې د ښه حکومتولۍ او د خدمتونو په وړاندې کولو کې د خصوصي سکتور لپاره د ونډې او فضا جوړولو په برخه کې تمرکز وکړي. دغه ستراتیژۍ پر دې ټینګار کوي، چې دغه پروسه د افغانانو له خوا، خو د نړیوالو ډونرانو په مرسته ترسره شي. د دغې ستراتیژۍ اجرا د افغانستان په ملي بودیجه او د هغو ادارو په عادي دندو پورې تړلې ده، چې له سکتوري پلوه له یادې ستراتیژۍ سره تړاو لري او تر دوو کلونو پورې افغان دولت بوخت ساتي. د تګلارو پلیتابه، په ځانګړې توګه د تصمیم نیونې پروسې، د قانون حاکمیت او د عدالت ټینګښت د هغو فردي او ډله ییز قدرت تر اغېزې لاندې دي، چې غواړي سرچنیو ته لاسرسۍ ولري او پرې خپل کنټرول ټینګ وساتي.نو د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ پلیتابه، هم نه شي کېدای، په ملي او محلي کچه د دغه قدرت له اغېزو څخه لېرې پاتې شي.[۹۶]

---

۸۹ د ۲۰۱۳ ز. کال د مارچ او سپټمبر میاشتو ترمنځ موده کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په پېښو کې ۲۵ سلنه زیاتوالی راغلی، او ویل کېږي، د دې لامل، له افغانستانه د پي. ار. ټي او نړیوالو ځواکونو وتل دي. له رویترز سره د ډاکټر سیما سمر مرکه، ۲۰۱۴ ز. د جنورۍ ۴ مه، http://www.voanews.com/content/reu-violence-against-afghan-women-more-frequent-in-2013/1823405.html

۹۰ ویرکورن او کمپوس، ۲۰۱۳.

۹۱ د سیمه ییزو ادارو د خپلواکې ادارې د تشکیل او جنډر ځانګې له ډیتابس څخه ترلاسه شوي معلومات.

۹۲ له سرابي سره مرکه.

۹۳ د ښځو د حقوقو په تړاو لومړنی سیمه ییز کنفرانس جوړ شو، کابل ټایمز، د ۲۰۱۳ ز. کال د نومبر ۲۷ مه، http://thekabultimes.wordpress.com/2013/11/27/first-regional-conference-on-womens-rights-held

۹۴ د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ، ۵.

۹۵ هماغه ځای، ۲۱.

۹۶ رابرت لمپ او بروک شوان، 'په افغانستان کې سیاسي حکومتولۍ او ستراتیژۍ'، د نړیوالو ستراتیژیو او مطالعاتو مرکز، د ۲۰۱۲ ز. کال اپریل، ۲.

## ۵.۳.۱ د سیمه ییزې حکومتولۍ کړنلاره (۲۰۱۰)

د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ له ژمنتیاوو[97] څخه یوه هم د محلي حکومتولۍ لومړنۍ کړنلاره او پالیسي ده، چې پر ۲۰۱۰ ز. کال پراختیا وموندله او په همدې کال تایید شوه. د دغه پالیسۍ تر ۴۰۰ زیات مخونه، د سیمه ییزې حکومتولۍ (ولایتونو، ولسوالیو، کلیو او ښاروالیو) په برخه کې سازماني پېژندني او حقوقي وضاحتونه وړاندې کوي. دغه کړنلاره د سیمه ییزو ادارو د خپلواکې ادارې (سپتمبر۲۰۰۷)، له خوا رهبري کېږي، چې ټول وزارتونه، نماینده ګۍ، خپلواک عمومي ریاستونه او کمېسیونونه په برکې نیسي. دغه پالیسي، باید د نویو پرمختیاوو، اصلاحاتو، کړنلارو، مقررو او کړنلارو او نورو اضافي اداري لایحو او ترتیباتو په رامنځته کولو سره د دریو کلونو (۲۰۱۰ – ۲۰۱۳ ) په موده کې اجرا شي. له نړیوالې ټولنې څخه غوښتل شوې وه، چې د ډونرانو د ډله ییز مکانیزم په رامنځته کولو سره، د دغې پروسې په پلیتابه کې مرسته وکړي. د دغې پروسې اجراات پر ۲۰۱۳ ز. کال تر هراړخېزې بیاکتنې لاندې ونیول شول، چې د لړو اړینو اصلاحاتو په راوستو سره، د بیا لپاره تعقیب شوه. په همدې حال، ټول شیان له پلان سره سم نه وو ترسره شوي. د دغه پروسې په وړاندې د نړیوالو غبرګون، هغه اعتراضونه په بر کې نیسي، چې د پالیسۍ اوږدوالي، له امکاناتو لېرې هدفونه، او د لومړیتوبونو نه ټاکل په بر کې نیسي.[98] د دغو اعتراضونو په ځواب کې، د سیمه ییزو ادارو خپلواکه اداره، پر ۲۰۱۲ ز. کال په دغه پروسه کې لومړیتوبونه په نښه کړل، چې په سیمه ییزې حکومتولۍ کې د ملي لومړیتوبونو ټاکلو د پرمختیا له لارې په لاره اچول شوي وو. په دې توګه، هغه وخت، چې د دغې پالیسۍ د اجرا لپاره په پام کې نیول شوې و، زیاته برخه یې، د اجرا لپاره د نورو زیاتو پلانونو پر جوړولو ولګول شو. نن ورځ د سیمه ییزې حکومتولۍ د کړنلارې پلیتابه، یو هېر شوې پاڼه ده او په سیمه ییزه حکومتولۍ کې د ملي لومړیتوبونو د ټاکلو پلان اوس هغه سند دی، چې د سیمه ییزو ادارو خپلواکه اداره پر بنسټ یې، په محلي حکومتدارۍ کې د فرعي څانګو په اړه خپل راپورونه دولت ته وړاندې کوي.

## ۵.۴ د ملي لومړیتوبونو پلان – کلستر حکومتولۍ (NPPs) (۲۰۱۰ – ۲۰۱۳)

د کابل پروسې د لندن کنفرانس (د ۲۰۱۰ ز. د جنورۍ ۲۸) او کابل کنفرانس (۲۰۱۰ ز. کال د جولای ۲۰) له لارې پیل شوې دي. دغې پروسې، د افغانستان په ټولو برخو کې، د ملي لومړیتوبونو د پلان پر بنسټ د پایلو اړتیا، چې د حکومت له خوا طرح شوي وي او د افغانستان د خلکو پر ژوندانه مثبتې اغیزې ولري، مشخصوي. د ملي لومړیتوبو پلان، د مخکنیو بریالیو طرحو پر اساس، د انتقال په موده (۲۰۱۲ – ۲۰۱۴) کې د پایلو د وړاندې کولو په هدف جوړ شوی، چې په هرو ۱۰۰ ورځو کې د تولید د پرمختګ له راپور سره، د پیاوړې مسوولیت پذیرۍ مکانیزم هم په بر کې نیسي.[99] د ملي لومړیتوبونو پلان د دریو اصلي کړنلارو: د اصلاحاتو د طرحې لومړیتوبونه، د ادارې د جوړونې غوراوي او خلکو ته د مستقیمو خدمتونو د وړاندې کولو یوه ټولګه ده، چې د سیمه ییزو ارزونو او ولایتي پلان له لارې د سیمې د اړتیاوو او شرایطو له په پام کې نیولو سره سم ترلاس لاندې نیول کېږي. د افغانستان دولت د پرمختګونو په اړه، خپل لومړنی راپور یې، چې د توکیو د متقابلو پاسخګویۍ چوکاټ (TMAF) د شاخصونو له مخې جوړ شوی و، د کابل په کنفرانس (د ۲۰۱۳ز. کال د جولای ۳) کې وړاندې کړ. حکومتولۍ، د قانون حاکمیت او د بشر حقوق هغه ترکیب دی، چې شپږ ملي لومړیتوبونو ته (NPPs) شاملېږي، چې له هغې جملې څخه دوه یې، د ملي انتقال پروسه او د پاسخګویۍ پروګرام لاهم د پرمختیا په حال کې دي.

---

۹۷ د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ، ۹۱.

۹۸ ډاکټر داګلاس سالتمارش او ابهیلاش مدهی، 'په افغانستان کې محلی حکومتولۍ، له شاوخوا اړخونو یوه کتنه'، AREU، ۲۰۱۱ز. جون۱.

۹۹ په سر کې مالیې وزارت د راپور ورکولو مکانیزم مدیریت کاوه، خو وروسته دغه چاره اقتصاد وزارت ته وسپارل شوه.

۹۹ د راپور چارې په سر کې مالیې وزارت ترسره کولې، چې وروسته دغه مسوولیت اقتصاد وزارت ته وسپارل شو. اوسمهال، چې د NPP د اجرااتو په تړاو ډېر اپډیت شوی راپورونو د ترلاسه کېدو وړ دی، د ۲۰۱۱ کال په نومبر کې چمتو شوي، تر دې نیټې وروسته، د NPPLG د اجرااتو په اړه د سیمه ییزو ادارو د خپلواکې ادارې له راپور پرته، په دې برخه کې کوم بل راپور نه دی چمتو شوی.

## ۵. ۴. ۱ د لومړي ملي لومړیتوب تاکل (NPP۱): مالي او اقتصادي اصلاحات – د عامه مالي چارو مدیریت (۲۰۱۰ جولای)

په دغه پلان کې، د عامه مالي مدیریت سیستم د پیاوړتیا، د اداري فساد په کچه کې د کموالي او د بودیجې په پلیتابه کې د ښه والي د رامنځته کېدو او د مالي تامین د ستراتیژۍ د پرمختیا په هدف، د لارې نقشې په توګه درې کلیدي شاخصونه هر یو د مالي اډانې د منځنۍ کچې پیاوړتیا، د بودیجې د اجرا ظرفیت د تقویې او د بودیجې فهرست په برخه کې د افغانستان د رتبې د لوړاوي په موخه، ارزیابي او پلي کېږي. NPP۱ یا لومړی ملي لومړیتوب، د حقوقي (د عامه لګښتونو او مالي چارو د اداري قانون او تدارکاتو قانون) د چوکاټ له مخې رامنځته شوی دی؛ د افغانستان د مالي مدیریت د معلوماتو سیستم، د مالي دورې او د مالي او حسابي راپور د یو چوکاټ په دننه، په ټولو بودجوي واحدونو په کابل او د ولایتونو په مستوفیتونو کې د ترلاسه کېدو وړ دي. سربېره پر دې، NPP۱ د عامه مالي مدیریت ټولې نیمګړتیاوې لکه: د ظرفیتونو ټیټوالی، نیمګړې پوښښ، د لنډمهالو او کمزورو وړاندوینو له مخې، تر حد زیات له خوشبینو ډک پلانونه، د همغږۍ او اړیکو په مکانیزمونو کې کمزورتیا او د مرکزي او ولایتي دفترونو ترمنځ ناڅرګندې او مبهمې مالي او بودیجوي اړیکې، چې د چټکو اجراتو پر لاره خنډ ګرځي، په ګوته ګړې دي. د NPP۱ درې مولفې عبارت دي له: ۱) په موثره توګه د بودیجې وړاندې کول، د اصلي لومړیتوب له پایلو څخه دی، چې (له مدیریت، د مالي ستراتیژۍ د منځمهالي دورې او د بودیجې له پروګرام سره مرسته کوي)؛ ۲) د بودیجې په اجرا کې ښه والی (ولایتي بودیجه بندي، پر تهیې او کړنو څارنه)؛ او ۳) د حساب ورکولو او روڼتیا زیاتوالی (اړیکې، د کورنیو او بهرنیو ممیزو ظرفیت).[۱۰۰] په دې برخه کې د ګډې څارنې او همغږۍ د پلاوي په غونډه (۲۰۱۴ ز. کال د جنورۍ ۲۹) او لوړپوړو چارواکو غونډې ته د افغانستان دولت په راپور کې (۲۰۱۳ ز. کال د جولای ۳) د دوو سترو لاسته راوړنو یادونه شوې ده: د وزیرانو شورا ته د تصویب لپاره د ولایتي بودیجه بندۍ د تګلارې وړاندې کول او د بودیجې د اجرا په ظرفیتونو کې د ښه والي رامنځته کېدل، لکه څرنګه، چې دغه ښه والی په ۱۳۸۹ (۲۰۱۰-۲۰۱۱) مالي کال کې له ۳۹ سلنې څخه، په ۱۳۹۰ (۲۰۱۱ – ۲۰۱۲) مالي کال کې تر ۴۹ سلنې او د ۱۳۹۱ (۲۰۱۲ – ۲۰۱۳) مالي کال په نهو میاشتو کې تر ۵۰ سلنو پورې زیاتوالی او که د ټول مالي کال د بشپړې دورې لپاره تنظیم شي ۲۲.۷ سلنې پورې زیاتوالی ښیي. چې په ټولیزه توګه د تېر کال په پرتله ۱۷ سلنې زیاتوالی جوتوي.[۱۰۱]

## ۵. ۴. ۲ NPP۳: ګټور او اغېزمن دولت (۲۰۱۲ ز. جنوري)

هغه تجربې ته په پام سره، چې د PAR د لومړۍ دورې له پلیتابه (د اداري، ګومارلو، د ورکړې او رتبه بندۍ په برخه کې اصلاحات) څخه ترلاسه شوې، NPP۳ د دولتي ګټورتوب او اغېزمنتیا د ارتقا په هدف رامنځته شوی دی. د NPP۳ یوه درې کلنه پروژه، دغه مولفې لري: ۱) پر ملکي خدمتونو او عامه اداري د حاکمو تګلارو، قوانینو او مقررو د پیاوړتیا لپاره؛ ۲) د دولت د مرکز، وزارت او محلي ادارو په کچه، د ملکي خدمتونو او عامه اداري د فعالیتونو د ګټورتوب او اغېزمنتیا د زیاتوالي لپاره؛ ۳) د عامې اداري د اصلاح لپاره د یو اوږدمهالی لیدلوري او ستراتیژۍ د پراختیا په موخه، چې د راتلونکي خودکفا افغانستان اړتیاوو ته ځواب ووایي. او ۴) د تجزیې، تحلیل، پلانونې، مدیریت، د خدمتونو د وړاندې کولو، اسانتیاوو او څارنېزو تګلارو کې د ظرفیتونو د پرمختیا له لارې، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسیون (IARCSC) او په هغه پورې د اړوندو ادارو د پیاوړتیا لپاره.[۱۰۲] د اداري اصلاحاتو د راتلونکي نسل د پرمختیا (NGPAR) په اړه له رواني پلان جوړونې پرته، چې له دوو تر لسو کلونو یوه ستراتیژۍ ده، د دغې NPP (دریيم لومړیتوب) د اجرااتو په اړه کوم راپور وجود نه لري.[۱۰۳]

۱۰۰ د عامه مالي مدیریت د نقشې لار/ NPP۱ ، ۸.

۱۰۱ د لوړ پوړو چارواکو د غونډې مشترک راپور، ۲۰۱۳ ز. کال د جولای ۳ ، ۱۱.

۱۰۲ د دولت د مفیدیت او اغېزمنتیا په اړه د ملي لومړیتوبونو پلان، ۳.

۱۰۳ د NPP۳ پلان په تړاو د عدلیې وزارت زیاتره راپورونه، د ۲۰۱۱ کال په جولای کې اپدیټ شوی، چې د ۵۵ سلنې اجرا کېدو راپور ورکوي، په د: //.www thekabulprocess.gov.af/index.php/monitoring/archive/forth-quarter-report/ government-q-4 (ترلاسه شوی۲۰۱۴ کال د جنوری ۱۴مه).

## ۵ .۴ .۳ څلورم ملي لومړیتوب NPP۴

سیمه ییزه حکومتولي د "حکومتولۍ د اغېزمنتیا، مشارکت او پاسخګویۍ" په لاره کې د لومړنیو خنډونو د پېژندلو او له منځه وړلو په موخه، د ډونرانو له ګډون پرته، د دولت له خوا د NPPLG (د سیمه ییزې حکومتولۍ د ملي لومړیتوبونو ټاکل) د پروګرام له لارې، رهبري، پلانونه او اجرا کېږي. د NPPLG څلور مولفې، د څلورو لومړیتوبونو پر بنسټ دی، چې عبارت دي له: د سیمه ییزې حکومتولۍ، ولایتي او د ولسوالیو ادارو، ښاروالیو ادارو او محلي نماینده ګیو د ادارو لپاره ملي اساس، پاسخګویۍ او روڼتیا. د سیمه ییزو ادارو د خپلواکې ادارې د یو راپور په ترڅ کې، پر ۲۰۱۲ ز. کال د د د NPPLG له تاییدېدو راهیسې ددغې برنامې د اجرااتو په اړه د ټولو ترلاسه شویو پرمختګونو کچه ۲۵ سلنه ښودلې ده.[۱۰۴]

## ۵ .۴ .۴ پنځم ملي لومړیتوب NPP۵: قانون او عدالت د ټولو لپاره (۲۰۱۳ ز. جون)

دغه برنامه د سترې محکمې، عدلیې وزارت، لویه څارنوالۍ او د افغانستان د مدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې (AIBA) له خوا پراختیا موندلې ده. NPP۵ د ؛قانون حاکمیت ته د عدلي سکتور د ژمن ښودلو له لارې، عدلي سکتور پر وړتیاوو د ولسي باور د بېرته راژوندي کولو په هدف، چې د دوی اقتصادي، ټولنیزې او ملي ګټې خوندي کولی شي؛، رامنځته شو. دغه پلان د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ (ANDS) ته ورته، پنځه اجزاوې لري: ۱) حقوقي اصلاحات او د قانون جوړونې د پروسې اغېزمنتیا؛ ۲) د عدلي سکتور د مفیدیت او اغېزمنتیا زیاتوالی؛ ۳) د عدلي سکتور د پاملرنې وړ لاسته راوړنو زیاتوالی؛ ۴) د عدلي سکتور د فعالیتونو په برخه کې د ارګانیکو ظرفیتونو رامنځته کول؛ او ۵) د عدلي فعالیتونو د ښه والي لپاره د فزیکي شتمنیو زیاتوالی. دغه پلان د ۲۰۱۳ ز. کال په جون کې نهایي شو او د اجرااتو د وضعیت په اړه یې تر دې زیات راپور په لاس کې نشته.[۱۰۵]

## ۵ .۴ .۵ شپږم ملي لومړیتوب NPP۶: د بشر حقوقو او مدني مسوولیتونه (۲۰۱۱ ز. کال اکتوبر)

NPP۶ د بشر حقوقو د ساتنې او پرمختیا لپاره یوه جلا کلیدي موضوع ده،[۱۰۶] چې د افغانستان د "دموکراتیکو کړنلارو او ادارو د پرمختیا او له هغوی سره د مرستې لپاره، د خپل ذاتي او سازماني مسوولیتونو د پېژندنې په تړاو، د افغانانو د خبرتیاوې او مدني دندې د حس د کچې د لوړاوي" په هدف رامنځته شوی دی.په دغه پلان کې تر ډېره حده، د محرومو کسانو لکه د ښځو، ماشومانو، معلولینو او نورو محرومو توکمیزو ډلو د حقوقو پېژندلو او هغه ته د درناوي په برخه ځانګړې پاملرنه شوې ده. په عدلیه وزارت کې د بشرحقوقو د ملاتړ واحد (HRSU) او د افغانستان له مدني ټولنې سره همکارۍ ترڅنګ، دغه پروګرام په پام کې لري، چې په پوهنې وزارت او لویه څارنوالي د بشرحقوقو نوې ادارې رامنځته کړي. د دغه پلان مهمې اجزاوې دا دي: ۱) د بشر حقوقو د په پلي کولو له لارې د افغانستان د ادارو پیاوړتیا، د بشر حقوقو ملاتړ، او په ټولو دولتي ادارو کې د مسوولیت پذیرۍ او د مدني مسوولیتونو وده؛ ۲) د افغانستان د خلکو د پوهاوۍ کچې لوړاوي؛ ۳) د افغانستان د ملي، اساسي قانون او نورو مسلکي ادارو د استقلالیت او ثبات پیاوړتیا؛ ۴) د افغانستان د سیمه ییزو او دودیزو نهادونو له ونډې څخه ملاتړ؛ ۵) له هغو اقداماتو څخه د ډاډ ترلاسه کول، چې د عدالت د ټینګښت او د معافیت فرهنګ د له منځه وړلو په لټه کې دي؛ او ۲) د بشر حقوقو د حفظ، رعایت او پابندۍ په تړاو د دولتي ادارو، ملي او نړیوالو موسسو او اشخاصو د مکلفیتونو ساتنه.NPP۶[۱۰۷] په لومړي ځل د ۲۰۱۰ ز. کال په جولای کې په کابل کنفرانس وړاندې شو او تر تاییدېدو وروسته په فوري توګه د ۲۰۱۱ ز. کال په اکتوبر تر اجرا لاندې راغی. د وروستي دولتي له مخې، دغه پلان د ۲۰۱۱ په وروستیو دریو میاشتو کې ۷۲ سلنه پرمختګ درلود.[۱۰۸]

۱۰۴ څېړنه، د NPP۴ د اجرااتو په تړاو د سیمه ادارو د خپلواکې ادارې پر راپور تکیه لري.

۱۰۵ د مالیې وزارت د کابل پروسې وېبپاڼه د کلستر حکومتولۍ NPPs د اجراتو په اړه د پرمختګ پنځه درې میاشتنۍ راپورونه لري، چې وروستنۍ یې، چې د ۲۰۱۱ کال په نومبر کې وړاندې شوی، د اجرااتو کچه ۷۸ سلنه ښیي، په داسې حال کې، چې NPP۵ د ۲۰۱۳ ز. کال په جون کې نهایي شوی و. دغه راپور همدا راز په http://www.thekabulprocess.gov.af/index.php/monitoring/archive/fifth-quarter-report/government-q-5 (ترلاسه کېدو وړ دی. (د ۲۰۱۴ د کال د جنوری ۱۴مه).

۱۰۶ AIHRC, MoJ, MoND, IDLG, MRRD, IEC, HOO, MoE, MoHE and MoIC هغه ادارې دي، چې په NPP۶ کې ګډون لري.

۱۰۷ د بشر حقوقو او مدني ټولنو لپاره د ملي لومړیتوب پروګرام، ۱۰.

۱۰۸ د NPP۶ د پنځو ربعو د کیفیت ارزونه، ۲۰۱۱ ز. کال، نومبر، http://www.thekabulprocess.gov.af/index.php/monitoring/archive/ fifth-quarter-report/government-q-5 (ترلاسه شوی د ۲۰۱۴ د کال د جنوری۱۴مه).

## ۲. پرمختیاوې او لاسته راوړنې – ۲۰۱۳

افغانستان تر ۲۰۲۴ کال پورې د اقتصادي خودکفایی لپاره په توکیو کنفرانس کې (۲۰۱۲ جولای ) د نقشې یوه لاره جوړه کړه.[۱۰۹] نړیواله ټولنه په دې غونډې کې تر ۲۰۱۵ ز. کال وروسته د ۱۲ میلیاردو ډالرو د ورکړې ژمنه کړې وه، خو د دغې ژمنتیا پوره کېدل یې، د افغان دولت پر ظرفیتونو تړلی وباله. د پایلو او ارزونې د تعقیب لومړنۍ ناسته د ۲۰۱۳ کال د جولای پر ۳ مه په کابل کې جوړه شوه، چې هدف یې د هغو متقابلو موافقه شویو شاخصونو د مجموعې په وړاندې د افغانستان د حکومت له خوا د ترسره شویو اقداماتو او پرمختګونو بیاکتنه وه، چېد ۲۰۱۳ کال د اپریل په ناسته کې پرېږ د دواړو لورو له خوا هوکړه شوې وه. د افغان ملي پولیسو او افغان ملي پوځ د ظرفیت د ښه والی په اړه د امریکا د ملي استخباراتو[۱۱۰] مثبته ارزونه،[۱۱۱] د افغانستان د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره ګڼ نوماندان او د سیالیو پیل، چې امریکا، پاکستان او د سیمې نور هېوادونه کولی شي "ورسره ښه ژوند " او اړیکه ولري، او تر دې وروسته د متحده ایالاتو په وړاندې د کرزي مثبت لید ، د ۲۰۱۳ کال لپاره د افغانستان درې سترې لاسته راوړنې دی.[۱۱۲] په لاندې برخه کې د ۲۰۱۳ ز. کال یو شمېر پرمختیاوې وړاندې کېږي.

### ۲.۱ په حقوقي برخه

- د محلي حکومتونو په اړه دوه قوانین – د محلي ادارې قانون او د ولایتي شوراګانو قانون ملي شورا ته وړاندې شول. دغه قوانین درې کاله مخکې تسوید شوي وو.[۱۱۳]
- د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون پر وړاندې د جنجالونو په کچه له کوم زیان پرته کموالی راغی.[۱۱۴]
- د ټاکنو کمېسیون قانون او د ټاکنو کمېسیون د تشکیل، دندو او واکونو قانون د ۲۰۱۳ ز. کال په جولای کې تصویب شو.[۱۱۵]
- د کانونو نوی قانون د وزیرانو د شورا له خوا د ۲۰۱۳ ز. په می تصویب او د ۲۰۱۴ تر لومړیو په پارلماني کې و.
- د قاضیانو د معاشونو او قضایي امتیازاتو قانون پر ۲۰۱۳ ز. کال تصویب او پر ۲۰۱۴ ز. د اجرا وړ وګرځید.[۱۱۲]
- د سازمانونو قانون د ولسمشر له خوا توشیح او د ۲۰۱۳ ز. کال په سپتمبر په رسمي جریده کې خپور شو.

۱۰۹ دولت د ۲۰۱۲ کال په جولای کې په توکیو کې کنفرانس د "د خودکفایی پر لوري: د لېږد لسیزې لپاره ستراتیژیک لیدلوري" تر سرلیک لاندې د خپلې ستراتیژۍ پانګه جوړه کړې وه، چې د ۲۲ ملي لومړیتوبونو په ډله کې اجرا شي.

۱۱۰ د واشنګټن پست له خوا راپور ورکړل شوی و، ۲۰۱۳ کال د دسمبر ۲۹ مه، http://www.washingtonpost.com/world/national-security/afghanistan-gains-will-be-lost-quickly-after-drawdown-us-intelligence-estimate-warns/2013/12/28/ac609f90-6f32-11e3-aecc-85cb037b7236_story.html

۱۱۱ واشنګټن پست ته په خپل لیک کې، چې د ۲۰۱۴ ز. د جنورۍ پر ۴ مه چاپ شو او پکې لیکلی و، ډیویډ سیډني، په دغه لیک لیکلی و، چې د افغانستان ښاري سیمو ته د کلیوالو نفوسو زیاتوالي په اړه د امریکا د ملي استخباراتو خپاره شوي معلومات، د افغان ځوان نسل په اړه ښه نظر نه لري. http://www.washingtonpost.com/opinions/us-intelligence-is-too-pessimistic-about-afghanistan/2014/01/02/eacde5a6-719b-11e3-9389-09ef9944065e_story.html

۱۱۲ په دغه مقاله کې راغلی و، چې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو له کمېدو سره، افغان ځواکونه د دې ظرفیت او وړتیا لري، چې د ۲۰۱۳ ز. کال په پیل کې پوځي عملیاتونه سوق او اداره کړي، چې دا یادونه یو ښه ریکارډ و. ډاکټر اشرف غني او عبدالله عبدالله د امریکا لپاره مطلوب نوماندان دي، او مقاله خپل استدلال پر دې بنا کوي، چې په افغانستان کې د امریکا د دایمي اډو په اړه د کرزی دریځ ناهیلي کوونکی و.

۱۱۳ د سیمه ییزو ادارو د خپلواکې ادارې درې میاشتنی راپور، ۲۰۱۳ز. کال جولای – سپتمبر.

۱۱۴ ملي شورا هېڅکله هم د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون و نه مانه. خو دغه قانون د ولسمشر د فرمان په وسیله تنفیذ او اوس اجرایي شوی ده. د پارلمان د محافظه کارو او زورواکو کړیو له ستونزو ډکو مخالفتونو په وړاندې، د ښځو حقوقو د زیاترو فعالانو له جدي مخالفت سره سره، د ولسي جرګې غړې فوزیه کوفي، د دغه مسوده قانون د بیا لپاره په ولسي جرګه کې وړاندې کړه، ترڅو دغه قانون ملغی نه شي.

۱۱۵ میتو روزنبرګ، 'افغانستان له نوي قانون سره د ټاکنو دور ته نژدې کېږي'، نیویارک ټایمز، ۲۰۱۳ کال جولای ۱۲ مه. http://www.nytimes.com/2013/07/18/world/asia/with-new-law-afghanistan-moves-closer-to-an-election.html

۱۱۲ د سترې محکمې د عالي شورا د دارالانشاء له رییس عتیق الله روفي سره مرکه. ۲۰۱۴ ز. کال د جنورۍ ۲ مه.

## ۲.۲ د پالیسۍ په برخه کې

- د افغانستان د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون د ۱۹ مې مادې پر بنسټ، د سیمه ییزو ادارو خپلواکه اداره، د ازار او ځورونې ضد پالیسۍ لاربنود رامنځته، پراختیا او پلې کړه، چې دغه لاربنود، د ولایتي، ولسوالي، ښاروالي د ادارو او د سیمه ییزو شوراګانو په کچه د ۲۰،۰۰۰ ملکي مامورینو په تړاو د اجرا وړ دی.[۱۱۷]
- د ولایتي بودیجه جوړونې کړنلاره، تسوید شوې، دغه کړنلاره د ولایتي ادارو لپاره مالي اسانتیاوې رامنځته کوي.[۱۱۸]
- NPP۵ (د ملي لومړیتوبونو د ټاکلو ۵ ) – او د ټولو لپاره د عدالت قانون د ۲۰۱۳ ز. کال په جون کې تایید شو.
- د سیمه ییزو ادارو خپلواکه اداره او د کلیو پراختیا وزارت، په ولسوالیو او کلیو کې د حکومتولۍ او پرمختیاوو د ښه کېدو په موخه یوه پرمختیایي پالیسي ترلاس لاندې ونیول، چې د ۲۰۱۳ ز. کال په اپریل کې، په محلي کچه له دموکراسۍ او تصمیم نیونې له پروسې سره د مرستې په هدف، نهایي شوه.[۱۱۹]
- د سیمه ییزو ادارو خپلواکه اداره او د کلیو پراختیا وزارت د ۲۰۱۳ ز. په اپریل کې د ولسوالیو د همغږۍ شوراګانو د رامنځته کېدو شرایطو ته پراختیا ورکړه، ترڅو له SNGP سره سم، د ولسوالیو د متخبو شوراګانو ته د دغو شوراګانو د لېږد لپاره مناسبې اسانتیاوې رامنځته شي.[۱۲۰]

## ۲.۳ د اجرااتو په ډګر کې

- د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون لپاره نوي رییسان وټاکل شول.[۱۲۱]
- د بشرحقوقو نوي کمېشنران منصوب شول، که څه هم دغه انتصاب، د بشر حقوقو د خپلواک کمېسیون د دفتر له خوا په دې خاطر تر نیوکې لاندې راغی، چې د بشر حقوقو سازمان خپلواکي یې ترپوښتنې لاندې راوستله او د یاد سازمان د اصولو په اړه د منصوب شویو کسانو د درک او ژمنتیا په تړاو شک موجود و.[۱۲۲]
- د ۲۰۱۳ کال د اپریل پر ۵ مه د ۲۰۱۴ کال د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو د ټاکنو نېټه او د ۲۰۱۳ کال د مې پر ۲۲ مه، د نوماندانو د نوماندولو او د رایه ورکوونکو د ثبت نام زماني دوره مشخصه شوه.
- د یوه فرمان په ترڅ کې د فساد پر وړاندې د مبارزې د څار او ارزونې ګډ خپلواک کمېسیون رامنځته شو.
- د سیمه ییزو ادارو خپلواکه اداره له دې امله، چې د NPPLG (د سیمه ییزې حکومتولۍ په کچه د ملي لومړیتوبونو ټاکل) د ۱۹ فقرې له پایلو سره مرسته کړې وي، د ۲۰۱۳ ز. په نومبر کې د یو ولایتي شورا او د ولایتي شورا دفتر کړنې وارزولې.[۱۲۳]
- د ۲۰۱۴ ز. کال د جنورۍ تر ۸ مه، د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه د ۲۸ لپاره یې د ښاروالۍ مشورتي پلاوي (MAB) وټاکل شول. د ښاروالیو مشورتي پلاوي د ټولو ملکي څانګو لکه: خصوصي سکتور، مدني ټولنو د ځوانانو او ښځو له ډلو، رسنیو، معلولینو، سپین ږیرو او داسې نورو [۱۲۴]له منتخبو استازو جوړ شوي دي. د ولسوالیو په کچه د ۴۰ ښاروالیو د پلانونې چارې ترسره شوې. دغه پرمختیا د NPPLG د ۳ جزء له لاسته راوړنو سره مرسته کوي.

۱۱۷ مجیب مشعل، 'افغانستان د کار په ساحه کې له جنسي ځورونو سره چلند څرنګه پیلوي'، ۲۰۱۳ ز. مارچ http://world.time.com/2013/03/29/how-afghanistan-is-beginning-to-deal-with-workplace-sexual-harassment

۱۱۸ د لوړو چارواکو د ګډې غونډې راپور ۲۰۱۳ ، د جولای ۳ مه، ۱۱.

۱۱۹ د دویمې ربعې راپور، ۲۰۱۳ اپریل – جون.

۱۲۰ هماغه ځای.

۱۲۱ ګران هېواد ، مارټین وان بیجلیرت او ټاماس روټینګ، 'بېړنی اقدام: د افغانستان د ټاکنو کمېسیون اعلان'، د تحلیلګرانو شبکه، ۲۰۱۳ د جولای ۳۰ مه، http://www.afghanistan-analysts.org/a-process-fast-and-patchy-new-independent-elections-commission-announced

۱۲۲ "د بشر حقوقو عالي کمېشنر ناوي پیلي، د ۲۰۱۳ ز. کال په جون کې ګواښنه وکړه، چې د افغانستان د بشرحقوقو په خپلواک کمېسیون کې وروستي انتصابات، د دغه کمېسیون خپلواکي او اغېزمنتیا زیانمنوي او همدارنګه د کورنیو او نړیوالو شریکانو په وړاندې یې لوړ موقف کمزوری کوي. " http://www.ohchr.org/EN/NewsEvents/Pages/ DisplayNews.aspx?NewsID=13495&LangID=E

۱۲۳ "د ۲۰۱۴ ز. کال تر پایه پورې به د دې هېواد د ۳۴ ولایتونو ټولې ولایتي شوراګانې تشکیل، اړیکې، سیسټم، مهارتونه او د اړتیاوړ منابع، چې وکولی شي، د پاسخګویۍ او مسوولیت پذیرۍ په برخه کې خپله ونډه ادا کړي، ولري، لکه څرنګه چې د SNGP په ۱ برخه کې بیان شوی (۱۲۰ – ۱۲۵). "

۱۲۴ د اساسي قانون له مخې ښاروال او د ښاروالیو شورا غړي باید د ازادو او شفافو ټاکنو له لارې وټاکل شي. په داسې حال، چې د ټاکنو کمېسیون تراوسه پر دې نه دی توانیدلی، چې دغه چاره ترسره کړي، نو ولسمشر هماغه راز ښاروالان په خپل فرمان سره ټاکي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون چې په دې برخه کې خپل دلیلونه وړاندې کوي، د ښاري پولو او حدودو ناڅرګندوالی، د ښاري نفوسو نه اټکل (د احصاییې د مرکزي ادارې له خوا ) او په کابینه کې د دوو کلونو لپاره د ښاروالیو قانون ځنډېدل ښیي. د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې د ښاروالیو له عمومي رییس عبدالباقي پوپل سره مرکه، د ۲۰۱۴ز. د جنورۍ ۸ مه.

- د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ تر ۸ مه د ۱۰ سیمه ییزو ادارو، د ښاري پراختیا وزارت، د مرکزي احصاییې ادارې، د جیودیزي او کارتوګرافي دفتر او د سیمه ییزو ادارو د خپلواکې ادارې په تایید سره، د ۱۲ ولایتونو د ښارونو پولې مشخص شوي دي.[۱۲۵]
- د افغانستان په څلورو لویو ښارونو : مزارشریف، کندهار، هرات او جلال آباد کې تراوسه پورې د ۵۲۰،۰۰۰ مسکوني او صنعتي قطعاتو او ۱۲۰،۰۰۰ ناقانونو د استوګنو قطعات د راجستر چارې بشپړې شوې دی.[۱۲۶] دغه چاره د ښوزلو کسانو لپاره د استوګنې د برابرولو او امنیتي ملحوظاتو او د ولایتي ښاروالۍ د پیاوړتیا په خاطر ترسره شوې ده. دغه پرمختیا، د NPPLG د ۳ جزء له پلیتابه سره مرسته کوي.
- د امنیتي مسوولیتونو د لېږد چارې بشپړې شوې دي، اوس ډېرې اراضي د افغان ملي پوځ او افغان ملي پولیس تر امنیتي پوښښ او کنټرول لاندې دی.[۱۲۷]
- د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره، په خپل راپور کې پر ۲۰۱۳ کال د NPPLG په اجرااتو کې د ۲۰ سلنې پرمختګ ښودنه کوي. د محلي ارګانونو خپلواکه اداره، یو شمېر هغه حقوقي تحلیلونه ترلاس لاندې نیولي، چې د محلي حکومتولۍ په برخه کې اغېزمن دي او د والي او لایتي شورا لپاره د یو حقوقي چوکاټ د رامنځته کېدو لامل ګرځي. چې دغه چاره د NPPLG د لومړۍ فقرې له پایلو سره مرسته کوي. همدارنګه د محلي ارګانونو خپلواکه اداره د ۲۰۱۳ ز. په سپتمبر کې خپلې رسنیزې او ارتباطي چارو ته وده ورکړه، چې دغه مسله د NPPLG د لومړۍ فقرې له لاسته راوړنو سره مرسته کوي.[۱۲۸]

۱۲۵ دغه چاره د وګړو د اټکل او همداراز په یوه یا دوو ولایتونو کې د ښاروال د انتخابولو په برخه کې ډېره مرسته کوي، اوس نو یوازې د ټاکنو پر مخ یوازینی خنډ پر ځای پاته دی، چې د تذکرو نه وېش دی. له پوپل سره مرکه.

۱۲۶ هماغه ځای.

۱۲۷ د ملي اطلاعاتو اټکل، د ۲۰۱۳ ز. کال په ۲۹ کې د واشنګټن پست له لارې راپور ورکړ، http://www.washingtonpost.com/world/national-security/afghanistan-gains-will-be-lost-quickly-after-drawdown-us-intelligence-estimate-warns/2013/12/28/ac609f90-6f32-11e3-aecc-85cb037b7236_story.html

۱۲۸ د سیمه ییزو ادارو د خپلواکې ادارې د دریم ربعې راپور، جولای – سپتمبر ۲۰۱۳ز.

# ۷. اړیکې، سره تړلي موضوعات او د ډونرانو اړوند حمایتي ماموریت

## ۷.۱ د حکومت او محکمو ترمنځ اړیکې

د حکومت او محکمو ترمنځ تړاو یارابطه په اساسي قانون او د دولت د اساسي تشکیلاتو په قانون کې تحقق موندلې ده. د اساسي قانون ۲۰ مه ماده ولسمشر ته واک ورکوي، چې د دولت د دریو واړه څانګو رهبري وکړي، نو ولسمشر د محکمو او حکومت ترمنځ په ملي سطحه د اساسي اړیکو تضمینوونکی ده. حکومتي ادارې په محلي کچه دا وړتیا نه لري او د ولایتونو او ولسوالیو د ادارو په کچه دا ډول تړاو نه ترسترګو کېږي.[۱۲۹] د اساسي قانون په رڼاکې، هغه لاره او طریقه، چې ولسمشر د حکومت او محکمو ترمنځ داړیکې د رامنځته کېدو لپاره غوره کړې، یا نشته او یا کمزورې ده. اوسمهال د اجراییه څانګې ډېر لویوالي او ورته ډېره پاملرنه،د مقننې او عدلي څانګو د کمزورۍ لامل شوي دي، همدارنګه دغه لړۍ، د عدلي نظام او ادارې ترمنځ هم کمزوری ارتباط رامنځته کړی ده.[۱۳۰]

د اساسي قانون ۱۳۲ ماده او د محکمو د صلاحیت او تشکیلاتو دقانون۲۳ ماده هغه څه دي، چې د ادارې او عدلي نظام ترمنځ په دویمه کچه د جدي اړیکو د ټینګښت خبره کوي، خو دغه چاره هم یوازې د کاغذ پر مخ پاته ده. دغه ماده د محکمې اداري عمومي آمریت ته دا مسوولیت ورسپاري، چې د محکمو داخلي اداري چارې مدیریت او تنظیم کړي. یاده ماده دا واضح کوي، چې له دې مطمین شي، چې قاضي خپل وخت د قضاوت او پرېکړې په کولو لګوي، خو نن ورځ۸۰ سلنه قاضیان خپل وخت د محکمې په داخلي اداري چارو لګوي. دغه چاره له داسې یو سیستم سره مرسته کوي، چې عدلي او اداري سره بې ارتباطه کوي. د اساسي قانون ۱۱۸ماده د سترې محکمې له قاضیانو غواړي، چې کافي قضایي تجربه او مهارت ولري، خو دغه شرایط په عملي توګه نقض شوې دي، ځکه چې د سترې محکمې ټول اوسني قاضیان له دې شرایطو سره په بشپړ ډول برابر نه دي.[۱۳۱]

د افغانستان د محلي حکومتولۍ پر سیستم حاکم نور قوانین، د کنټرول او موازینې ډېره سمه بېله ده، چې په عمل کې په وار وار نقض شوي دي.[۱۳۲] د بېلګې په توګه والیان د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي، خو د هغوی واکونه او ظرفیتونه د مرکزي ادارو د قدرت په پایله کې محدودېږي. د محلي ادارې د قانون مسوده د ولایتي پولیسو مشر (امنیه قوماندان) والي ته حساب ورکوونکی ګڼي، خو والي په واقعیت کې د پولیسو پر کړنو او اجرااتو د څارنې محدود صلاحیت لري. همدغه قانون له لوېې څارنوالۍ او محکمو نه غواړي، چې والي د خپلو کارونو په جریان کې واچوي، په داسې حال کې، چې اساسي قانون بیا قضاییه قوه په خپلو چارو کې خپلواک ګڼي. ولایتي شوراګانې د دې واک لري، چې د محکمو په ګډون د اجرایي څانګې د ترسره شویو فعالیتونو څارنه وکړي او د عامه خدمتونو له وړاندې کېدو ځان ډاډمن کړي، خو محدود سازماني او فردي[۱۳۳] ظرفیت، پراخ فساد او د حساب ورکولو ټېټ میکانیزم دوی پر دې متقاعد کړی، چې هغې اجرایي څانګې ته، چې دوی ترې څارنه کوي[۱۳۴]، راپور وړاندې کړي؛ له شک پرته، دغه چارې د ولایتي شوراګانو دڅارنیز رول پر مخ خنډګرځي.دغه نهادي تناقض دادارې اوعدلي څانګې ترمنځ د اړیکو له نشتوالي سره لا نوره مرسته کوي.

د یو ماشین د بشپړوونکې برخې په توګه، نه د بېلو او رقابتي سیستمونو په توګه، د عدلي نظام او ادارې ترمنځ د بنسټیزو او فعالو اړیکو د شتوالي لپاره، د لومړیتوبونو په ټاکلو سره د عامه ادارې لپاره یو روښانه تعریف شوی رول، روښانه تعریف شوي فعالیتونو، له روښانو سازماني دندو سره تشکیلاتو، د داسې حقوقي، قانوني او د پالیسي پر بنسټ چوکاټونو ته، چې وکولی شي، پلان له تشکیل سره اړتباط ورکړي او د رهبرۍ په مقامونو کې د مسلکي ژمنتیاوو موجودیت ته اړتیا لیدل کېږي. نن ورځ افغانستان داسې ښکاري، چې پورتني اکثریت عناصر لري: د ملي لومړیتوبونو پلانونه له څرګندو ټاکلو اهدافو سره رامخته کېږي؛ ملي او محلي موسسات وجود لري؛ د پلان ترسره کېدو لپاره یو قانوني او د پالیسي له مخې چوکاټ شته، په داسې حال کې، چې د افغانستان ځوان نسل له توقع لوړې مسلکي وړتیاوې او تعهد لري.[۱۳۵] په داسې حال کې، چې حکومتي سیستم یې د یوې منسجمې بشپړتیا لپاره کار نه ده کړی، ځکه چې د سیستم جوړښت اوس داسې ده، چې له کاغذ نه عمل ته راانتقالېږي.[۱۳۶]

۱۲۹ د محلي حکومتولۍ پالیسي.

۱۳۰ له حمیدي سره مرکه.

۱۳۱ د عدلي په برخه کې نقش لرونکي او د ملکي خدمتونو او قضاییه څانګې له ناپېژندل شویو لوړو پوړو چارواکو سره مرکه.

۱۳۲ 'افغانستان راتلونکي ته کتنه، د افغانستان حکومتولۍ او ټولنیزې هوساینې ته ننګونې'، د بن کنفرانس ۲۰۱۱ لپاره چمتو شوي لنډ راپور، AREU، ۲۰۱۱، ۳. او له لېوال سره مرکه.

۱۳۳ اندرو بیټ، فوتیني کریسټیا او روبن انیکولوپوف، "آیا منتخبې شوراګانې په حکومتولۍ کې ښه والي راولي؟"، د ۲۰۱۳ز سپتمبر، ۳.

۱۳۴ ولایتي شوراګانې، د سیمه ییزو شوراګانو د عمومي ریاست تر ادارې لاندې راغلې، دا د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې د یو ریاست راپور دی، چې د پالیسي او تخنیکي معنیت ته، په نهایت کې د اجرااتو په موخه وړاندې شوی و. د ولایتي شوراګانو د قانون مسوده په ولسي جرګه کې د دغې شورا د څارنیزې دندې په تړاو د موافقې د نشتوالي له امله ځنډېدلی دی. سربېره پر دې، د ولایتي شوراګانو د غړو معاشونه، هم د والي په لاسلیک سره، چې ټاکل شوي دوی یې پر دندو څارنه وکړي، ورکول کېږي.

۱۳۵ له هاشمي سره مرکه.

۱۳۶ له لېوال سره مرکه.

## ۷.۲ مرتبطې یا سره تړلې مسلې

د مرتبطومسایلولکه جنډر او د فساد پراختیا د سره تړلو مسلو یو بنیادي درک او د منظمو کړنو د درک اړتیا رامنځته کوي. د رهبري کوونکو موسسو په رول کې د روښانتیا نشتوالی، د دې لامل شوی، چې په حکومتي موسسو کې تناقضات او تقابل پراختیا ومومي.[۱۳۷] او پر دې سربېره، د عدلي څانګې او امنیتي سکتور ترمنځ کمزورې اړیکې، په بحراني مسایلو کې د جنډر په شمول د اغېزمن تړاوونو د پرمختګ لپاره خنډ ګرځي.[۱۳۸]

### ۷.۲.۱ د جنډر برابروالید افغانستان د ښځو لپاره د ملي اقدام پلانونه (NAPWA): له جنډر سره د ملي لومړیتوبونو د ۳ پلان (NPP۳) او د توکیو د متقابل ځواب وینې د چوکاټ تړاو (TMAF)

له افغان کلتور سره د (NAPWA) د سازګارۍ په اړه له اندېښنو سره سره، داسې ښکاري، چې دغه پلان د یو سازماني ژمنتیا په توګه په حکومتولۍ کې د جنسیت برابروالی پیاوړی کوي. په حکومت کې د ښځومعنا داره برخه اخیستنه، عدالت ته د دوی د لاسرسۍ کچه او دا چې کومه دولتي اداره د جنډر د مساواتو تصمیم نیوونکې ده، په حکومتي موسساتو کې د جنډر د مساواتو ظرفیتونوته پراختیا ورکړې دی. په دې کې شک نشته، چې ښځې د عامه، خصوصي او مدني ټولنو په سکټورونو کې له ۲۰۰۱ ز. کال راپه دې خوا د کار د ځواک یوه برخه ګرځېدلې ده،[۱۳۹] خو دغه مشارکت تر ډېره سمبولیک دی.[۱۴۰] د ډیموګرافۍ ځرګندو اسنادو او فرهنګي خنډونو له مخې، کورونو ته د نارینه وو د لاسرسۍ محدودیت (د تلاشۍ پرمهال)، د ښځینه افسرانو روزنه باارزښته کوي. ښځې د پولیسو د افسرانو په ډله کې، له یوه نه هم کمه فیصدي جوړوي (د ۲۰۱۳ په جولای کې د پولیسو له ۱۵۷،۰۰۰ افسرانو څخه، یوازې ۱،۵۵۱ تنه یې ښځینه افسرانې وې).[۱۴۱] په کاري ساحه کې جنسي ځورونه[۱۴۲]، د ښځینه افسرانو پرضد د ځورونو په وړاندې د قانوني اقدام نشتوالی، نه پرمختګ، کلتوري نورمونه او د داسې باور موجودیت، چې ښځې ماتحتې او نامستقلې دي، د ډېرو ښځو له خوا د نارینه وو د تسلط او واک منل، او دا باور چې له ښځې سره تاوتریخوالي د نارینه وو[۱۴۳] بې پوښتنې حق دی، ټول د هغو سترو ستونزو او ننګونو ټولګه ده، چې په امنیتي ځواکونو کې د ښځو د پراخ ګډون پر مخ خنډ ګرځېدلي دي.[۱۴۴] دا یو واقعیت دی، هغه ښځې چې له پولیسو سره یوځای کېږي، پر دې پوهېږي، چې د دوی لومړنی دوښمن د حکومت په دواړو عدلي او اداري څانګو کې د کمزورتیا په تړاو د دوی د همکارانو شکایتونه دي.[۱۴۵] د (NAPWA) د معلوماتو له مخې په افغانستان کې هیڅ ښځه په امن کې نه ده.[۱۴۶]

په حکومتولۍ کې د ادارو په کچه د جنډر درز راټیټ شوی دی، خو لا هم په دې برخه کې دوه جدي ننګونې موجودې دي: د "کراس کټینګ" او "جنډر" په اړه د پوهاوي او سیاسي ارادې نشتوالی، چې اداري پلاوي د دې ټکي پر مراعات متقاعد کړي.[۱۴۷] د هغو راپورونو او ادعاوو پرخلاف، چې د ښځو چارو وزارت او په هر وزارت کې د یاد وزارت د جنسیت څانګې رامنځته کېدل یې یوه

---

۱۳۷ له ډاکټر بتیجا سره مرکه.

۱۳۸ وردک، علي، 'په افغانستان کې د قانون ارزښت، یوه کتنه'، د پیټرسبرګ په پاڼو کې د افغانستان او سیمې په اړه (ولفګان ډانسپیکګر ) ۲۰۰۹ ز.

۱۳۹ یو شمېر مهمې ښځې همدا اوس د غږي په توګه د ملي شورا په دواړو جرګو کې حضور لري، د کابل د ځېنو بنسټیزو عامه ادارو مشري کوي. (د افغانستان د بشر حقوقو د خپلواک کمېسیون مشره ډاکټر سیما سمر او د افغانستان د صادراتو د پرمختګ ایجنسۍ مشره نجلا حبیب یار) او د افغانستان په سیمه ییزو ادارو کې تراوسه پورې دوه ښځینه چارواکي موجودې دي (یوه یې ښاروالۀ او بل یې ولسوالۀ ده) دغه ښځینه ښاروالۀ، چې اروپا ته په سفر تللې وه، بېرته و نه ګرځېده. یوازینۍ ښځینه والي، د بامیانو والي وه، چې په دې وروستیو کې په ولسمشرۍ ټاکنو کې د مرستیال په توګه د ځان د نوماندولو له امله، له خپلې دندې استعفا ورکړه.

۱۴۰ په افغانستان کې د نا کرنیز اقتصادي فعالیتونه سروې، ۲۰۰۹: په روزنیز ډګر کې ښځې ۵۲٪ ونډه لري، خو په روغتیایي او ټولنیزو برخو کې ۱۸٪ ده.

۱۴۱ ښځینه افغان پولیسې، ۲۰۱۳ ز. سپټمبر http://www.oxfam.org/sites/www.oxfam.org/files/bp-173-afghanistan-women-police-100913-en.pdf

۱۴۲ د ښځو د چارو د دستور اجرا، په افغانستان کې سوله او امنیت، د خود ارادیت په اړه د لیختن اشتاین انستیتوت، د ۲۰۱۲ ز. کال جنوری، جنسي تاوتریخوالي یوازې ښځو ته متوجه نه دی، له هلکانو څخه د ناوړې جنسي ګټه اخیستنې رسم هم یوه پراخه پدیده ده، چې په محلي ژبه کې ورته بچه بازي وایي، او ډېر وختونه دغه موارد تر څېړنې لاندې نه نیول کېږي، له دغه ادرس څخه ترلاسه شوي معلومات: http://www.thestar.com/news/world/2013/07/15/child_sex_abuse_rampant_in_afghanistan_documentary_shows.html او مستند فیلم جان اندرسن له خوا http://www.youtube.com/watch?v=Ja5Q75hf6QI (ترلاسه شوی د ۲۰۱۳ کال د دسمبر ۲۹مه)

۱۴۳ د افغانستان د څو کلستر شاخصونو سروې، ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ د مرکزي احصاییې اداره او یونیسف، ۲۰۱۲ ز. جون http://cso.gov.af/Content/files/AMICS-Jun24-2012-FINAL.pdf.

۱۴۴ د بشر حقوقو د څار سازمان: افغان ښځینه پولیس افسران له جنسي ازار سره مخ دي، http://www.khaama.com/female-afghan-police-officers-face-sexual-harassment-hrw-1639.

۱۴۵ د بشر حقوقو د څار سازمان، افغانستان: افغان ښځینه پولیسې د خوندیتوب اسانتیاوو ته اړتیا لري، ۲۵ اپریل ۲۰۱۳.

۱۴۶ "د ښځو لپاره امنیت په دې معنا ده، چې هغوی له هر راز اندېښنې، ګواښنې، تاوتریخوالي څخه خوندي او د کور په دننه او بهر له ازادۍ او عدالت څخه برخمن وي." د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ضد قانون.

۱۴۷ انا وردس ورث، د اصلي جریان پر لورې حرکت، جنسیت د افغانستان په ملي سیاست کې، AREU، ۲۰۰۸ز. فبروري.

لاسته راوړنه ګڼي، د خلکو او مدني ټولنو زياتره استازي په دې باور دي، چې دغه مسله په عمل کې د جنسيت د برابرۍ په برخه کې زيانمنه تمامه شوې، دا ځکه چې د دغه وزارت او د جنډر د فرعي څانګو په رامنځته کېدو سره، اداري او وزارتونه په دې برخه کې نور احساس د مسووليت نه کوي او دا سې انګېري، چې په دې برخه کې مسوولې اداري شته او دغه کار په هغوی پورې مربوطېږي.[148]
له دې سره سره، چې د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژۍ (ANDS) په خاصه توګه د کراس کټنګ د همدغې موضوع "جنډر" پر ماهيت ټينګار کوي.[149] د ښځو چارو وزارت او په وزارتونو کې د جنډر څانګې، هغه څه نه دي ترسره کړي، چې تمه يې کېدله؛ دا مسله د ظرفيتونو د کموالي په وجه ده يا له دې امله ده، چې اداري، چارواکي او هغه زيات شمېر نارينه، چې په بېلابېلو دولتي څانګو کې کار کوي، په دې برخه کې د دوی هڅې خنثا کوي؛ په پايله کې د جنسيت د برابروالي د ريفورم په تړاو، سازماني ژمنتياوې هماغسې کمزورې پاتې کېږي.[150]

يو استدلال کېدای شي دا وشي، چې له تشکيلاتي پلوه، د جنډر څانګه د دې پرځای، چې په پاليسۍ او تخنيکي معينت پورې مربوطه وای، نو د مالي او اداري تر معينت لاندې قرار لري، چې دغه چاره، په دغه څانګه کې د اجراااتو له کمزورتيا سره مرسته کړې ده. دغه چاره د دې لامل شوې، چې د ښځو چارو وزارت د پاليسۍ پرمختيا په بنسټ کې، دا انګېرنه رامنځته شي، چې د جنډر واحد يوازې اجرايي وروستاړی دی، يا دا چې د وزارت په سازماني جوړښت کې د سازماني پرمختيا، د کارکوونکو د استخدامي چارو او سازماني وړتياوو په تړاو د بشري منابعو د عمومي رياست تر چتر لاندې د مالي او اداري معين دفتر ته د راپور وړاندې کولو مسووليت لري. په دا سې هېواد کې، چې ښځې دويم مقام لري، هغه حکومتي اداري، چې د ښځو چارو ته ځانګړې شوې دي اول نه دويم حالت لري، نو ځکه به يې اغيز هم کم وي.

په افغاني ټولنه کې د سم پوهاوي کموالي او په ټولنيزه کچه د ښځينه ځواکمنتيا لپاره ټيټ ارزښت قايليدل، په دې برخه کې يو بل فکتور دی. د ښځو چارو په موسسو کې د پرېکړې واکداران، د افغانستان د شرايطو په اړه له ژور پوهاوي څخه محروم دي، چيرته چې ښځې، د کورنيو د جوړولو لپاره بنسټ دي او هر هغه څه، چې د باور دا هسته تهديدوي، نو دا به پر محلي ټولنو له هره اړخه فشار وي. د بېلګې په توګه له کورني تاوتريخوالي څخه د مخنيوي او يا د اجباري ودونو لپاره د يوې حل لارې په توګه، د طلاق وړانديز، کورني بنسټونه ګواښوي او له ښځو بېزاره نارينه دې ته هڅوي، چې د يوارزښت او باور په توګه، د ښځو د حقونو پر وړاندې خپل مخالفت توجيه کړي[151].
له بله اړخه، د ښځې اقتصادي وړتيا جوړول، د تقويې د يوې لارې په توګه، چې پر اجتماعي او کلتوري سرحدونو ور برسېره شي په پراخه اندازه څنګ ته غورځول شوې يا يې په اړه غفلت شوی ده. ښځه په ټول هېواد کې يو له لومړنيو قربانيانو څخه ده، چې عدالت او محکمو ته لاسرسی نه لري[152]، دا هغه څه ده، چې تر "لانجو– وروسته" د افغانستان په اړه تر ټولو بده انګېرنه ده. دولتي چارواکي تر ډېره حده له هغو وړتياوو څخه بې برخې دي، چې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د پېښو څېړنه وکړي.[153]

د جنډر د مساواتو په تړاو يوازې دولت نه، بلکې نړيواله ټولنه او مدني ټولنې هم په اندېښنه کې دي. د ښځو د ځواکمنتيا مفهوم تر ډېره سياسي دی، چې له فرهنګي او ټولنيزو اقعيتونو څخه لېرې پاتې دي، له دې امله د سپتمبر تر ۱۱ نه وروسته په افغانستان کې د نړيوالو مداخله، د دوو غلطو فرضيو له رامنځته کېدو سره مرسته وکړه: طالبانو له ښځو سره زورزياتی پيل کړي، چې د هغوی په له منځه تلو سره به دغه چاره پای ته ورسېږي.په پايله کې د ښځو د نن ورځې خوځښت تر ډېره ښاري حرکت دی، چې تر ډېره کچه د هېواد له سياسي او ټولنيزو بحثونو او جرياناتو لکه د سولې او آشتۍ له پروسې څخه لېرې ساتل شوي دي. د لومړيتوبونو د ټاکلو په برخه کې کمزورتيا او د افغان ښځو پر ډېرو مهمو اړتياوو او لومړيتوبونو د تمرکز نشتوالي، نه يوازې يو واقعيت دی، بلکې ډېری نوموتو ښځو او ان د ښځو خوځښتونه هم په دې اړه فکر او اقدام نه کوي، دوی لاتراوسه په بنسټيزو برخو کې د مسوليت شريکولوته هم نه دي تيارې؛ دا چې افغانستان د سولې پر لوري پر مخ ولاړ شي، نو رښتيني ازادی به هم له ځانه سره ولري، يوازې د نوکانو د رنګولو ازادي د جورابو د پېښوکولو ازادي او يا د سر د نه پټولو ازادي، نه شي کولی، چې د ښځو لپاره تلپاتې او رښتيني ازادۍ تمثيل او شونې کړي. په اداري کچه د ښځوچارو وزارت او دجنډر وزارتي واحدونويې د دې بد تشخيص انعکاس بيان کړې او همدارنګه د جنډر د مساواتو معنا د نفوس اکثريت ښځو ته دا اجازه ورکړې، چې په ملي او محلي سطحه په اجتماعي سياسي او اقتصادي جريان کې برخه واخلي.

۱۴۸ د ښځو لپاره د سيمه ييز کنفرانس موندنې، د افغانستان د بشر حقوقو او د دموکراسۍ سازمان له خوا جوړ شوی و، ۲۰۱۳ ز. نومبر.
۱۴۹ د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي، ۱۷۲.
۱۵۰ د لوړو پوړو دولتي چارواکو د رهبرۍ په ناستو کې د شخصي مشاهداتو پر بنسټ.
۱۵۱ له سرابي سره مرکه.
۱۵۲ تر قانون فوق اعدامونو په اړه د ملګرو ملتونو د عمومي مجمع راپور، بېړنۍ يا خپلسري. کرستوف هاينس، A/HRC/17/28/Add.6, 27 May 2011
۱۵۳ يوناما او OHCHR، "مضرې دوديزې کړنلارې او د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون پلېتابه، کابل ۹ دسمبر ۲۰۱۰ .ز. کال.

## ۷.۲.۲ د فساد پر وړاندې خوځښت

یو له هغو لویو ارزښتونو څخه، چې تر ۲۰۰۱ کال وروسته د افغانستان په پرمختګ پورې اړه لري، د رفتار او سلوک د بېلابېلو ځانګړتیاوو ترڅنګ د بنیادي قانونولي نشتوالی دی[۱۵۴]. فساد حکومتولي کمزورې کوي او کمزوری حکومت فساد تشویقوي. په ملي او محلي سطحه د فساد نمونې یو ډول دي.[۱۵۵] افغان دولتي چارواکي، چې د هېواد له پرمختیا سره لېوالتیا نه لري،[۱۵۲] خپل ملګري، خپلوان او شاوخوا کسان له هیڅ یا له ډېرې لږې تخنیکي وړتیاوو سره، په لوړو معاشونو د "مشاور» په توګه ټاکي[۱۵۷]، چې دغه چاره په خپله د یو ډول نارسمي فساد ښودنه کوي. محلي حکومتي چارواکي داسې پلان مخته وړي، چې پر دولتي شتمنیو خپل ځان او خپلوان خوښ او خوشحاله وساتي.[۱۵۸] افغانان د فساد د زیاتېدو په اړه ډېر سخت په اندیښنه کې دي،[۱۵۹] خو دا د حکومت ستونزه بولي، چې رامنځته کېږي او دوی ترې اغېزمن کېږي.[۱۲۰] دلته د فساد د فرهنګي او ټولنیزو رېښو او ټولیز رول په برخه کې، ملي بحثونه او د نظر تبادلې نشته، او نه د له منځه وړلو په موخه یې د مسوولیت احساس موجود دی. له بده مرغه د عدلي سیستم ریفورم فساد زیات کړی دی.[۱۲۱] په عدلي سکتور کې د ډونرانو د ټولنو ترمنځ نه همغږي، د فساد ضد کړنلارو د نه اجراکېدو پیاوړی فکتور ګرځېدلی ده.[۱۲۲]

که څه هم، د فساد پر وړاندې د مبارزې او څارنې د عالي اداري رییس پر دې باور دی، چې خلک دې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې، له افغان مشرتابه څخه د پیاوړې سیاسي ارادې هیله ونه لري[۱۲۳]، خو په دې برخه کې بیا هم یو لړ وړاندیزونه شته. په دې برخه کې، د فساد ضد پالیسیو لپاره، د مقرراتو پراختیا، د فساد ضد قوي اداري رامنځته کول، د فساد ضد قوانینو وضع کول او دقانون له پلي کېدو ډاډ حاصلېدل، ډېر اړین دی. سربېره پر دې، باید نورې هڅې هم وشي، چې له حکومتي ادارو پرته نور فکتورونه هم پکې شامل وي. خلک باید په دې کې راشامل شي او د ټولنیز او کلتوري ځواک په توګه د دې ستونزې په له منځه وړلو کې مرسته وکړي. پر ۲۰۱۳ ز. کال د انټي ګریټي واچ (IWA) له خوا د افغانستان په اړه خپور شوي، د فساد ملي سروې د دې ښودنه کوي، چې افغانانو پر ۲۰۱۲ز. کال **۱.۲۵** میلیارد ډالره رشوت ورکړی دی، په داسې حال کې، چې دغه رقم پر ۲۰۱۰ز. کال **۱.۰۷** میلیارده ډالره وو[۱۲۴]. UNODC پر **۲۰۱۳**کال ډېر زیات رقم را نقل کړی دی، چې **۳.۹** میلیارده ډالره (تقریبا د نړیوالې ټولنې د **۲۰۱۴**کال له مرستې سره مساوي ده). له عامه خدمتونو څخه رشوت اخیستل شوی دی او د هغو خلکو فیصدي، چې معلم ته یې رشوت ورکړی، پر **۲۰۰۹**ز. کال له **۱۲**نه پر **۲۰۱۲**ز. کال **۵۱** فیصدو ته لوړه شوه.[۱۲۵] دغه رقم په فساد کې د خلکو د ښکاره ونډې ښودنه کوي، نو ورسره د مبارزې په ډګر کې هم د دوی د مساوي ونډې اړتیا کره برېښي. ستراټیژي جوړونکي فساد لکه د یو سیاسي بحران په شان بولي، خو دا یوازې سیاسي بحران نه، بلکې یو کلتوري بحران هم دی.

د دولتي ادارو رول بیاهم ډېر مهم دی. د حکومت متمرکز سیستم او د پرېکړې واحد ځواک د یو سړي په لاس کې دی او کورنۍ یې لازیاته له فساد نه تقویه او تغذیه کېږي.[۱۲۲] همداوس د قاضي القضات په ګډون پنځه تنه قاضیان، چې پر ۲۰۱۰ ز. دندې یې پایته رسېدلې وې،اوس هم فعال دي، ځکه چې په حکومت کې لوی ملاتړ له ځانه سره لري.[۱۲۷] داچې وروستنی ملي لومړیتوب (NPP)، چې

---

**۱۵۴** له حمیدي سره مرکه.

**۱۵۵** له لېوال سره مرکه.

**۱۵۲** له منصور سره مرکه.

**۱۵۷** "یو لوړ دولتي چارواکي، کله چې بامیانو ته سفر درلود او زه د بامیانو والي وم، ما ترې وپوښتل چې خپل د دندې لایحه راته وښیي، خو له هغه سره هېڅ شی نه و ". له سرابي سره مرکه.

**۱۵۸** له قاریزاده سره مرکه.

**۱۵۹** په نړیوال فساد کې، د نړیوالې روڼتیا د سنجونې له مخې د افغانستان رتبه http://www.transparency.org/gcb2013/country/?country=afghanistan (لاسرسی ۲۰۱۴ کال د جنوری۱ مه).

**۱۲۰** فساد په افغانستان کې د دریو بنسټیزو ستونزو په ډله کې دی، **۲۵**٪ سلنه خلک په دغو دریو ستونزو کې لومړنی یې فساد، خو **۲۸**٪ یې بیا ناامنۍ او **۲۷** سلنه یې بې کارۍ ښیي. د اسیا فاونډیشن د معلوماتو له مخې، ۲۰۱۲، **۵**.

**۱۲۱** ویلدر، اي. 'پولیس یا وسلوال غل؟ د افغانستان د ملي پولیسو د اصلاح په موخه مبارزه'، تحلیلی خپرونه ،AREU، ۲۰۷. http://www.areu.org.af/index.php?option=com_docman&Itemid=&task=doc_download&gid=52.

**۱۲۲** سټون او ملګري، له امنیت، عدالت او پرمختیا څخه ملاتړ: د نوي عصر لپاره درس، د ورا عدلي موسسه، نیویارک، **۲۰۰۵**ز. http://www.gsdrc.org/docs/open/CON24.pdf.

**۱۲۳** غلام حسین فکري، له اداري فساد د مبارزې او څار د عالي اداري رییس، له دري بي بي سره په مرکه کې، "په افغانستان کې له فساد سره اساسي مبارزه ناممکنه ده"، ۲۰۱۳ ز. د دسمبر ۳۰ مه. http://www.bbc.co.uk/persian//2013/12/131231_k04_anti_corruption_campaign.shtml

**۱۲۴** د افغانستان د څار سازمان، د ملي فساد سروې ۲۰۱۲،لنډیز تر لاسه کېدای شي په http://ncs.iwaweb.org, last.(لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د فبروری **۲۴**مه).

**۱۲۵** UNODC، په افغانستان کې فساد، وروستي بیلګې، موندنې او لنډیز ۲۰۱۳.

**۱۲۲** "له ولسمشر او د ولسمشر له مرستیال سره د ټینګې اړیکې له امله، د کابل بانک د مالي بحران مسوول مجرمین بې پوښتنه پاتې کېږي". له منصور سره مرکه.

**۱۲۷** هماغه ځای.

د روڼتیا او حساب ورکولو لومړیتوب (NPP) دی،[۱۲۸] ناتکمیله پاتې دی او نه پلې کېدل یې د یوې بامسولیتې ادارې په اړه د ماتې یو انعکاس دی. دا هغه څه دي، چې په اړه یې د ملګروملتونو سرمنشي خپل تشویش څرګند کړی و.[۱۲۹] د (NPP) یوازې لاسلیکول، اطمینان نه رامنځته کوي، بلکې د قانون پلې کوونکو ادارې پر دې قادرول، چې فاسد سیاسي چارواکي او تجاران تر قانوني تعقیب لاندې راولي، د محلي حکومتولۍ چارواکو ته د دې روزنه ورکړي، چې دوی څرنګه پردې پوه شي، چې د ملي لومړیتوبونو پلانونه (NPP) جوړ او وکاروي، د فساد ضد ادارې ته اجازه ورکړي، چې هغه کسان په نښه کړي، چې له اغېزمنو سیاسي اړیکو څخه برخمن دي،[۱۷۰] د ملي تفتیش ادارې د قانون ریفورم، چې د ملي تفتیش د دفتر خپلواکي تضمینوي (NAO) او د لوړو چارواکو لکه وزیرانو، د پارلمان د غړو، والیانو او د خپلواکو ادارو د مشرانو د انتصابولو او نومولو لپاره شرایط سخت کړي،[۱۷۱]او ځینې نور اړین اقدامات، چې باید له ځنډ پرته ترسره شي.[۱۷۲]

دلته د سیستمونو د وړتیاوو ترمنځ مستقیم تړاوموجود دی، چې له فاسدې کړنې سره مبارزه وکړي، دا تر ډېره د پارلمان په رول او هغه نفوذ پورې تړلی دی، چې د پارلمان غړي یې په بیروکراسي کې اعمالوي او د له نه لېږد وړ واحدې رایې SNTV نه تناسبي استازولۍ (PR) سیستم ته د اړینو اصلاحاتو په رامنځته کولو سره، د سیاسي ګوندونو د سیستم پیاوړتیا. د همداسې اصلاحاتو د نه ترسره کېدو په صورت کې، د خلکو منتخب استازي همداسې بې انتظامه او غیرمسلکي پاتې کېږي او له سیاسي فشار سره د بیروکراسۍ د لا غوښنه کېدو او استحکام لپاره له واک څخه د دوی ناوړه استفاده همدا راز دوام مومي. د دغه ریفورم له لارې، حکومت د هغو څوکیو پر تناسب او بنسټ رامنځته کېږي، چې ګوندونه یې په ولسي جرګه کې یې ګټلي دي، د سیاسي ګوندونو لپاره دې بودجه وټاکي او پر لګښت یې څارنه وکړي،[۱۷۳] له بهرنیو لوریو او چارواکو سره د بهرنیو چارو وزارت له لارې د دوی تعامل تنظیم او پارلمان ته د داخلېدو شرط د پنځو څوکیو په ګټلو پورې منحصر کړي.[۱۷۴] دا په حقیقت کې د پیاوړو سیاسي ګوندونو د شمېرپه راکمولو سره، د سیاسي ګوندونو سیستم پیاوړی کوي، چې وکولی شي، په ټاکنو کې سیالی وکړي، څوکۍ وګټي او یوه بامسوولیته ډله شي.

## ۷.۲.۳ د بودیجې لګول یا مصرف

د افغان حکومت د بودیجې د اجرا په وړتیا کې ښه والی راغلی دی،[۱۷۵] (۱۷۲) د بودیجې لګول پر ۲۰۱۲کال **۵۰** فیصدو ته رسېدلې وه. تراوسه هم هغې کچې ته نه ده رسېدلې او ترې لېرې ده، چې د خلکو له اړتیاوې سره متناسبې وي. د **۱۳۹۲**کال (**۲۰۱۳** او**۲۰۱۴**) د بودیجې د تصویب په جریان کې د مدني ټولنو سازمانونه دې نتیجې ته رسېدلي وو، چې وزارتونه د ولایتونو د بودیجې په اړه حساب نه کوي او ولایتي ادارې د بودیجې په تصویب کې نه ور شاملوي او د دوی د اهدافو او پروژو په ټاکلو کې پام نه ورته کوي. "د ولایتونو د تخصیص په اړه کوم رښتینی میکانیزم په وزارتونو کې نشته، د ولایتي تخصیص ټاکل د احصاییوي معلوماتو پر اساس، یا له ولایتي چارواکو سره د شخصي اړیکو پر اساس، یا په پارلمان کې د غړو د نفوذ او قدرتمندو چاروکو له لارې په ملي او محلي سطحه ترسره کېږي".[۱۷۲]

په مالي مدیریت کې د وړتیا نشتوالی فساد زیاتوي؛ د پلان د وړتیا نشتوالي او د پلانونو د تمرین کلتور[۱۷۷] هغه فکتورونه دي، چې د افغان دولت له ناکامي او شکست سره د هغو منابعو د ښه کارونې په برخه کې مرسته کوي، چې په لاس کې یې لري. پورتني مشکل

۱۲۸ له قاري زاده سره مرکه.

۱۲۹ د ملګرو ملتونو سرمنشي، د افغانستان وضعیت او د نړیوالې سولې او امنیت لپاره د هغه مفهوم، ۲۰۱۳ز. ، د سپتمبر ۱۳، ۱۱.

۱۷۰ د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی سرمفتش (SIGAR) ۲۰۱۳ز.، د امریکا کانګرس ته درې میاشتنی راپور، د جولای ۳۰، ۱۳۲ مخ.

۱۷۱ د عدلیې وزارت ۷۴ سلنه کارکوونکي د دولسم ټولګي فارغان دي، له جامي سره مرکه، د پارلما د غړو وړتیا هم په ډېره ټیټه کچه کې ده، لکه څرنګه، چې هغوی نه شي کولی د قانون جوړونې په برخه په موثره او اغېزمنه توګه برخه واخلي. له منصور سره مرکه.

۱۷۲ د انتصاب د اوسني معیار له مخې نه NAO او نه هم مالیې وزارت کولی شي له وزارتونو تفتیش وکړي، د هر وزارت د داخلي تفتیش څانګه له دغه واک څخه برخمن دی.

۱۷۳ 'په افغانستان کې سیاسي ګوندونه: د سیاسي ګوندونو د وضعیت څېړنه'، NDI ، جون ۲۰۱۱ز.، ۴۲.

۱۷۴ له منصور سره مرکه.

۱۷۵ د نړیوالې بودیجې د مشارکت له خوا ترسره شوي، د پرانیستې بودیجې سروې ۲۰۱۲-۲۰۱۳، د افغانستان د بودیجې د برابرولو کړنلارې له هند پرته، تر ټولو سویلي اسیا هېوادونو نه په لوړه کچه کې قرار لري

۱۷۲ د افغانستان د ۱۳۹۳ بودیجې خپلواکه ارزونه، د سولې او پرمختیا لپاره برابرۍ او د روڼتیا او مسوولیت پذیرۍ لپاره افغان ایتلاف، دسمبر ۲۰۱۳ ز. کال.

۱۷۷ د مالي عامه مدیریت قانون، وزارتونه پر دې مکلف ګرځولي، چې د وزیرانو شورا ته د خپلو بودیجو د وړاندې کولو پر مهال د بودیجې اړند نور مسایل لکه پلانونه، بودیجه جوړونه او ان د پرمختیایي ترونونو کړنلارې جزییات هم وړاندې کړي. خو دغه چاره د وزارتونو له خوا د پارلمان له خوا د بودیجې تر تصویب پورې ځنډېږي، چې دغه مسله هر کال په کارونو کې د دوې میاشتې ځنډ لامل ګرځي.

ته په کتو سره د څارنې سيستم کمزوری ده. تير دولس کال د ښاري وړتياوو پر جوړولو تېر شول، کوم چې د ولايتونو او ولسواليو په کچه په بنيادي توګه غفلت شوی دی. نن ورځ محلي وړتيا کمزورې ده او ډېرينران نه غواړي، چې د سختو امنيتي تهديداتو له امله په محلي سطحه کار وکړي.[178]

خوبياهم دا کېسه کيدای شي د مالي منجمنټ د وړتيا تر نشتوالي هم ژوره وي. د دولت د اجرااتو حالت داسې معلومېږي، چې د بوديجې په پلي کولو کې کمزوری ده، ځکه چې کاغذپراني په هېوادکې تر ډېره پورې د منابعو د ويش په پروسه کې په زياته پيمانه استعمالېږي او ګومارونکی په وړتيا ولاړ سيستم نه استعمالوي، نو د دې لپاره، فتنه انګيزه ميکانيزم د مالي منابعو د غله لپاره وړاندې کوي. په دې توګه، د مالي وړتياوو د جوړونې له هڅو سره د مرستې په هدف، د بوديجې نه بهر په مستقيمه توګه او له نظارت پرته د بوديجې د وړاندې کولو د چارو دوام به د حکومتولۍ په داسې يو سيستم کې، چې پکې فساد دود شوی، بې ګټه وي. [179]

له دې ورهغه خوا د بوديجې کمزوري پليتابه، ښايي د قانون له تناقض سره تړاو ولري. د اساسي قانون ۱۰ماده دولت دې ته واداروي، "چې شخصي پانګه اچونه تشويق او وساتي او د مارکيټي اقتصادپربنياد پانګه اچونه وکړي او د دوی دفاع له قانون سره سم تضمين کړي". د اساسي قانون **۱۳۷**ماده د مرکزيت د اصولو تحفظ کوي. دا نو دې واقيعت ته توجه کوي، چې د بوديجې اجرا د عمومي خدماتو د وړاندې کولو له وړتيا سره مسقيمې اړيکې لري، " په خاصه توګه په محلي سطحه "،[180] د دې دوو مادو ترمنځ دا ذاتي يا اصلي تناقض د ولايتي بوديجې د پاليسۍ د اجراکولو څنګه واضح کوي. له دې ور هغه خوا د افغانستان د دولت مرکزي ماهيت د بوديجې په تيارولواو عملي کولو باندې او همدارنګه د شاملو اړخونو دولت، مدني ټولنو او نړيوالې ټولنې ترمنځ د ولايتي بودجې دپاليسي د عملي کولو په اړه پر عام توافق باندې اغيز کوي.

## ۷.۳ د اړوندو تمويلوونکو حمايتي ماموريت

DFID د **۲۰۱۱ – ۲۰۱۵** ز. لپاره يو ليدلوری دی، "ترڅو په افغانستان کې د با ثباته او دومدار دولت د پرمختګ انځور وړاندې کړي. د بېلګې په دې توګه، باثباته او مخ پر ودې اقتصاد او ټلپاتې سياسي حل، د سياسي ټيکاو د رامنځ ته کېدو او په ټولو کچو کې د بنسټيزو دولتي خدمتونو د وړاندې کېدو لامل ګرځي". د DFID عملياتونه او فعاليتونه، د لوړو کچې زيربنايي، کرنيزو، ټولنيزو بنسټونو، او د خصوصي پانګونې لپاره په ځانګړې توګه د کانونو په برخه کې د شرايطو د ښه والي، او د فساد په کچه کې د کموالي د راوستو په ترڅ کې د دولتي خدمتونو د وړاندې کېدو د بهبودولو په پايله کې، د رامنځته شوی اقتصادي ثبات، پرمختګ او ټوليز مشارکت له لارې د سولې، امنيت او ثبات پر ډګرونو تمرکز لري. DFID تر ډېره د عامه مشارکت او د لوړې کچې زيربنايي، کرنيزو، ټولنيزو او د خصوصي پانګوالو لپاره په ځانګړې توګه د بنسټيزو کانونو او د دولتي عامه خدمتونو د ظرفيت جوړونې په برخه کې د شرايطو د ښه والي په تړاو، د اقتصادي ټيکاو، د فساد په کچه کې د ټيټوالی د رامنځته کېدو او د عامه مالي مديريت د پرمختيا له لارې په هېواد کې د سولې، امنيت او د ثبات د ټينګښت په برخو کې فعاليت کوي.[181] د دموکراتيکې حکومتولۍ پياوړتيا د **CIDA** له مهمو کاري ساحو څخه ګڼل کېږي. د دغې موسسې پروژې تر ډېره حده له فساد او تمرکز ګرايۍ سره د مبارزې، سياسي مشارکت، مدني ټولنې، ټاکنيزو، حقوقي او قضايي پرمختياوو، مقننې او سياسي څانګو کې، رسنيو او معلوماتو ته د لاسرسۍ، عامه مالي مديريت، عامه پاليسۍ او احصاييې او ظرفيت جوړونې په برخو کې پلی کېږي[182]. **جرمني** له **۲۰۰۲** کال راهيسې د افغانستان د پرمختيايي اهدافو د پليتابه په برخو کې مرسته کوي. دغه مرستې او رغنيز فعاليتونه، له ښه حکومتولۍ سره مرستې، د اقتصادي پرمختيا ثبات، ښوونې، انرژي او د اوبو څانګې په بر کې نيسي. اوسمهال د جرمني د کلنيو مرستو له بوديجې څخه **۴۰** ميليونه يورو يې د حکومتولۍ په برخو کې فعاليتونو ته ځانګړې شوي دي. درې پروګرامونه: په افغانستان کې د قانون حاکميت پرمختيا (ROL)، د سيمه ييزو ظرفيتونو د پرمختيا صندوق (RCDF) او د سيمه ييزو زيربنايي پرمختياوو صندوق (RIDF) د جرمني هېواد په مرستو فعاليت کوي، او همدا راز د جرمني مرستې د هېواد په شپږو شمالي ولايتونو کې د سيمه ييزې حکومتولۍ په مالي او تخنيکي برخو کې مرستې او همدارنګه په ملي کچه د سياسي مشورې پروګرام په بر کې نيسي. د جرمني نورې مرستې د پرو ژو د اجرا کولو واحد (PIU) د افغان پوليسو د بيا جوړولو او د مشورو د پرانېستې پاليسۍ صندوق له لارې (OPAF) د افغان وزيرانو لپاره د پاليسۍ

۱۷۸ له قاری زاده سره مرکه.

۱۷۹ په افغانستان کې د ريټريزم د نورو تاريخي بېلګو په لټه کې، ويليام ورکورن او کمپوسي، په ريټرز دولت کې دولت جوړونه، په افغانستان کې د دموکراسۍ پرمختيايي پاليسۍ څرنګه له ماتې سره مخ شوې، د ټولنيزو مطالعاتو نړيوال انستيتوت، ۲۰۱۳.

۱۸۰ د يو اغېزمن دولت رامنځته کول: د PAR لومړيتوبونه، نړيوال بانک، ۲۰۰۸ ، ۱۷.

۱۸۱ له ۲۰۱۱ تر **۲۰۱۵** پورې د DFID عملياتي پلان، وروستي اپديت د ۲۰۱۲ ز. جون https://www.gov.uk/government/uploads/system/uploads/attachment_data/file/67417/afghanistan-2011.pdf (لاسرسی د ۲۰۱۳ کال د دسمبر ۳۰مه).

۱۸۲ له http://www.acdi-cida.gc.ca/cidaweb/cpo.nsf/fWebCSAZEn?ReadForm&idx=00&CC=AF اخيستل شوي معلومات. (لاسرسی د ۲۰۱۳ کال د دسمبر ۲۹مه).

په برخه کې مشورې او د عامه ادارې د ښوونیزې کچې د پیاوړتیا په برخه کې ترسره شوې دی. جرمني همدا راز هر کال د ۲۰ میلیونو یورو په شاوخوا د افغانستان د بیارغونې له وجهي صندوق (ARTF)سره مرسته کړې ده. **USAID** هم د قانون حاکمیت، اداري فساد، حکومتولۍ، ټاکنو او سیاسي سیالیو، مدني ټولنې او خپلواکې رسنۍ په برخو کې د خپلو مرستو په تمرکز سره، د بنسټیزو ادارو د ظرفیت د پرمختیا په برخه کې د ټاکنو له کمېسیون، ملي شورا، سترې محکمې، د سیمه ییزو ادارو خپلواکه ادارې او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو له خپلواک کمېسیون سره مرستې کړې دي. USAID همدا راز د مدني ټولنو له سازمانونو سره د روزنیزو پروګرامونو له لارې مرستې کوي، ترڅو په دې مرستې سره، د اصلاحاتو لپاره زمینه برابره کړي. [۱۸۳].

د اروپا اتحادیه **EU** له NPPs (د ملي لومړیتوبونو پلان) سره مرسته کوي او د ډونر د همغږۍ په موخه کار کوي. د اروپایي ټولنې زیاتې مرستې پر حکومتولۍ تمرکز لري، او له **۲۰۰۷** تر **۲۰۱۰** پورې یې **۲۲۷** میلیونه او له **۲۰۱۱** تر **۲۰۱۳** پورې **۲۴۲** میلیونه ډالره مرسته کړې ده. [۱۸۴] **نړیوال بانک** د افغانستان د امنیتي لېږد د مدیریت په برخه کې په کال کې د **۱۵۰** میلیونه یورو او د افغانستان د بیارغونې له وجهي صندوق (ARTF) سره په کال کې تر **۸۰۰** میلیونه ډالرو زیاترو مرستو ژمنه کړې، چې د مرکزي او محلي حکومتونو د ادارې، عامه مالي مدیریت، عامه اداره، قانون او عدلي څانګو د پیاوړتیا په موخه مصرفېږي.[۱۸۵] **فرانسي** د فرانسوي انجوګانو له لارې د دموکراتیک حکومت د پیاوړتیا په برخه کې مرسته کوي، چې په دې ترتیب سره، د ملي شورا بنسټیز کېدل، د سترې محکمې عدلي چارواکو ته د ترینګ وراندې کول، د پولیسو افسرانو روزنه او د وړتیا پر بنسټ د والي مرستیال د انتصابېدو په موخه د ترینینګ په وړاندې کولو سره په مستقیمه توګه له سیمه ییزې حکومتولۍ سره مرستې په برکې نیسي.[۱۸۶] **ناروي** هېواد په دې وروستیو کې تر **۲۰۱۷** ز. کاله پورې د **۱۲۵** میلیونو ډالرو مرستو د ژمنتیا په وړاندې کولو سره، له دریو بنسټیزو ساحو څخه، د ښه حکومتولۍ څانګه له افغانستان سره د خپلو پرمختیایي مرستو هدف ګرځولی دی. له افغانستان سره "د ناروې مرستې د ملګرو ملتونو، نړیوال بانک او یو شمېر نارویي او نړیوالو انجوګانو له لارې ترسره کېږي".[۱۸۷] د **سویډن** هېواد مرستې تر ډېره پر دموکراتیزه، جنسیتي برابرۍ، پوهنې، د خصوصي سکتور پرمختیا، بشر حقوقو او له اداري فساد سره د مبارزې پر څانګو تمرکز لري.[۱۸۸] د **هالند پراختیایي مرستې**، د یوې زماني دورې لپاره له **۲۰۱۴ – ۲۰۱۷** پورې تر ډېره پر جنسیتي امنیت، د قانون حاکمیت، د ښځو او بشرحقوقو پر ډګرونو تمرکز لري؛ هالند همدارنګه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي له ځانګړي صندوق او په ځانګړې توګه "د ښځو او نجونو پر وړاندې له تاوتریخوالي څخه د مخنیوي او خدمت ته د قربانیانو او محرومو وګړو د لاسرسي له پروګرام سره مرسته کوي". "د افغانستان لپاره د هالند پرمختیایي مرستې په کال کې تقریبا له **۵۰ – ۲۰** میلیونه یورو دي. د دغې بودیجې زیاته برخه د وجهي صندوقونو لکه د افغانستان د بیارغونې لپاره وجهي صندوق او نړیوال بانک له لارې مصرفیږي؛ خو لږه برخه یې بیا د دوه اړخیزو پروژو او پروګرامونو د مالي تامین په موخه لګول کېږي".[۱۸۹]

**ایتالیا** د **۳۷۰** میلیونو یورو د مرستې د ژمنتیا په وړاندې کولو سره، تر ډېره پر عدلي او د قانون پر حاکمیت تمرکز لري، چې د بغلان په ګډون اوه نور ولایتونه په بر کې نیسي. ایتالیا همدا راز د عامه ادارې د پیاوړتیا (تخنیکي مرستې او روزنه)، د عدلي څانګې د ریفورم (پر ښځو او ماشومانو په تمرکز سره د عدلیې وزارت، لویې څارنوالۍ او سترې محکمې د کارمندانو روزنه) او د ښځو چارو وزارت لپاره د سازماني مرستو د وړاندې کولو په برخه کې هم مرسته کوي[۱۹۰]. د **فنلند** هېواد مرستې د حکومتولۍ، بشر حقوقو او د قانون حاکمیت پر ډګرونو تمرکز لري، په دې توګه د افغانستان د بیارغونې له وجهي صندوق ARTF ، د افغانستان لپاره د نظم او قانون وجهي صندوق LOTFA او د بشر حقوقو د خپلواک کمېسیون له دفتر AIHRC سره مرستې کوي. دغه هېواد همدا راز د پولیسو او څارنوال ترمنځ د همکارۍ په نامه یوه پرمختیایي پروژه لري. [۱۹۱] **استرالیا** هېواد تخنیکي ملاتړ او روزنې له لارې په روغتیایي، پوهنې، کرنې او د

۱۸۳ له http://www.usaid.gov/afghanistan/democracy-governance اخیستل شوي معلومات. (لاسرسی د ۲۰۱۳ کال د دسمبر ۲۹مه).

۱۸۴ له http://ec.europa.eu/europeaid/where/asia/country-cooperation/afghanistan/0-0-0-afghanistan_en.htm اخیستل شوي معلومات. (لاسرسی د ۲۰۱۳ کال د دسمبر ۲۹مه).

۱۸۵ له http://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/projects/all?qterm=&lang_exact=English&srt=status&order=asc ترلاسه شوي معلومات. (لاسرسی د ۲۰۱۳ کال د دسمبر ۲۹مه).

۱۸۶ له http://www.franceonu.org/france-at-the-united-nations/un-express-922/article/france-s-commitment-in-afghanistan اخیستل شوي معلومات. (لاسرسی د ۲۰۱۳ کال د دسمبر ۳مه).

۱۸۷ له افغانستان سره د ناروې د پرمختیایي همکارۍ ارزونه ۲۰۰۱ – ۲۰۱۱، د نوراډ د ارزونې څانګه، ۲۰۱۲ مارچ ، http://www.oecd.org/countries/afghanistan/50586740.pdf (لاسرسی د ۲۰۱۳ کال د دسمبر ۲۹مه).

۱۸۸ له http://www.sida.se/English/Countries-and-regions/Asia/Afghanistan/Programmes-and-projects1 اخیستل شوي معلومات. (لاسرسی د ۲۰۱۳ کال د دسمبر۳۰مه).

۱۸۹ له http://afghanistan.nlembassy.org/organization/rebuilding-and-development-cooperation اخیستل شوي معلومات .(لاسرسی د ۲۰۱۳ کال د دسمبر۲۹مه).

۱۹۰ له http://www.afghanistan.cooperazione.esteri.it/utlafghanistan/EN/Italia/Intro.html او http://www. coopitafghanistan.org/?page_id= اخیستل شوي معلومات. (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ۱).

۱۹۱ له http://www.finland.org.af/public/default.aspx?nodeid=38579&contentlan=2&culture=en-US او http://formin.finland.fi/public/default.aspx?contentid=185099&contentlan=2&culture=en-US اخیستل شوي معلومات. (لاسرسی د ۲۰۱۳ کال د دسمبر ۲۹مه).

کليو پراختيا په برخو کې مرسته کوي[۱۹۲]. **جاپان** هېواد له ۲۰۰۱ راهيسې له افغانستان سره د ۷۹۷.۴ ميليارډ ډالرو په اندازه مرسته کړې او همدارنګه ژمنه يې کړې، چې له ۲۰۱۲ نه تر ۲۰۱۷ پورې د ۳ ميليارد ډالرو په اندازه نورې مرستې د ټولنيزې او اقتصادي پراختيا او امنيتي ظرفيت جوړونې په برخه کې وکړي.[۱۹۳] د **سويس پراختيايي مرستې** تر ډېره له AIHRC, LOTFA, UNDP او افغان ملي پوليسو په ځانګړې توګه د ښځينه پوليسو د استخدام او روزنې په برخو کې ترسره کېږي.[۱۹۴]



*يوه افغانه ښځه د ولسمشرۍ د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې خپله رايه کاروي عکس*

**UNDP** د حکومتولۍ په برخه کې د اصلاحاتو د پلي‌تابه لپاره د افغان دولت تر ټولو لوی همکار دی. UNDP د سترو ډونرانو په مرسته، په لاندې برخو کې څلورې سترې پروژې اجرا کړې: ۱) له ماليې وزارت سره د همکارۍ په برخه کې د بوديجې جوړولو او نورو مرستندويو چارو په برخه کې (MBAW) دغه پروژه، په ښه توګه د بوديجې د پلانونې، مديريت کولو، پاليسۍ، د ستراتيژۍ پراختيا په برخه د ادارو له پرمختيا سره مرسته کوي. دغه پروژې همدا راز د ANDS او NPP او ملي بوديجې ترمنځ اړيکې پياوړې کوي. ۲) د محلي ارګانونو له خپلواکې ادارې او د ټولو ۳۴ ولايتونو د واليانو له دفترونو سره په همکارۍ سره د افغانستان د سيمه ييزې حکومتولۍ پروګرام (ASGP) – دغه پروژه په بشپړه توګه له SNGP او NPPLG سره په يوه کچه کې قرار لري. ۳) د اداري اصلاحاتو او د ملکي خدمتونو له خپلواک کمېسيون سره په همکارۍ سره د ملي ادارو د جوړونې پروژه (NIBP)؛ دغه پروژه په ۱۵ وزارتونو کې د ظرفيت جوړونې په برخه کې مرسته کوي. او ۴) د ټاکنو خپلواک کمېسيون سره په همکارۍ د راتلونکي لپاره د حقوقي او ټاکنيز ظرفيت زياتوالي (ELECT II) په دغه پروژه کې د ټاکنيزو پروسو لپاره تخنيکي او عملياتي مرستې وړاندې کېږي.

۱۹۲ پيل اسپارو، 'د لرې واټنونو لپاره: له افغانستان سره د استراليا مرستې'، ۲۰۱۰ جولای. http://www.acfid.asn.au/resources-publications/publications/ acfid-research-in-development-series/in-it-for-the-long-haul-delivering-aid-to-afghanistan (لاسرسی د ۲۰۱۳ کال د دسمبر ۲۹مه).

۱۹۳ له http://www.mofa.go.jp/region/middle_e/afghanistan/pdfs/japan_assistance.pdf او http://www.mofa.go.jp/region/middle_e/ afghanistan/pamph0703.pdf اخيستل شوي معلومات. (لاسرسی د ۲۰۱۳ کال د دسمبر ۲۸مه).

۱۹۴ د سويس د همکاريو ستراتيژۍ ۲۰۱۲ – ۲۰۱۴، http://www.swiss-cooperation.admin.ch/afghanistan (لاسرسی د ۲۰۱۳ کال د دسمبر ۲۷مه).

# ۸. پایله

د سپتمبر له ۱۱ مې وروسته، په ناڅاپي توګه د سرمايې په ننوتو سره افغانستان د پرمختګ پر لور حرکت وکړ، چې نوموړې پانګه په ناسمه توګه په سکتورونو اووښه لرونکو[۱۹۵] باندې ووېشل شوه. په چټکۍ سره د بې دولته فعالينو پرمختګ، په حساب ورکولو باندې نه ټينګار او د لومړيتوبونو پر بنسټ د ولاړې اجنډا په پېژندنه کې د ملي بنسټونو ناکامي د دې سبب شوه، چې د افغانستان پرمختګ د بهرنيانو په مرستو پورې وتړل شي. په عين وخت کې، د نړيوالو شتون او خپلمنځي سيالۍ، د همغږۍ نشتوالی، مرسته ورکوونکو ته د حساب ورکولو په برخه کې قوي ټينګار[۱۹۶]، د منابعو لپاره د ملي ظرفيت د جذب په برخه کې ناسم تحليل او د هغې د تصديق نا تواني، د پرمختګ په برخه کې د مرسته کوونکو افغان ملکيتونو يوازې پرېښودل، چې د اوږدې مودې راهيسې نړيوالې ټولنې پر هغوی پانګونه کړې، ژوند او خپل حيثيت يې له لاسه ورکړی دی. داسې ټاکل شوې، چې له **۲۰۱۴** زکال وروسته به نړيوال جګړه ييز ځواکونه له افغانستان څخه ووځي او مرستې به هم راکمې شي، چې دا د مسؤل حکومتي سيستم پر لور يو مثبت قدم دی[۱۹۷].

افغان حکومت به په راتلونکې کې پر اقتصادي پرمختګ تمرکز وکړي او له دې څخه به ګټه پورته کړي. دغه پرمختګ بايد کليوالو سيمو او وګړو ته هم وغځوي، ترڅو حکومت يو غير رسمي شکل ځانته غوره کړي. د ننګونو تحليل او تجزيې ته په جدي توګه پاملرنه د پېچلو مسايلو د حل په برخه کې مرسته کوي او د بوديجې د نظارت په اړه قوي ژمنه، چې نوموړې پانګه افغان دولت ته ورکوي .نور وړانديزونه عبارت دي له: په اوږد مهال کې د اصلاحاتو د عملي کولو کړنلاره او د بدلون راوستل، د مدني ټولنې ملاتړ، خو د موازي خدمتونو د وړاندې کولو د ميکانيزم په توګه نه، بلکې لکه د دواړو په څېر چې خلک په خپل منځ کې سره ملګري او دولت د يو همکار په توګه وي. د نړيوالې ټولنې، عامه، د خصوصي او مدني ټولنې د سکتور په ګډون، د ټولو ذينفعانو (ګټه کوونکو) ترمنځ او په ټولو سطحو کې د همکارۍ د ظرفيت ايجادول او په اخير کې د قانون اجراء او د موجوده او په راتلونکو کې د اصلاحاتو تطبيق . خو پورته ټول په ځانګړي توګه په افغان حکومت پورې راتلونکې تړاو د نړيوالو ملګرو له ملاتړ سره يوځای، په حقيقت کې د کاغذ له مخې څخه بايد چې د عمل ډګر ته انتقال شي.

## ۸.۱ ننګونې

افغانستان په ۲۰۰۸ زکال کې د ناکافي زېربناوو، کمزوري بنيادي او بشري منابعو ظرفيت، ضعيف اقتصادي حکومت، د سيمه ييزو او نړيوالو سوداګريزو اړيکو له پرېکون، کمزوري خصوصي سکتور او د ځمکې او مالي په برخه کې د مخ پر ودې مارکېټونو، ناوړه امنيت او په لوړه کچه د نفوس د زياتوالي[۱۹۸] له ستونزو سره مخ شو .په ۲۰۱۲ زکال کې NPP۳ د راتلونکو **۳ – ۵** کلونو پورې څلور غټې حکومتي ننګونې مشخصې کړې، چې عبارت دي له: کمزورې مقننه او د پاليسۍ چوکاټ، کمزوري وظيفوي ظرفيتونه او په ملي او محلي کچه عملياتي اجراء، د اوږد مهال لپاره د عامه ادارې د اصلاح نشتوالی او د د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کمېسيون[۱۹۹] کمزوری ظرفيت او رهبري. نن ورځ پر پورتينو ټولو ستونزو سربېره، افغانستان يو اوږد واټن وهلی.[۲۰۰] نړيواله ټولنه ژمنه ده، چې له افغانستان سره به په يو شمېر مشخصو ساحو کې د بدلون په لسيزه (۲۰۱۴ – ۲۰۲۴) کې پاتې کېږي، چې نوموړې بنسټيزې ننګونې په لاندې ډول دي:

**د مقننه قوې ناکامي:** د مقننه قوې پر اصلاح سربېره، په ملي او محلي کچه د دولت او د دولت د واحدونو اساسي جوړښت پر خپل هغه پخواني حالت پاتې شو،[۲۰۱] په ځانګړي توګه د قانون د ماتې له کبله. په اساسي توګه د دولت د ادارې په اړه د افغانستان اصلاح شوي قانون ته په **۱۹۲۵** زکال کې انکشاف ورکړل شو، چې تر ۲۰۰۸ ز.کال[۲۰۲] پورې ناڅرګنده پاتې دی[۲۰۳].

۱۹۵ بايرد، ويليام، او ګري ميلينټ او کينټ انی، 'د افغانستان د لېږد د درک په موخه يوه نوې کړنلاره: له تېرو نړيوالو لانجو سره يوه پرتلنه'، USIP, ۲۰۱۳.

۱۹۶ له لړزاند حالت نه تحرک ته: په اسيب پذيزو هېوادونو کې د دولت جوړونې مفاهيم او رازونه، OECD، ۲۰۰۷.

۱۹۷ له بتيجا سره مرکه.

۱۹۸ د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژۍ، ۴.

۱۹۹ NPP۳: اغېزمن او ګټور حکومت، ۷.

۲۰۰ مارټين وان بيليجرټ، 'ننګونې او هيلې: افغانستان او د ۲۰۱۴ سنډروم'، ۱۰ جنوری ۲۰۱۴، http://www.afghanistan-analysts.org/fear-hope-and-determination-afghanistan-and-the-2014-syndrome

۲۰۱ له حميدي سره مرکه.

۲۰۲ د پارلمان د ولسي جرګې جرګه، په شپږو فصلونو او **۵۹** مادو کې د دغه قانون تعديلونه د ۲۰۰۷ ز. په سپتمبر کې تصويب کړ، خو د مشرانو جرګې د ۲۰۰۸ ز. په فبرورۍ کې بېرته يې ولسي جرګې ته ولېږه. http://mosharekat.wahdat.net/?num=230&id=4095and http://www.meshran.com/pvd/showdoc.aspx?Id=1075

۲۰۳ له هاشمي سره مرکه.

د یو پیاوړي او نوي حقوقي چوکاټ نشتوالی، چې وکولای شي د عامه اداري د بنسټیزو ادارو جوړښت او دندې مشخصې کړي، یوه بنسټیزه ننګونه ده، چې نشي کولای په ملي او محلي کچه حکومت ته پرمختګ ورکړي. د دغه قانون نشتوالی په جدي توګه د سترې محکمې او د اساسي قانون پر تطبیق د څار د کمېسیون د اړیکو په برخه کې جدي ابهام رامنځته کړی. همدا راز دې ته اړتیا شته، چې د مدني خدمتونو قانون، هغه قانون چې د دولت پر اساسي اداره باندې حاکم دی او د اداري پروسیجر یا طرزالعمل قانون ته اړتیا شته، چې فوري بیا کتنه (تجدید نظر) ورته وشي.[۲۰۴] یوه بله ننګونه هم د ملي امنیت له لوري د یوه پټ "مخفي" قانون غوښتل دي، په داسې حال کې چې د اساسي قانون بر بنسټ، هېڅ قانون باید پټ ونه اوسي. د اساسي قانون **۱۳۴** مه ماده، د جرمونو په کشف او تحقیق کې د افغان ملي پولیسو او لویې څارنوالۍ رول مشخصوي، په داسې حال کې چې د ملي امنیت ریاست د جرمونو په کشف او تحقیق کې خپل ځان مشغولوي، پرته له دې چې کومه اداره پرې حاکمیت ولري او پروسه نظارت کړي. دا داسې یو حالت دی، چې د بشر حقوقو پر وړاندې تېري ته یې نور هم تشویقوي.[۲۰۵]

**کمزوری حقوقي تحلیل او تحقیقي (څېړنیز) ظرفیت:** سربېره پر فرهنګ، کمزوری کار د تخصص په نشتوالي کې راڅرګندېږي او د حقوقي طرحو[۲۰۶] پر حقوقي تجزیې او تحلیل باندې تمرکز کوي. د عدلیې په وزارت کې د تقنین ریاست د حقوقي تجزیې او تحلیل او د تحقیق د ظرفیت له نشتوالي سره مخ دی. د وزارت حقوقي ډیپارټمنټونه کمزورو ژباړل شوو حقوقي طرحو ته چې له انګلیسي څخه راژباړل شوي دي، انکشاف ورکوي، چې دا له اندازې زیات د تقنین ریاست ظرفیت نور هم راټیټوي. د دغې ستونزې څرګنده پایله په متناقض ډول د محتوا په څېر په حقوقي اسنادو او په خپله په اساسي قانون کې لیدل کېږي.[۲۰۷]

**عامه اداري ته د حکومت له لوري د بشپړ لاسرسي نشتوالی:** د اساسي قانون د **۵۰** مې مادې له مخې دولت مکلف دی، چې د یوې سالمې اداري او د هېواد په اداري سیستم کې د سمون د رامنځته کېدو لپاره، لازم تدبیرونه ونیسي. د نظارت عمل او د عامه مدیریت سیستم پر تاسیس باندې نظارت د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون ته وسپارل شو. دغه درک که څه هم چې د دولت د بوروکراسۍ له لوري تر دې دمه دننه شوی نه دی، خو د نړیوالې ټولنې او آن د عامه خلکو[۲۰۸] له لوري، دا د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کمېسیون پر ځای له مرکزي او محلي اداري واحدونو سره د بې مرستې مشارکت سبب کېږي، چې دا د PAR په تطبیق کې نه کوم حاکمیت لري او نه هم کوم ظرفیت.[۲۰۹]

**سیاسي ملاتړ او حکومت:** با کیفیته یا د کار وړ سیستمونه، اغېزمن او متعهده رهبري او شفافیت او د خلکو فعال ګډون، په افغانستان کې ډیموکراتیک حکومت ته پیاوړتیا وربښي. د پرمختګ په پالیسیو کې د افغان دولت په ملي او محلي کچه چارچوکاټ په ټوله کې د دولت پر وړاندې ستونزه لري.[۲۱۰] د سیاسي ملاتړ پیاوړي رول او ټولنیز میراث، د افغان ټولنیز خدماتو سیستم فلج کړی، چېرته چې دولتي مقامونه د جنګسالارانو او د هغوی له لوري "انتخاب شوي" "نوي نسل تکنوکراتانو" ترمنځ وېشل شوي دي.[۲۱۱] په ټولنیز چوکاټ کې ښکاره ښېلګه، واقعي پرمختګ او د اصلاحاتو عملي کېدو ته نه ژمنتیا، ملاتړ کوونکو سیاسي سرچینو ته نه وفاداري او دغه فلج سیستم داسې یو حالت رامنځته کړی، چې بېلابېل سکټورونه یو له بل سره ګډه همکاري نه کوي، ځکه نو په شدیده توګه د ظرفیت نشتوالی د دې سبب شوی، چې ونه شي کړای لکه د یو ماشین د یوې بدنې په توګه د یو ځانګړي هدف لپاره کار وکړي.[۲۱۲] همدا راز په دې برخه کې آن فني مدني کار کوونکي هڅه کوي، ترڅو د خپلو مقامونو د ساتلو په موخه د جنګسالارانو د خوښې کسان راولي او وروسته بیا د حکومت داصلاح لپاره کار کوي. د سیاسي انتقال په نږدې کېدو سره په فني ملاقاتونو کې د سیاسي نفوذ نمونې د NPPs راتلونکی له خطر سره مخ کوي او د TMAF ژمنې به همداسې پر خپل حال پاتې شي، چې په حقیقت کې یوه جدي اندېښنه راپورته کوي.[۲۱۳] دې ته په پام سره، ډېری سیاسي رقیبان نه شي کولای، چې په ګروپي توګه کار وکړي، په داسې حال کې چې د دوی له لوري "انتخاب شوي" تکنوکراتان کولای شي، چې په ګروپي توګه په ټیم کې کار وکړي

---

۲۰۴ NPP۳: اغېزمن او ګټور دولت، ۷.

۲۰۵ له حمیدي سره مرکه.

۲۰۶ له حمیدي سره مرکه.

۲۰۷ له جامي او هاشمي سره مرکه.

۲۰۸ "خلک لا تراوسه پورې د خپلو عدلي چارو د حل په موخه په مستقیمه توګه والي او ولسوال ته مراجعه کوي، چې دا د دې ښودنه کوي، چې دوی د قضایي واک له استقلالیت نه پوره درک نه لري". له حمیدي سره مرکه.

۲۰۹ له هاشمي سره مرکه.

۲۱۰ سارا پارکنسون، څه شي په پای کې دی: په افغانستان دولت جوړونه، AREU، نومبر ۲۰۱۰، ۳۶.

۲۱۱ له لېوال سره مرکه.

۲۱۲ هماغه ځای.

۲۱۳ له قاري زاده سره مرکه.

او ایډیولوژیک ملاتړي د هغو کسانو په اړه، چې د ورتیا له اړخه کمزوري وي، نه خوښوي[۲۱۴]. دا ښايي په دې معنا وي، چې افغان دولت د دې پر ځای، چې د ستونزو لپاره حل لارې پیدا کړي، بلکې نور هم ستونزې زیاتوي . دغه خبرې د افغانستان پر بیا رغونې د ځانګړي سرمفتش.[۲۱۵] د ۲۰۱۴ زکال د رپورټ پر بنسټ شوي، همدا راز د اعتماد وړ اطلاعاتو د نشتوالي موضوع بل ډول څرګندوي.[۲۱۲]

**د ملکي خدماتو د وېش سیستم:** د CBR د نمونې په ګډون،۲۱۷ د نیمګړي مدني خدمت د اصلاح د سیستم په سبب، افغانستان د مدني خدماتو او د بوروکراسۍ لرونکی دی، چې په خپل منځ کې سره وېشل شوي دي.۲۱۸ د CBR په څېر پروګرامونه په انحصاري توګه د یو میکانیزم پر لور د څو قدرتمندو لپاره د خدمت اجراء کول دی.د تېرو ۱۲ کلونو کړنې د ملکي کارکوونکو د دوو نسلونو ترمنځ د قوي همکارۍ د پیدا کولو په برخه کې ناکامه دي، چې دغه بېلتون د تنخواګانو، معلوماتو د لاسرسي، هدف ته د رسېدو ظرفیت، د ارتباطاتو برقرارول او له بهرنیو ذینفعانو سره د اړیکو ټینګولو ۲۱۹ په برخه کې د غټ توپیر له کبله دی . د ملکي کارکوونکو زوړ نسل، چې ژوره پوهه لري، خو دغه د ملکي خدماتو زاړه تجربه لرونکي د نوي نسل په منځ کې خپل ځان ورک ګڼي، نو ځکه تضاد یا تعرض ته لار پرانېزي . د زاړه تجربه لرونکو کسانو او نویو ځوانانو ترمنځ د همکارۍ نشتوالی یوه تشه رامنځته کوي، چې دا په حقیقت کې د دې پر ځای چې اصلاحات عملي شي، بلکې د ملکي خدماتو سیستم نور هم فلجوي. نن ورځ دواړه نسلونه د بوروکراسي دننه د ورځني اساس له مخې یو له بل سره په سخته مبارزه کې ښکېل دي . په ټول هېواد کې د جمهوري ریاست د **۲۳۵** نمبر فرمان تطبیق، چې اجازه ورکوي د فني ملي مرستو د حق الزحمې یا پاداش پالیسۍ ته، چې موخه یې د تشکیل دننه او له تشکیل څخه د باندې د تنخواګانو برابروالی دی، د بهرنیو کارکوونکو په ګډون چې د ډونرانو یا مرسته کوونکو له لوري د **۲۰۱۳** زکال د می[۲۲۰] په میاشت کې ورکول کېده، لومړنی سازماني ابتکار دی، چې نومړې تشه مشخصوي . چې د نړیوالو مشاورینو نرخ راټیټول یې، دویمه ننبه ده .

**لومړیتوبونه او لومړیتوب ورکول:** نړیواله ټولنه افغانستان ته له خپلو لومړیتونو سره راغله، هغه لومړیتوبونه چې تر دې دمه د تعامل یا مشغولتیا د عملي دوام اساس جوړوي . په سیستماتیکه توګه د لومړیتوبونو په ټاکلو کې د افغانانو کمزوری ظرفیت، د نوموړو لومړیتوبونو ترمنځ اړیکه ټینګوي او په قوي توګه د بهرنیو لومړیتوبونو د ټاکلو په پروسه کې د ښې زمینې د برابرولو تقاضا کوي . په نړیوالې ټولنې پورې د افغانستان تړاو[۲۲۱] ته په پاملرنې سره، افغانان چې د افغانستان په پرمختګ کې شریکان ګڼل کېږي، په سختۍ سره یې دنړیوالو د موجودیت او د فني او مالي همکاریو په نسبت، واقعي او عملي د ګټې او زیان د تحلیل او تجزیې په نظر کې نیولو سره پرېکړه وکړه . هغه کمزوري، چې د افغان ظرفیت د مخنیوي سبب شو ، چې په ستراتیژیکه مکالمه کې له نړیوالې ټولنې سره متعهد یا ژمن شي .پر بین المللي متخصصینو تکیې ته په پام سره، دواړه د افغانستان تخصص او افغان متخصصین له نظره وغورځول شول او په ډېره لوړه بیه مشاورین او فني خدمات له بهر څخه راوغوښتل شول، چې تر دې دمه دغه حالت دوام لري. په داسې حال کې چې د اوسني پرمختګ څښتنان خپله افغانان دي، افغان رهبرۍ او لومړیتوبونو [۲۲۲]په عمل کې یو څه بدلون موندلی دی.[۲۲۳]

---

۲۱۴ له سرابي سره مرکه.

۲۱۵ د افغانستان د بیارغونې په چارو کې د امریکا ځانګړی سرمفتش، مستقیمې مرستې: د امریکا د نړیوالې پرمختیا اداره، د مرستو د مدیریت په تړاو د افغانستان د وزارتونو د وړتیاوو د ارزونې په برخه کې، مثبتې کړنلارې تر لاس لاندې نیولی، خو اندېښنې لا موجودې دي، د ۲۰۱۴ جنوری، په دغه ادرس کې د ترلاسه کېدو وړ دی: http://www.sigar.mil/pdf/Audits/SIGAR-14-32-AR.pdf

۲۱۲ بایرد، ویلیام، ګری میلانته او کانت انیه، "د افغانستان د لېږد په پېژندنه کې نوې کړنلاره: تر لانجې وروسته ډګرونو کې له نړیوالو تجربو سره پرتلنه"، د متحده ایالاتو د سولې انستیتوت، ۲۰۱۳ز.

۲۱۷ د محلي ارګانونو د خپلواکې ادارې د پالیسي او تخنیکي معینیت مشاور ډاکټر صبغت الله سره مرکه، جنوري ۲۰۱۴.

۲۱۸ سارا لیستر، "مخ پر وړاندې؟ په افغانستان کې د عامه ادارې د اصلاح ارزونه"، د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، د ۲۰۰۲ کال سپتمبر، په دغه ادرس کې د ترلاسه کېدو وړ دی: http://www.areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/629E-Moving%20Forward-BP-web.pdf

۲۱۹ له لېوال سره مرکه.

۲۲۰ د ملي تخنیکي مرستو د حق الزحمې کړنلاره، د افغانستان حکومت، په دغه ادرس کې د ترلاسه کېدو وړ دی: http://www.budgetmof.gov.af/images/stories/DGB/Reports_publication/NTA%20Remuneration%20Guidelines.pdf (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د جنوری ۲۸مه)،

۲۲۱ ډاکټر دوګلاس سالتمارش او ابهیلاش مدهي، "په افغانستان سیمه ییزه حکومتولۍ"، AREU، د ۲۰۱۱ جون، ۳.

۲۲۲ رابرت لم او بروکه شان، "په افغانستان کې سیاسي حکومتولۍ او ستراتیژۍ"، د ستراتیژیکو او نړیوالو څېړنو مرکز، ۲۰۱۲ ز. اپریل، ۴۰.

۲۲۳ له لېوال سره مرکه.

**ه پلانونې سره لېوالتیا او له اجرا څخه یې وېره:** یوه غټه بېلګه، چې د تېرو ۱۲ کلونو کار مشخصوي، هغه د پلان جوړولو او پالیسۍ د پرمختګ پر لور د افغان دولت[224] او نړیوالې ټولنې تمایل دی. دا له ANDS سره یوځای پیل شوه او داسې ښکاري، چې له NPPs سره به یو ځای پای ته ورسېږي، چې یوازې به د بیا نا هیلۍ سبب شي. یوه بله "برنامه ریزي" د MoEC له لوري پیل [225]او پر کار اچول شوې، چې د ۱۳۹۲ – ۱۳۹۵ دوره په ځان کې رانغاړي، چې عملي کول به یې څو کلونه په بر کې ونیسي، نو ځکه د NPP اجراء له ماتې سره مخ شوې.

**د مقطعي ملي اقتصاد د لیدلوري نشتوالی:**[226] د حکومت پرمختګ او د ډیموکراسۍ پیاوړتیا په ځانګړي توګه پرخپل ځان متکي حکومت پر اقتصادي پرمختګ باندې ولاړ دی، چې اقتصادي دید یا بصیرت ته اړتیا لري.[227] د ځینو لپاره "د افغانستان اقتصادي پالیسي" د توکو د یو لست په څېر دی،[228] چې د اقتصاد او مالیې وزارتونو له لوري پرمختګ ورکړل شوی دی، چې عنوان یې دی "د اقتصادي بسایني پر لور"، چې د ۲۰۱۲ ز.کال په جولای کې د توکیو په کنفرانس کې وړاندې شو او یو شمېر اقتصادي پلانونه [229]یې وړاندې کړل، خو کوم واقعیت چې پاتې شو هغه دا دی، چې افغانستان د مقطعي ملي اقتصاد د لیدلوري نشتوالي د دې سبب شو، چې افغانستان کمزوري ظرفیتونه جذب کړل او په پای کې نوموړې منابع په نا څرګنده او مبهمه توګه په مصرف ورسېدې، نو ځکه طلایي چانس له لاسه ووت. د بدلون په لسیزه کې به ډېر داسې توپیر ونه ولیدل شي، خو په هغه صورت کې که واقعي ظرفیت جذب شي، د مصرف لپاره ځانګړي استعدادونه پیدا او وروزل شي او د ملي اقتصاد بصیرت یا دید ته پرمختګ ورکړل شي.

**د حکومت معضله، ښاري ژوند او پرېکون:** حکومت په عمومي توګه د یو ښاري حکومت په توګه پېژندل شوی دی. کلیوالي حکومت په اغلب ګومان چې کلیوالي بڼه لري او په تېرو ۱۲ کلونو کې د یو شمېر ناسمو لاملونو له کبله له یاده ایستل شوی دی، په داسې حال کې چې یو شمېر سیمې د بېلګې په توګه هغه سیمې، چې د جنسیت پر وړاندې کوم حساسیت نه لري، د دولت په رسمي جوړښت[230] کې یوشان نوموړې مشخصه مشاهده شوه.[231] د تېرې یوې لسیزې په دولتي اصلاحاتو کې ډېر تمرکز د ښاري دولت په سیموکې راڅرګندېږي، چې د کلیوالي سیمو له ډېری اکثریت څخه سترګې پټې شوې[232]. په پای کې ښارونو په مصنوعي توګه پراختیا پیداکړه، چې د ښاري تورم سبب شو او شدید ټولنیز سیاسي اقتصاد یې رامنځته کړ، چې په ښاري او کلیوالو سیمو ووېشل شو. نن ورځ د افغانستان په کلیوالو سیمو کې د دولت مدني شتون هېڅ نه احساس کېږي او لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، رسمي محلي حکومت ډېر کمزروی پاتې شو. د پایلې په توګه، کلیو د ښارونو پر وړاندې کینه ونیوله، چې د رسنیو له لوري ورته نور هم شدت ورکړل شو. په کلیو کې د احساس، لیدلو، اورېدلو او د محلي حکومت د تنفس د ظرفیت نه شتون، چې معلوماتو ته د نه لاسرسي او د تجزیې او تحلیل د ظرفیت نه شتون، چې د کلیو د اوسېدونکو په منځ کې د بې عدالتۍ او محرومیت حس راپیدا کوي، چې د نا امنۍ او یاغیتوب سبب کېږي. د کلیوالي – ښاري نفوس تغیر، د کلیوالي – ښاري وېش پر وړاندې بې معنا ښکاري، چې پر دولت باندې د خلکو باور او اعتماد له منځه وړي.

**د هدف پوښتنه او د ظرفیت د لوړولو انګېرنه:** د حکومت کړنو ته په کتو او د سازمانونو یا ادارو او افرادو د ظرفیت په نه لرلو سره د افغان حکومت جوړښت د کار وړ نه ښکاري، خو دا ناسم یا نا درست دی. دوی د نخبه وو ګټې ساتي، هغه څوک چې دعوه کوي، چې اصلاحات به عملي کوي، خو په واقعیت کې دوی نه شي کولای.[233] دا په "خپلواکو" موسسو کې ډېر غوربدلی دی، چې دوی یې د "غیر مسول" رهبر [234]په واسطه درک کوي. که څه هم چې دا په انتخابي ارګانونو کې شایع ده، د بېلګې په توګه پارلمان نه یوازې داچې د قانون جوړونې په پروسه کې ناکام شوی دی، بلکې د پارلماني دندې اړوند کارونه هم په ډېره ټیټه کچه ترسره کوي.

---

۲۲۴ "له دې سره سره، چې دوه کلونه ښې سرچینې او امکانات موجود و، خو د افغانستان د ملي حکومت له خوا د سیمه ییزې حکومتولۍ کړنلارې ته په جدي توګه پاملرنه نه کېده". د محلي ارګانونو د خپلواکې ادارې د پالیسۍ پخوانی معین او په کاناډا کې پخوانی افغان سفیر برنا کریمي سره مرکه، ۷ جنوري، ۲۰۱۴.

۲۲۵ د ملکي خدمتونو او مالي چارو له یو چارواکي سره چې نوم یې مشخص شوی نه دی، مرکه.

۲۲۶ له ډاکټر بتیجا سره مرکه.

۲۲۷ ورکورین او کامپویس، ۲۰۱۳ز.

۲۲۸ د ملکي خدمتونو او مالي چارو له نامعلوم چارواکي سره مرکه.

۲۲۹ له قاري زاده سره مرکه.

۲۳۰ له لېوال سره مرکه.

۲۳۱ له قاري زاده سره مرکه.

۲۳۲ له لېوال سره مرکه.

۲۳۳ د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسیون باید ټولې ټاکنې او مقررۍ د وړتیا له مخې ترسره کړي، په داسې حال کې، چې په واقعیت کې دغه څه ډېر لږ تر سترګو کېږي. له ډاکټر صبغت الله سره مرکه.

۲۳۴ هماغه ځای.

په سیستم کې د اداري فساد لوړېدل[۲۳۵] او د فساد په ترسره کولو کې د لوړ رتبه پرېکړه کوونکو چارواکو شاملېدل[۲۳۶]، دغه نظریه تاییدوي . دلته دولتي ارګانونه څرګندوي، چې قدیمي یا زاړه، د ګټې پر بنسټ ولاړ کړه وړه یا سلوک او مالي زېرمې، ظرفیت سازۍ ته ځانګړې شوي، چې نوموړې طرحه یا نمونه تقویه کوي . په دغسې یو حالت کې که څه هم چې د ظرفیت جوړولو موضوع د ډوپلیکیشن یا دوه ګوني یا کاپي په مخنیوي سره، د ګډون کوونکو د تخنیکي ظرفیت ثبات تنظمیوي، د دندې د ټرینینګونو د میکانیزم مطابق ټرینینګونه جوړوي، چې د تشویق په ګډون په ټرینینګونو کې هره ورځ یو څه اندازه پیسې هم ورکوي،[۲۳۷] چې شاید ښه نتیجه یا پایله ورنه کړي .

**ناامني:** حکومت له امنیت او د خدماتو له وړاندې کولو سره تړلی دی . د دولت لپاره لازمه ده، چې عامه خدمات وړاندې کړي، ترڅو دولت مؤثر او اغېزمن تمام شي او د تصمیم نیولو میکانیزم باید ، چې له خلکو سره ډېر نږدې ترسره شي . امنیت یو لازم شرط دی د محلي ارګانونو خپلواکه اداره هڅه کوي، چې د ولسوالیو د پرمختګ د پلان DDP له مخې د ولسوالیو په کچه د دولت شتون ته پیاوړتیا ورکړي، چې یو شمېر سیمو ته د نه لاسرسي او بندیزونو له کبله، نه شي کېدای دغه پړاو د کامیابۍ سرحد ته ورسېږي .[۲۳۸] عدلي سکټور هم له **۴۵** وظیفوي دفترونو سره مل د ولسوالیو په کچه په زیاته اندازه له دغې ستونزې سره مخ دي .[۲۳۹]

**بې کفایته ښاري حکومت:** د هېوادونو له پیاوړي خصوصي سکټور پرخلاف، په افغانستان کې په ښاري حکومت کې پرمختګ د عامه سکټور په ظرفیت پورې اړه لري، چې ښاري ژوند یا په ښار کې اوسېدل تنظیم کړي، چې ناکامه قانون او ناکامه پلان جوړونه د دغه کار د مخنیوي سبب ګرځي. ښاروالۍ په IDLG کې د ښاري چارو د عمومي ریاست له لوري کنټرولېږي، پرته د کابل له ښاروالۍ څخه، چې مستقیماً ولسمشر ته راپور ورکوي او MoUD داسې ګمان کېږي،[۲۴۰] چې د ښاري حکومت د پرمختګ پر لور ګډ کار کوي . GDMA په MoUD پورې تړاو لري، چې د ښاري پلانونو په اړه معلومات ورکړي او د ماسټر پلان او ستراتیژیک پلان پرمختګ تعقیب کړي. د ښاروالۍ قانون د څه باندې دوو کلونو راهیسې له کابینې سره ناتمامه پاتې دی. د اساسي قانون له مخې ښاروال او د ښاروالۍ شورا ګانې دې انتخابي شي، چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون تر دې دمه نه دی توانېدلی، نو د شاروالۍ ناتمامه یا معلق قانون د دې سبب کېږي، چې د ښار پولې نا مشخصې پاتې شي، د ښار نفوس هم نامعلوم وي او همدا راز د ملي هویت کارت د سیستم نشتوالی هم د دغه کار یو لامل دی. اوسمهال ښاروالان لکه د سیاسي څېرو په څېر د خلکو پر وړاندې غیرمسول دي یا خلکو ته حساب نه ورکوي او د ښاروالۍ د شوراګانو تاسیس ته کومه پاملرنه هم نه کوي.[۲۴۱] د شاروالیو بې ساري ظرفیت ته په پام سره، چې ګټې خوندي کړي، د شاروالۍ د قانون ناکامي، د یو میکانیزم نشتوالی، چې د ښاروال او د شاروالۍ د ټاکنو له لارې حساب ورکړي او عامه نظارت بنسټیز کړي، په حقیقت کې د ښاري حکومت په سکټور کې اداري فساد ته په لوړه کچه زمینه برابروي .[۲۴۲]

---

۲۳۵ د سترې محکمې د عالي شورا له ۹ غړو نه، ۷ تنه یې بډې اخیستونکي دي، ستره محکمې د یوناما هغه راپور رد کړ، چې پکې د سترې محکمې فاسد او رشوت اخیستونکي چارواکي افشاء شوي وو، د سترې محکمې د رییس کاري موده دوه کاله مخکې پای ته رسېدلې، خو دی لا هم خپلو چارو ته دوام ورکوي، البته دا د ولسمشر په خوښه ده. د عدلي څانګې له یو نامعلوم چارواکي سره مرکه.

۲۳۶ "ان د ولسمشر دویم مرستیال د کابینې په غونډه کې د جنګسالارانو په اړه شکایت کړی و "، د ښاري او ملکي خدمتونو د څانګې له یو نامعلوم چارواکي سره مرکه.

۲۳۷ له شاه جهان شایق سره مرکه، د شاه جهان د حقوقي شرکت مدیر او مدافع وکیل. ۷ جنوري ۲۰۱۴ز.

۲۳۸ له کریمي سره مرکه.

۲۳۹ له جامي سره مرکه.

۲۴۰ د ملکي خدمتونو او ښاري حکومتولۍ له نامعلوم چارواکي سره مرکه.

۲۴۱ GDMA په ټولو ښاروالیو کې د ښاروالیو د مشورتي بورډ د رامنځته کېدو په برخه کې کار کوي، له پوپل سره مرکه.

۲۴۲ له پوپل سره مرکه.

## ۸.۲ وړاندیزونه

دغه څېړنه د دې تقاضا کوي، چې یو شمېر وړاندیزونه او د حل لارې باید وړاندې شي. وړاندې له دې چې د افغان سیستم پېچلتیا او د ستونزو اساس ته وګرځو، چې دا ټولنه ورسره مخ ده، باید چې د ضعیف حکومت فني او تطبیقي مرکبې ستونزې وپېژندل شي. پورتنۍ یو شمېر مشخصې ننګونې دي، چې دغه سکټور ورسره مخ دي او ډېرې تر دې دمه پټې پاتې دي. همدا راز لاندې وړاندې شوې لارې چارې کېدای شي، چې له نورو ډېرو کشفیاتو سره مرستندویه لارې وي، نو له ستونزو څخه د وتلو لپاره باید چې د وتلو یوه لاره پیدا کړي.

ویل تر عمل آسانه دي، تر دې دمه یو قوي وړاندیز چې ښایي ومنل شي، **هغه له ۲۰۱۴ زکال وروسته د نړیوالو نظامي ځواکونو وتل او د مرستندویه مرستو د راکمېدلو ظالمې یا جابرې پایلې دي او داسې فکر کېږي، چې دا د افغانانو لپاره یو ښه چانس دی، چې خپل داخلي مشروعیت لوړ کړي** [243]. دا په ځانګړي توګه سمه ده، چې په افغانستان کې د حکومت د پرمختګ هدف له تخنیکي اړخه رامېنځته شوی او اوس په دې هڅه کې دي، چې څرنګه د ځان (افغانستان) پر وړاندې لوی خنډونه لرې کړي: د غارت ګرو له لوري اداري فساد او سیاسي کنټرول د تطابقي یا توافقي ستونزې یو کلاسیک مثال دی او داسې یو سیستم ته اړتیا ده، چې د نوي ظرفیت په پیدا کولو سره دا مشخص کړي، چې د فساد د مخنیوي پر وړاندې کوم ډول اصلاحات ګټور دي، چې وکولای شي د فساد د مخنیوي سبب وګرځي، نو په یو شي کې دننه وده کول، په حقیقت کې یو نوی شی رامنځته کوي. په دې برخه کې نړیواله ټولنه کولای شي ښه رول ترسره کړي، چې هغه د یو ژور بدلون لپاره د افغان ظرفیت لوړول دي، چې دغه پروسه د یوې حل لارې پواسطه چې هغه د ټولنیزو او سیاسي عادتونو له یاده ایستل دي، راځي. د دغې ټولنې فکري انتقال د تیري کوونکو کړنو د هېرولو پر لور په صلاحیت لرونکي یا قدرت پورې اړه لري، چې یو له ګټورو او پایدارو لارو څخه ده، چې له افغانستان سره باید په کار واچول شي.

**د ستونزو د تحلیل دید یا لینز:** په افغانستان کې پرمختګ باید چې په سیستماتیک شکل تر سره شي، د درېیو عمده ننګونو یا چیلنجونو ترمنځ توپیر، چې هېواد ورسره مخ دی: فني یا تخنیکي ننګونې چېرته چې ستونزه یا پرابلم او حل لاره دواړه مشخص او سیستم له ظرفیت سره مجهز وي. دسمون وړ یا تطابقي ننګونې، چېرته چې ستونزه یا پرابلم تعریف شوی یا مشخص شوی وي، خو د حل لاره نه وي یا دا چې دواړه تعریف شوي نه وي او سیستم دې ته اړتیا لري، چې په بشپړه توګه یې تبدیل کړي او په سمه توګه ظرفیت لاسته راوړي، چې ننګونه او د دواړو ترکیب مشخص کړي. ډېری ننګونې یا چیلنجونه په ماهیت کې تطابقي دي او یا د دواړو ګډون ډېر اوچت دی، د ضرورتونو په نښه کول، چې د افغانستان د پرمختګ پر لوري اوږدمهاله کړنلاره خپل کړي، یا ومني. د مثال په توګه، د **۲۰۱۴** او **۲۰۱۵** زکلونو په جمهوري ریاست، ولایتي شوراګانو او پارلماني ټاکنو پورې د هیلو ترل، په افغانستان کې د واقعي سیاسي قدرت انتقال اهمیت له یوه منتخب جمهور ریس څخه بل ته لوړ اټکلوي، چې دا به یوازې د نا امیدۍ پر طرف بوځي. واقعي بدلون به راشي، خو په لسیزو کې، نه په کلونو کې.

**د افغان د لومړیتوبونو کلتوري شرایطو پېژندنه:** نړیواله ټولنه باید چې افغان حساسیتونه درک کړي او ویې پېژني. [244]د پرمختګ په برخه کې چې کومې مداخلې کېږي، باید چې منفي عکس العملونه راپورته نه کړي، آن یو کوچنی غفلت د ټپي کېدو سبب کېږي، آن د اوړو پر بوجۍ د سره صلیب نښه، چې د عیسویت د یو سمبول په توګه پېژندل کېږي، کولای شي، چې یو کار په ښه توګه منظم او یا یې هم خراب کړي، چې سور صلیب یې ښه ترسره کوي. نن ورځ خلک حساس را لوی شوي دي، حتی د پولیو د واکسین پر وړاندې. [245]افغان لومړیتوبونه، د بېلګې په توګه د قضایي سکټور [246] د اصلاح به برخه کې، چې قضایي زېربنا جوړه کړي، سیستم کمپیوټرایز [247]کړي، او د کورنیو چارو وزارت له څلورو ټولو ارګانونو سره ګډ کار کول، لویه څارنوالي، محکمې او د عدلیې وزارت په عین وخت کې. [248] د افغان لومړیتوبونو هدف پیاوړي کول او د ډیموکراسي عملي کول هدف دی، د بېلګې په توګه، په ډیزاین یا طرح کولو کې، د تعلیم او عامه سیستم په برخه کې تسهیل او پراخوالي، په تدریج سره په ماشومانو کې ډیموکراټیک او بشري حقوقو ارزښتونه پراخوي او دوی د هېواد راتلونکي ته تیاروي یا آماده کوي.

۲۴۳ له ډاکټر بتیجا او استوري سهرکي سره مرکه.

۲۴۴ بورکګروینک، ک. او سورکه، "په افغانستان کې د عدلي څانګې د اصلاح په اړه بحث"، د جرم مجله، قانون او ټولنیز تغییر، **۵۰** ټوک، **۳** ګڼه، ۲۰۰۸ ز.

۲۴۵ له لېوال سره مرکه.

۲۴۶ له رووفي سره مرکه.

۲۴۷ د یو ډیجیټلي قضایي معلوماتو سیسنم (JIS) ته اړتیا موجوده ده، دغه سیستم په ډېرو هېوادونو کې کارول کېږي، له ډاکټر صبغت الله سره مرکه.

۲۴۸ له شاه جهان سره مرکه.

**په ټوله کې د دولت کړنلاره او ظرفیت سازي:** دلته کېدای شي د ظرفیت جوړونې د هڅو د دوام لپاره دوه پوتانسیله وي، چې هدف یې د عامه اداري پرمختګ دی، پرته له دې چې په ټوله کې د دولت په کړنلاره کې هوکړه وشي. له یوه اړخه، د PAR د اجراء لپاره موظف ارګان د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون دی، چې د افغانستان دملکي خدماتو د انستیتوت لرونکی دی، چې هدف یې د سیستم په عمومي اداره یا مدیریت کې د ظرفیت لوړول دي. له بله اړخه، د دولت سازماني جوړښت ټینګار کوي، چې د ظرفیت جوړونې لپاره دې په هر وزارت کې د بشري منابعو د عمومي ریاست تر چوکاټ لاندې یو ځانګړی دفتر تاسیس شي، چې د ظرفیت جوړونې لپاره سهولتونه برابر کړي. په هر صورت، په عمل کې د کار دغه وېش ډېر مشخص نه دی، چې د ظرفیت جوړونې پېچلي سیستم ته لار پرانېزي. ښکاره بنیادي رول به وکولای شي، چې دغې مغشوشتیا یا ګډوډۍ ته د پای ټکی کېږدي. دا هغه مهال کېدای شي، چې ظرفیت جوړونه په بشپړه توګه په AIRCSC's ACSI کې تر تمرکز لاندې راولړل شي، اجازه ورکوي او پیاوړې کوي، چې طرحه یا ډیزاین یې کړي، د ظرفیت جوړونې د خدماتو سهولت برابروي د ګډو هستوي وظایفو لپاره (تدارکات، دولتي مالي مدیریت، د بشري منابعو مدیریت، اداره، د دفتر مدیریت) او همدا راز د ځانګړو فني بخشونو وظیفې هم په ټولو دولتي ارګانونو کې یو شان مشخصوي. په نوبت سره، یو مشخص سور خط باید د ګډو یا مشترکو هسته یي کارونو، چې AIRCSC's ACSI ته سپارل شوي او د توابعو یا وظیفو یا دندو مشخص کول دي، چې د وزارتونو د ظرفیت لوړولو ریاستونو یا دفترونو ته ورکړل شوي. د لومړي انتخاب پر بنسټ، د وزارتونو د ظرفیت لوړولو دفترونه به د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو دطرحې د برابرولو په اړه INPUT ، ACSI ته برابروي، په داسې حال کې چې د دویم انتخاب پر بنسټ، دواړه ACSI او د وزارتونو د ظرفیت لوړولو دفترونه به د خپلو اړوندو پروګرامونو په طرحه کولو، سهولتونو برابرولو او سپارلو کې خپلواک وي. په دواړو انتخابونو کې، د هستې مشترک او همداراز د مسولیتونو یا دندو مشخصولو یو شان محتوا یا ګټه یا رضایت باید وساتل شي او د ACSI او وزارتونو ترمنځ د همغږۍ هڅې باید د اړتیا پر بنسټ دوام ومومي. د دې اړتیا لیدل کېږي، چې اوسنی د ظرفیت لوړولو موازي او رقابتي پروګرمونه، چې د دواړو ACSI او د وزارتونو د ظرفیت لوړولو ریاستونو له لوري په کار اچول کېږي، باید ودرول شي.

**با ظرفیته پانګونه:** هغه ملت چې له سختو ستونزو او تکالیفو تېرولو وروسته ژوندی راوتلی وي او د سرشاره طبیعت لرونکی وي، نه شي کولای چې په اغېزمنه توګه پر خپل دولت باندې حساب وکړي. په دولت کې د خلکو برخه اخیستنه یا سهم د هغوی د همکارۍ پر بنسټ تعریفېږي او ګټه له اقتصادي چرخش څخه ترلاسه کوي. په افغانستان کې به حکومت تر هغې پرمختګ ونه کړي، تر څو چې افغان اقتصاد پیاوړی او زراعت صنعتي نه شي، چې دا مو بیا د اقتصادي خودکفایي پر لور بوځي، چې خلک بیا دې ته لېوالتیا پیدا کوي، چې د هېواد په پرمختګ کې برخه واخلي. د اقتصادي پرمختګ لپاره لازمه ده، چې د زراعت په سکټور کې له بشري او مالي منابعو څخه په ګټې اخیستنې، ځانګړې پانګونه وشي. د بېلګې په توګه، ښه زراعتي پروګرامونه، نه یوازې داچې په زراعتي برخه کې پانګونې ته اړتیا لري، بلکې مارکېټ موندنې، ترانسپورت او د یخچالونو سهولتونو ته هم اړتیا لري. د ښه نیت له مخې په هلمند کې د پانګونې له کبله، له ۵۰،۰۰۰ څخه تر ۲۰،۰۰۰ ټنه پورې هندوانې د ناسم داخلي ظرفیت د جذب له مخې او د یو شمېر ځانګړو میکانیزمونو لکه مارکېټ، د ساتنې یانې یخچال او ترانسپورت د نشتوالي له امله، ضایع شوه. یوه بله ښه بېلګه د پانګونې، هغه د جمهوریت روغتون دی، چې په درندو ماشینونو سمبال شو، چې نوموړي ماشینونه یوازې د قوي برېښنا په واسطه فعالیت کوي، چې تر دې دمه پر کار نه دي اچول شوي. د قضایي سکټور په برخه کې باید چې ګټور اصلاحات رامنځته شي، د بېلګې په توګه د علمي او قضایي تطبیق یا د قضاییه قوې د تطبیق ترمنځ د پیاوړې اړیکې تاسیس، چې دا د قاضي، مدافع وکیل، قضایي/حقوقي مشاور او قضایي مدیر[249] په کړنو یا دندو کې انعکاس کوي یا راڅرګندېږي. د همکارۍ په موخه، د PAR د اجراء یا تطبیق له لارې د عمومي مدیریت سیستم پرمختګ دی، د بېلګې په توګه د PAR پر ایجنسۍ باندې د – AIRCSC – تمرکز، د عمومي مدیریت د سیستم له مخې دی، چې په ټوله کې، د دولت پر کړنلاره باندې ولاړ دی.

**د فساد پر وړاندې د مبارزې اوږدمهاله کړنلاره – د سازماني ټولنو پرمختګ:** سیاسي ملاتړ کېدای شي، چې د یوې مودې لپاره پر خپل حال پاتې شي. مهم فني ملاقاتونه کېدای شي په لوړه کچه پاتې شي، نو ځکه په خطرناکه توګه د سیاسي پرېکړو له نفوذ څخه متاثره دي. فساد په ځانګړي توګه په عامه سکټور کې کېدای شي، چې لوړ شي او یا کېدای شي، چې پر خپل حال لکه د نن ورځې په څېر پاتې شي. دغه حالت او د منتخبو استازو ترمنځ د ظرفیت لوړوالي او د فساد پر ضد هڅو پیاوړې کولو ته په پام سره، د ظرفیت لوړولو فردي ابتکار یا پیلېدای شي یا ځایناستی پیدا کوي، د بېلګې په توګه کېدای شي، چې د دولت د چوکاټ دننه او یا دباندې، یو شمېر مسلکي او پر ارزښتونو ولاړې اتحادیې رامنځته شي، چې د دغو صف بندیو دننه او یا د اتحادیو د غړو پر اساس به کار کوي، ترڅو فساد له منځه یوسي. قوي سیاسي او ټولنیز سازماني دیسیپلین یا نظم یوازینۍ ګټوره وسیله ده، چې د بنیادي ظرفیت په لوړولو او د فساد د کړنو د هدف په نیولو کې مرسته وکړي. هېڅوک فاسد یا مفسد نه دی پیدا شوی. فساد د یوې نمونې

[249] له حمیدي سره مرکه.

په توګه ټولنیزه زده کړه ده او هر څه چې په ټولنیزه توګه او یا د وخت په تېرېدو سره د عادت په توګه ومنل شي، کېدای شي، چې په تدریجي ډول هم له یاده وایستل شي. خپلواکې سیاسي پارټۍ له یوه ډله منتخبو رسمي چارواکو سره همکاري کوي، د بېلګې په توګه د پارلمان او ولایتي شوراګانو غړي – د ملکي خدماتو حرفه یي یا مسلکي اتحادیې یا د خصوصي سکټور کارکوونکي او ټولنیز سازمانونه کولای شي، چې داخلي کنټرول او د خارجي نظارت مسلکي وګړي وړاندې کړي، نو ځکه عامه ظرفیت لوړوي، چې پر اجراییه قوه نظارت وکړي، د حساب ورکولو لړۍ پیاوړي کړي او په پای کې د فساد ضد هڅو سره مرسته وکړي.[250]

**لنډمهال د فساد ضد کړنلاره – د قانون د تطبیق پیاوړي کول:** فساد کېدای شي لکه د تېر په څېر نن ورځ هم پر خپل حال پاتې شي، ځکه چې د قانون کمزوري تطبیق یا نشتوالی په سیستم کې د ناوړه ګټو اخیستو لپاره ښه زمینه برابروي. حقیقت دا دی، چې فاسد افغان رسمي چارواکی باید محکمې ته راکش شي او قانون پرې تطبیق شي. د قانون تطبیق په دې معنا، چې فاسدې کړنې کنټرول او مخه یې ونیول شي. د افغان دولت د رهبرۍ په ګډون د سیاسي کړیو، لازم شرط په اغېزمنه توګه د قانون تطبیق دی، هغه حاصل چې موږ یې د څو لسیزو راپدېخوا انتظار درلود، هغه په رهبرۍ کې تولیدي بدلون او مثبت تدریجي تکامل دی او په قدرت کې د خلکو د توقعاتو نقش یا رول دی. په دې مرحله کې، فساد د سیاسي سیستم د تار له لارې مخکې ځي، چې دولتي موسسې یو له بل سره تړي. د قانون تطبیق باید چې په راتلونکې کې په ملي او محلي کچه د دولتي موسسو یا ارګانونو ترمنځ د اساسي پیوند شکل یا څېره غوره کړي.

**د کلي او ښار ترمنځ د راپیدا شوې تشې ډکول:** د مرکزي دولتي ارګانونو پیاوړي کول مهم دي، خو نه د هغه قیمت په مقابل کې چې داخلي ټولنې هېرې یا له یاده وایستل شي.[251] له ټولنو او غیر دولتي موسسو سره مشغولتیا مهم او اهمیت لري. د رسمي او غیر رسمي دولتي میکانیزمونو ترمنځ د همکارۍ رامنځته کول، د اصلاحاتو په رامنځته کولو کې د عنعنوي مشرانو لکه ملایانو[252] پر نقش یا رول باندې پوهېدل، پرځان خلک راټولول،[253] د دې پر ځای چې د نورو پر عقلونو تکیه وکړو او یا دې ته منتظر اوسو، چې نړیواله ټولنه اصلاحات رامنځته کړي، خپله باید چې د بدلون د پروسې پر لور حرکت وکړو، یانې خپله باید چې اصلاحات رامنځته کړو. باید مالي زېرمې د کلیو پر لور[254]هدایت شي، ترڅو هلته د کار زمینه رامنځته شي، نو پر دې اساس په کلیو کې د امنیت لوړول یا زیاتوالی او په اغېزمنه توګه د اړیکو برقرارول، هغه لارې چارې دي، چې د کلي او ښار ترمنځ رامنځته شوې تشه له منځه وړي او د دغې تشې ترمنځ پل جوړوي. علاوه پر دې، د دې لپاره هغه هدف ترلاسه کړو، چې هغه د پرمختللي حکومت لرل دي، نو اقتصادي پرمختللي پروګرامونه باید چې د دوو اقداماتو په ترڅ کې په همهاله توګه پیل شي: د شته یا موجودو زېرمو تنظیمول او د نوو منابعو رامنځته کول.[255] د کانالونو جوړول کولای شي، چې په سلګونو هکتاره ځمکه د کښت لپاره برابره کړي، چې دا په حقیقت کې د یوې نوې منبع رامنځته کول دي. د کانال جوړولو یوه ښه بېلګه، هغه د جاپان په مالي مرسته په کونړ ولایت کې د کانال جوړولو پروژه ده. **۲۵** کیلومتره د اوبو کانال، چې ۳۲،۰۰۰ هکتاره ځمکه او ۲۳،۰۰۰ زره ونې د کانال په دواړوو لورو کې خړوبوي. مالي منابع باید چې کلیو او قریو ته هم رهبري شي، چې وکولای شي نوې منابع پیداکړي، چې دغه کړنه کولای شي د کلي اقتصادي وضعیت لوړ کړي، په داخل کې کار پیدا کړي، له مضره ښاري تورم څخه مخنیوی وکړي، دا چاره مرسته کوي چې قریې یا کلي له ښارونو سره ونښلوي او داسې حکومت رامنځته شي، چې د خلکو د ګډون پر اساس ولاړ وي، چې د دې ټولو ترڅنګ اصلاحات هم تطبیق کړي.

**خلک د زیان پر وړاندې مقاومت کوي، نه د اصلاح پر وړاندې:** په موجوده وضعیت کې، تغییر اختلال یا خلل رامنځته کوي، نو په نتیجه کې اصلاح غوښتونکي په اغلب ګومان د تغییر پر وړاندې د خلکو له بې میلۍ څخه خبرې کوي. دا سمه نه ده. د میلیون ډالرو د لاټرۍ یا ټکټ ګټل، د ګټونکي په ژوند کې یو ژور بدلون رامنځته کوي. خلک د خپل ځان په خاطر د اصلاح یا ریفورم مخنیوی نه کوي، دوی د دې لپاره مخنیوی کوي چې دوی وېره لري، چې کېدای شي دوی په دې پروسه کې یو څه له لاسه ورکړي. پېژندنه او تصدیق، له اصلاحاتو سره د ارتباط یا اړیکې له لاسه ورکول او د یو قوي محیط رامنځته کول، چې په هغې کې خلک کولای شي چې له لاسه ورکولو سره باید لاس او پنجه نرم کړي[256] او پر دې باید پوه شي، چې د اصلاح د هرې پروسې لپاره دا یو لازمي شرط دی. له بودیجې دباندې یا له بودیجې څخه خارج، په مستقیمه توګه دولتي موسسو او داخلي جنګسالارانو ته د پیسو ورکړه، له یوه

---

۲۵۰ له منصور سره مرکه.

۲۵۱ بوئګه، براون او کلمنتس، ۲۰۰۹ز.

۲۵۲ د اوبو د پمپونو په ساتنه او بیا جوړونه کې کې ملایان په کلیو کې ډېر کلیدي رول ادا کولی شي، له لېوال سره مرکه.

۲۵۳ له لېوال سره مرکه.

۲۵۴ له ډاکټر بتیجا سره مرکه.

۲۵۵ له لېوال سره مرکه.

۲۵۶ دغه تحلیل تطبیقي او پرتلیز رهبرۍد چوکاټ په بنسټ وړاندې شوی،د زیاتو معلوماتو لپاره د هفتیزرونالډ، *له اسان ځواب پرته رهبری* ,ته مراجعه وکړئ، کمبریج: هاروارډ پوهنتون چاپ ۱۹۹۴.

لوري ناامني او فساد زياتوي او د كليوالو او ښاري سيمو ترمنځ واټن نور هم پراخوي او له بله لوري د ملكي خدماتو د سيستم دننه دا د ريفورم يا اصلاحاتو د تېرو لسيزو څخه راپه دېخوا مهم مخونه دي، چې نه يوازې داچې نمايندګي نه كوي يا نه يوازې داچې نه يې څرګندوي، بلكې په واقعيت كې د اساسي حقوقو او ګټو د حقيقي زيان سبب هم شوى او پر يوه اوږده لاره باندې د تعريف يا مشخصولو پر لور ځي، چې ولې خلك مشكوك پاتې كېږي، د بېلګې په توګه ريفورم يا اصلاح او پرمختګ په څه معنا دي. د لاسرسي او ظرفيت لوړوالى، چې د مسؤلو رسنيو له لارې معلومات تجزيه او تحليل كړي، د واقعي مدني ټولنې مسوول او منتخب استازي كولاى شي، چې په اصلاحاتو پورې د تړلو زيانونو په دقيقه پېژندنه كې مرسته وكړي.

**د مدني ټولنې ظرفيت ته وده وركړئ:** د افغانستان د اساسي قانون د ۱۲۸ مې مادې پر بنسټ، د افغانستان په محكمو كې محاكمه په علني ډول دايرېږي او هر څوك حق لري د قانون له حكمونو سره سم په هغې كې ګډون وكړي، قضايي جريان له نږدې نظارت كړي او يا د هغوى منتخب او يا هم د هغوى ګومارل شوي استازي كولاى شي قضايي جريان له نژدې نظارت كړي، لكه د مدني ټولنې سازمانونه او رسنۍ. په هر صورت، څرنګه چې دلته دا دود نشته، چې د محكمې جريان دې د مدني ټولنو د سازمانونو يا رسنيو له لوري نظارت شي، نو د محكمې جريانونه د قاضي په مقام كې ترسره كېږي. د نتيجې په توګه قضاييه قوه نه نظارت كېږي، نو ځكه د خپلو پروسيجرونو په ښه كولو يا اصلاح كولو باندې كار نه كوي او مدني ټولنې او رسنۍ نه شي كولاى، چې قضايي راپور واخلي.[۲۵۷] نه داچې يوازې عامه سكټور د پرمختللې اصلاح په برخه كې په بشپړه توګه ناكام دى، بلكې مدني ټولنه دې ته اړتيا لري، چې په افغانستان كې د حقيقي بدلون ترشا د يو قوي محرك په حيث وي، لكه چې خلك په خپل منځ كې سره ملګري او له دولت سره همكار وي، د رهبرانو نوى نسل توليد كړي، چې پر هغوى باندې پراخه پانګونه شوې وي او د نړيوالې ټولنې له لوري يې ملاتړ وشي. لكه څرنګه چې خلك په خپل منځ كې سره ملګري وي، نو مدني ټولنه بايد چې د خلكو ترمنځ د خدماتو د وړاندې كولو او د واك د پروسې ترمنځ پر اړيكه باندې خلك پوه كړي – د بېلګې په توګه د رايې له لارې كولاى شي، چې خپل د خوښې چارواكي انتخاب كړي او همدا راز كولاى شي، چې د خلكو غوښتنو ته په يوه ګټوره لاره كې شكل وركړي. لكه څرنګه چې د دولت د يو همكار په حيث دى، نو رول يا نقش يې دا دى، چې د خدماتو پر وړاندې كولو او په عامه سكټور كې عامو وګړو ته د عامه معلوماتو پر لاسرسي باندې نظارت وكړي، نو پر دې اساس حساب وركول يا ځواب ويل پياوړي كوي. دلته اړتيا ده، په هر صورت، د دوه ګوني رول په اړه په مدني ټولنه كې د پوهاوى دخپرولو په برخه كې مرسته وشي او د دې ظرفيت رامنځته شي، چې د ثابت بنياد پر بنسټ باندې د دواړو د صلاحيتونو ترمنځ توپير وشي.

---

**۲۵۷** له حميدي سره مركه.

# ماخذ


AREU, "Afghanistan Looking Ahead: Challenges for Governance and Community Welfare." Research Brief for the 2011 Bonn Conference, AREU, Dec 2011, http://areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/1130E-Afghanistan%20Looking%20Ahead%20PN%202011.pdf.

Beath, Andrew, Christia, Fotini, Enikolopov, Ruben, "Do Elected Councils Improve Governance." Sep 2013, http://papers.ssrn.com/sol3/papers.cfm?abstract_id=2202563.

Biljert, Martine van, "Fear, Hope and Determination: Afghanistan and the 2014 Syndrome." Jan 10 2014, http://www.afghanistan-analysts.org/fear-hope-and-determination-afghanistan-and-the-2014-syndrome.

Boege, Volker, Brown, Anne and Clements, Kevin, "Hybrid Political Orders not Fragile States." Peace Review, A Journal of Social Justice, 2009, http://www.tandfonline.com/doi/abs/10.1080/10402650802689997#preview.

Boesen, I.W. "From Subjects to Citizens: Local Participation in the National Solidarity Programme." AREU Working Paper Series, 2004, http://www.areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/428E-From%20Subjects%20to%20Citizens-WP-print.pdf.

Brick, Jennifer, "The Political Economy of Customary Village Organizations in Rural Afghanistan.", Central Eurasian Studies Society, Georgetown University, Washington, DC, September 2008, http://www.bu.edu/aias/brick.pdf.

Byrd, William A, Milante, Gary and Anye,Kenneth, "A New Approach to Understanding Afghanistan's Transition: Comparisons with International Post Conflict Experience." USIP, 2013, http://www.usip.org/sites/default/files/PW87_A-New-Approach-to-Understanding-Afthanistan's-Transition-Comparisons-with-International-Postconflict-Experience.pdf.

Central Statistics Office and UNICEF, "Afghanistan Multiple Indicator Cluster Survey 2010-2011." June 2012 http://cso.gov.af/Content/files/AMICS-Jun24-2012-FINAL.pdf.

Cookman, Colin and Wadhams, Caroline, "Governance in Afghanistan: Looking Ahead to What We Leave Behind." Center for American Progress, May 2010, http://www.americanprogress.org/issues/2010/05/pdf/afghangovernance.pdf.

DFID, "Operational Plan 2011-2015." June 2012, https://www.gov.uk/government/uploads/system/uploads/attachment_data/file/67417/afghanistan-2011.pdf.

Equality for Peace and Democracy & Afghan Coalition for Transparency and Accountability, "Independent Review of Afghanistan 1393 National Budget." December 2013.

Foschini, Fabrizio, "A Lost Opportunity? Hindus and Sikhs do not get a reserved seat in parliament." Afghanistan Analysts Network, Dec 16, 2013, http://www.afghanistan-analysts.org/a-lost-occasion-hindus-and-sikhs-do-not-get-a-reserved-seat-in-parliament.

Government of Afghanistan, "Afghanistan National Development Strategy." 2008, http://www.undp.org.af/publications/KeyDocuments/ANDS_Full_Eng.pdf.

Government of Afghanistan, National Priority Plans, Governance Cluster, http://www.thekabulprocess.gov.af/index.php/clusters--npps/archive/governance-cluster.

Government of Afghanistan, National Technical Assistance Remuneration Policy, http://www.budgetmof.gov.af/images/stories/DGB/Reports_publication/NTA%20Remuneration%20Guidelines.pdf.

Government of Afghanistan, "Sub National Governance Policy." 2010, http://www.idlg.gov.af/eng/Resources/policy/Afghanistan-Local-Governance-Policy.

Government of Afghanistan, "Towards Self-Reliance – Strategic Vision for the Transformation Decade."2012,http://mof.gov.af/Content/Media/Documents/Towards-Self-Reliance-27-6-2012167201210282583553325325.pdf.

Heifetz, Ronald, "Leadership Without Easy Answers." Cambridge: Belknap/Harvard University Press, 1994.

Hewad, Gran, Bijlert, Martine van and Ruttig, Thomas, "A Hasty Process: New IEC Announced." Afghanistan Analysts Network, 30 July, 2013, http://www.afghanistan-analysts.org/a-process-fast-and-patchy-new-independent-elections-commission-announced.

Heyns, Christof, United Nations General Assembly Report of the Special Rapporteur on extrajudicial, summary or arbitrary executions, A/HRC/17/28/Add.6, 23 May 2011

http://www2.ohchr.org/english/bodies/hrcouncil/docs/17session/A-HRC-17-28.pdf.

IDLG, "Annual Report." 1392, http://www.idlg.gov.af/eng/images/stories/AnnualReports/idlg_annual_report_2013_eng_version.pdf.

Integrity Watch Afghanistan, "National Corruption Survey." 2012, http://ncs.iwaweb.org

International Crisis Group, "Afghanistan's Parties in Transition." ICG Policy Brief, 26 June 2013,http://www.crisisgroup.org/~/media/Files/asia/south-asia/afghanistan/b141-afghanistans-parties-in-transition.pdf.

Kenneth Katzman, "Afghanistan: Politics, Election and Government Performance." CRS, 22 Nov 2013, https://www.fas.org/sgp/crs/row/RS21922.pdf.

Kuntzsch, Felix, "Afghanistan's Rocky Road to Modernity: Non-State Actors and Socio-Political Entities in the Process of Stateand Nation-Building." July 2008, http://www.psi.ulaval.ca/fileadmin/psi/documents/Documents/Travaux_et_recherches/Afghanistan_s_Rocky_Road_to_Modernity.pdf.

Lamb, Robert, and Shawn, Brooke, "Political Governance and Strategy in Afghanistan." Center for Strategic and International Studies, April 2012, http://csis.org/files/publication/120426_Lamb_PolGovernanceAfgha_Web.pdf

Mashal, Mujib, "How Afghanistan is Beginning to Deal with Workplace Sexual Harassment." 29 March 2013, http://world.time.com/2013/03/29/how-afghanistan-is-beginning-to-deal-with-workplace-sexual-harassment/.

Mashal, Mujib, "Missed Opportunity in Afghanistan: We Forgot to Pay the Preachers." TIME, http://world.time.com/2013/02/27/missed-opportunity-in-afghanistan-we-forgot-to-pay-the-preachers/#ixzz2qRKTYGe5.

Mashal, Mujib, "What Iran and Pakistan want from the Afghans: Water." Time, Dec 2 2012, http://world.time.com/2012/12/02/what-iran-and-pakistan-want-from-the-afghans-water/.

NDI, "Political Parties in Afghanistan: A Review of the State of Political Parties." June 2011, http://www.ndi.org/files/Afghanistan-political-parties-july-2011.pdf.

Norwegian Development Cooperation, "Evaluation of Norwegian Development Cooperation with Afghanistan 2001-2011." Norad Evaluation Department, March 2012, http://www.oecd.org/countries/afghanistan/50586740.pdf.

OECD, "From Fragility to Resilience: Concepts and Dilemmas of State building in Fragile States." 2007, http://www.oecd.org/development/incaf/41100930.pdf.

OHCHR, "Human Rights dimensions of Poverty in Afghanistan", March 2010, http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/Poverty%20Report%2030%20March%202010_English.pdf.

Parkinson, Sarah, "Means to What End: Policy Making and State Building in Afghanistan." AREU, November 2010, http://www.refworld.org/pdfid/4cf776912.pdf.

Rosenberg, Matthew, "With New Law Afghanistan Moves Closer to Elections." New York Times, 16 July 2013, http://www.nytimes.com/2013/07/18/world/asia/with-new-law-afghanistan-moves-closer-to-an-election.html.

Saltmarshe, Douglas and Medhi, Abhilash, "Local Governance in Afghanistan: A view from the Ground." AREU, June 2011, http://www.areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/1114E%20Local%20Governance%20in%20Afghanistan%20SP%202011.pdf.

Shahrani, Nazif, "Afghanistan's Alternatives for Peace, Governance and Development." The Center for International Governance Innovation, Aug 2009, https://www.cigionline.org/sites/default/files/Afghanistan%20Paper%202.pdf.

Shinwari, Sadaf, "Concerns over Anti-Government Propaganda in Afghan Mosques." Khaama Press, April 28, 2012, https://www.khaama.com/concerns-over-anti-government-propaganda-in-afghan-mosques-820.

SIGAR, Direct Assistance: "USAID Has Taken Positive Action to Assess Afghan Ministries' Ability to Manage Donor Funds, but Concerns Remain." January 2014 http://www.sigar.mil/pdf/Audits/SIGAR-14-32-AR.pdf.

Sparrow, Phil, "In it for the Long Haul: Delivering Australian Aid to Afghanistan." July 2010,http://www.

acfid.asn.au/resources-publications/publications/acfid-research-in-development-series/in-it-for-the-long-haul-delivering-aid-to-afghanistan.

Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction (SIGAR), "Quarterly Report to the US Congress." 30 July 2013, http://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2013-07-30qr.pdf.

Stone, C. et al. "Supporting Security, Justice and Development: Lessons for a New Era." Vera Institute of Justice, New York, 2005, http://www.gsdrc.org/docs/open/CON24.pdf.

Suhrke, Astri, Borchgrevink, Kaja, "Negotiating justice sector reform in Afghanistan." Crime, Law and Social Change, March 2009, Volume 51, Issue 2, 211-230 http://www.cmi.no/publications/publication/?3141=negotiating-justice-sector-reform-in-afghanistan.

Suhrke, Astri, "State-building in Afghanistan: A Contradictory Engagement." Central Asian Survey, 32:3, 271-286, http://dx.doi.org/10.1080/02634937.2013.834715.

Swiss Development Cooperation, "Swiss Cooperation Strategy 2012-2014." http://www.swiss-cooperation.admin.ch/afghanistan/.

UNAMA and OHCHR, "A Long Way to Go: Implementation of EVAW Law in Afghanistan." November 2011, http://www.ohchr.org/Documents/Countries/AF/UNAMA_Nov2011.pdf.

UNAMA and OHCHR, "Harmful traditional practices and implementation of the law on elimination of violence against women in Afghanistan." Kabul, 9 December 2010, http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Publication/HTP%20REPORT_ENG.pdf.

UNDP, "National Joint Youth Programme Annual Report." 2008 http://www.undp.org.af/whoweare/undpinafghanistan/Projects/dcse/prj_youth.htm.

UNODC, "Corruption in Afghanistan, Recent Patterns and Trends." Summary Findings, 2013, http://www.unodc.org/documents/frontpage/Corruption_in_Afghanistan_FINAL.pdf.

UN Secretary General, "The situation in Afghanistan and its Implication for International Peace and Security." 13 September 2013, http://www.un.org/apps/news/docs.asp?Topic=Afghanistan&Type=Report.

Verkoren, Willemijn and Kamphuis, Bertine, "State Building in a Rentier State: How Development Policies Fail to Promote Democracy in Afghanistan." International Institute of Social Studies, 2013, http://onlinelibrary.wiley.com/doi/10.1111/dech.12029/abstract.

Wardak, Ali, "Rule of Law in Afghanistan: An Overview." in Petersberg papers on Afghanistan and the region (Wolfgang Danspeckgruber ed.) 2009, http://dataspace.princeton.edu/jspui/bitstream/88435/dsp01xd07gs71q/1/afgh2009_lcm4.pdf.

Wilder, A. "Cops or Robbers? The Struggle to Reform the Afghan National Police." Issues Paper Series, AREU, 2007, http://www.areu.org.af/index.php?option=com_docman&Itemid=&task=doc_download&gid=52.

Wordsworth, Anna, "Moving to the Mainstream: Integrating Gender in Afghan National Policy." AREU, Feb 2008, http://www.areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/803E-Moving%20to%20Mainstream-WP-print.pdf.pdf.

World, Bank, "Building an Effective State: Priorities for PAR." 2008,http://siteresources.worldbank.org/AFGHANISTANEXTN/ Resources/ 305984 1213128265371/ 5090855-1213128292963/ AFstatebuilding.pdf.

World Bank, "Doing Business: Reforming through Difficult Times." 2010, http://www.doingbusiness.org/~/media/GIAWB/Doing%20Business/Documents/Annual-Reports/English/DB10-FullReport.pdf.

# دځرګندونولپارهستاسيغوښتنې

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ډېره علاقه لري چې ستاسو څخه اوري. په هر صورت که تاسی د دی واحد خپرونو لوستونکی یاست، یا مو د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد کې په لکچر یا ورکشاپکې ګډون کړی وی، یا مو له کتابونو څخه استفاده کړی وی، یا مو د اداري له کارونو او څېړنو سره آشنایی پیدا کړی وی، ستاسي څرګندونی او غوښتنې زمونږ لپاره ډېر د ارزښت وړ دی، ستاسی وړاندیزونه له مونږ سره مرسته کوی ترڅو خپل هدف په ښه ټوګه تعقیب او د خپلو کارونو لاسته راوړنې په ښه څیر د خپلو خبرونو له لوستونکو سره شریکې کړو.

ترټولواسانهلاردځرګندونولپارهستاسيغوښتنیدبرښنالیکلهلاری areu@areu.org.af همدارنګهتاسيکولایچېلهمونږسرهپهاړیکهکېشي ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹ (۰) ۹۳+

- تاسيپهخپلواکه  توګهنظرورکولایشی،اماستاسیځوابونهاومعلوماتپه  دیاړهزمونږلپارهډیرارزښناک  تمامیږی
- له دی اداري او ددی اداری له څیړنوسره څنګه آشناشوی (دخپرونو له لاری، یا ددی اداری په غونډو یا مجلسونو کې ګډون له لاری)
- دافغانستاندڅیړنېاوارزونېداداريلهڅیړنودڅهلپارهاستفادهکوی
- دافغانستاندڅیړنېاوارزونېداداريڅیړنېڅنګهترلاسهکوی
- آیالهخپرونونهپهبرښنایيیاچاپیڅیراستفادهکوی
- دخپرونومعلوماتتاسو ته څه دول وړاندیشی
- ستاسووړاندیزنهددیاداریدڅیړنوپهاړهڅهشیدی
- د افغانستان د څیرنی او ارزونی د اداری کومه خپرونه یا پیښه تاسوته په زړه پوری ده؟
- ستاسيپهباورپهکوموموارددوکېزمونږکارونهګټورتمامیږی
- علاقه،ددندی ساحه اویاستاسی دمطالعیځای

## د افغانستان دڅېړنې اوارزونې واحد خپرونې

| نېټه | د خپرونې نوم | ليکوال | پښتو | دري | دڅېړنې موضوع | د څېړنې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| دسمبر ۲۰۱۴ | کوچنيان ولې يوازې سفر کوي؟ د کوچنيانو، کورنيو او له افغانستان څخه د استوونکو ټولنو له نظره اروپا او نورو صنعتي هيوادونو ته د تګ انګيزې | چونا آر. اچاويز جنيفر لين ال بګاپورو ليحه ويلفردا رى پيلانګو شکريه آزادمنش | ✓ | ✓ | کډوالي او نړيوالې شبکې | تحليلي څېړنه |
| نوامبر ۲۰۱۴ | د پياز ټولنيز اهميت: د افغانستان په ننګرهار کې د پيازو د بازار غير رسمي قواعد او مقررات | جوليا مينويا او ادم پين | | | پايښت لرونکی معيشت | کاري قاعده |
| نوامبر ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د ښځو او رهبريت: درسونه او وړانديزونه | آريه نجات | ✓ | ✓ | جندر | پاليسي پاڼه |
| نوامبر ۲۰۱۴ | د ښاريانو اساسي حقونو ته يوه کتنه: ننګوتې او فرصتونه | داکتر رنګين دادفر سپنتا | ✓ | ✓ | حکومتداری | موضوعي څېړنه |
| سپتمبر ۲۰۱۴ | ناهيليتوب يا اميدواري؟ کليوال اقتصاد او د اپيمو اوښتونکی حالت | پاول فيشستين | ✓ | ✓ | د طبيعی سرچينو مديريت | ترکيبی څېړنه |
| سپتمبر ۲۰۱۴ | د معيشت د خونديتوب ډله ايزه څېړنه، د افغانستان د څېړنې پروګرام | چونا ايچاويز | | | پايښت لرونکی معيشت | برشور |
| سپتمبر ۲۰۱۴ | جنډر، ځوانان او ښاري مارکيټ کی ګډون: د ګنډنی د سکتور بيلګي په کابل افغانستان کی | آدم پين او ريچارد مالت | | | پايښت لرونکی معيشت | کاري قاعده |
| سپتمبر ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د اوبو په تړاو د لانجو د حل د بهير د پېچلتياوو سپړنه | ونسنت تاماس | ✓ | ✓ | د طبيعی سرچينو مديريت | پاليسي پاڼه |
| آگست ۲۰۱۴ | د افغانستان اساسي قانون لس کلن شو: کومې ستونزې مطرحې دي؟ | محمد هاشم کمالی | ✓ | ✓ | حکومتداری | تحليلي څېړنه |
| آگست ۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنيزو ښخړودحل لپاره د ميکانيزمونو وضعيت | اروني جياکودی | ✓ | ✓ | حکومتداری | پاليسي پاڼه |
| آگست ۲۰۱۴ | ناهيليتوب يا اميدواري؟ له ۱۳۹۳م (۲۰۱۴) کال څخه وروسته په افغانستان کې د کوکنار کښت | پاول فيشستين او ديويد منسفيلد | ✓ | ✓ | د طبيعی سرچينو مديريت | پاليسي پاڼه |
| جون ۲۰۱۴ | په افغانستان کې ولايتي سياست او حکومتولي: دننګرهار ولايت بېلګه | اشلي جکسن | ✓ | ✓ | پايښت لرونکی معيشت | موضوعي څېړنه |
| جون ۲۰۱۴ | د ګردی ميز بحث: دافغانستان د ټولټاکنو تجربې | د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد | | | حکومتداری | د ګردی ميز د بحث جريان |
| جون ۲۰۱۴ | له بدو بې بدتر کړ» د نښتو په ولايتونو هلمند او ننګرهار کې د کوکنارو کر ته پام | ديويد منسفيلد | ✓ | ✓ | د طبيعی سرچينو مديريت | موضوعي څېړنه |
| مې ۲۰۱۴ | افغانستان: د کليو د جلاکولو او ارزوني لپاره د يوې طريقې جوړول | آدم پين | | | پايښت لرونکی معيشت | کاري قاعده |
| مې ۲۰۱۴ | د الف څخه تر يا د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود دولسمه ګنه ۲۰۱۴ | د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد | ✓ | ✓ | | کتاب |
| مې ۲۰۱۴ | افغان ملی پوځ له مالي اړخونو ها خوا د پايښت پروړاندې پرتې ننګونې | انتونيو جيستازی او پيتر کوينتن | ✓ | ✓ | حکومتداری | تحليلي څېړنه |
| اپريل ۲۰۱۴ | ټولنيز ملاتړ او د کار پروګرامونه څنګه په ټولنيزيوځايوالي کې ونډه اخلي؟ د افغانستان، بنګله ديش، هند او نيپال څخه شواهد | بابکن بابا جانيان، جسيکا هاګن-زانکر او ربيکا هولمز | ✓ | ✓ | جندر | ترکيبی څېړنه |
| اپريل ۲۰۱۴ | په افغانستان کی د برک BRAC د ژوندانه د مهارتونو د زده کړواو کاري مهارتونو د روزنې ونډه په تولنيز مشارکت کی | چونا اچاوز ،بابکن بابه جانين ،جسيکا هيګن زنکر | ✓ | ✓ | جندر | پاليسي پاڼه |
| اپريل ۲۰۱۴ | د کار او اشتغال موندنی کړنلاری څرنګه په افغانستان کې له ټولنيز ادغام سره مرسته کوی؟ د BRAC )برک( د ژوند د روزنيزو مهارتونو او د ځوانو ښځو د معيشت لپاره د زده کړی بيلګی | چونا آر. ايچاويز، بابکن بابا جانيان، جسيکا هاګن-زانکر، شاهين اکتر، او جنيفرباګوپورا | ✓ | ✓ | جندر | موضوعي څېړنه |
| اپريل ۲۰۱۴ | د خاورې ارزونه: په ۲۰۱۳ کال کې د بلخ او بدخشان په ولايتونو کې د کوکنارو کرکيله | پاول فيشستين | ✓ | ✓ | د طبيعی سرچينو مديريت | موضوعي څېړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنيزو شکايتونو په اړه قضاوت او د قانون د نه مراعاتولو خطرونه | غزال حارث | ✓ | ✓ | حکومتداری | موضوعي څېړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | په افغانستان کې حکومتولۍ ته يوه کتنه | آريه نجات | ✓ | ✓ | حکومتداری | تحليلي څېړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو ( پانګونو ) پرمختګ او سيمه ييزه سوداګري | مجيب مشعل | | ✓ | سياسی اقتصاد | کاري ليکنه |

AREU

څېړنې د ښه افغانستان لپاره

ټولی خپرونې په دغه پاڼه کې د راښکته کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته راوړی شی.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم موجودی دی.


**افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**
دحاجي یعقوب له څلور لارى څخه د شهید د
څلورلاري په لور، کین اړخ ته دریمه کوڅه، ۱۴۴
کور، نوی ښار، کابل، افغانستان
تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰)۹۳+
بریښنالیک:publications@areu.org.af
ویب پاڼه:www.areu.org.af


۱۲ کاله
باکیفیته څېړنه